باچا خان

عهد ساز شخصیت

ډاکټر محمد همایون هما

Ketabton.com

حمٰنِ الرّحِیمُ

ونه د مؤلف دي

عهد ساز شخصیت

مد همایون هما

میا عنوان الدین کاکا خیل

ما

قت هما

امل(03005729287)

ي ۲۰۱۳ء)

و زر)

ی

ه مینه شیخ ملتون ، مردان

هال ، بغداده مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړون

د باچاخان د هغه تړلو ملګرو په نوم چې د ازادۍ د
جنګ په هر سنګر ئې ورسره ملاتړ کړے دے.

هما

سوغات

قدرمند ډاکټر فضل رحيم مروت
ته په ډېر درناوي دا کتاب سوغات
کوم چې د باچا خان د ويژن خپرونه
ئې په علمي انداز کښې کړي ده.

هما

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشکر

د خپلو بچو عظمت هما ، حرمت هما او د ډاکټر شفقت هما شکر ګزار يم چي د دوي په لګښت دا کتاب چاپ شۀ

هما

ترتيب

شمبر	ليك	ليكونكے	مخ
1	خپلي خبري	ډاکټر محمد همايون هما	5
2	د باچا خان ژوند	د مياشتاو کال په ائينه کښي	10
3	كاش چي هغه بيا هم راهنما وے	قلندر مومند	35
4	باچا خان او د هغۀ خدايي خدمتګار تحريك	پروفېسر ميا عنوان الدين کاکا خېل	48
5	طنز او مزاح د باچا خان په خبرو كښي	م.ر.شفق	60
6	د باچا خان تحريك او پښتو ادب	ميا وكيل شاه فقير خېل	82
7	د باچا خان بابا خبري	ډاکټر محمد زبير حسرت	115
8	د باچا خان متحرك ژوند د هغوي د خودنوشت په رڼا كښي	عظمت هما	141

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې خبرې

تېر کال (۲۰۱۲ء) د جنورۍ په وروستیو ورځو کښې ما د ګران ډاکټر سعید انور چې په عبدالولي خان یونیورسټۍ کښې د فېکلټي اف سائنسز ډین دے، ته د باچا خان د کلیزي دستوري په موقع د یو ادبي سیمینار نمانځلو خبره وکړه. خدائے دې بختور کړي ، هغه زما خبره سمدستي ومنله خو د نېټې ټاکلو فېصله د یونیورسټۍ وائس چانسلر قدرمند ډاکټر احسان علی ته ځنډ کړې شوه. هغه په دغه ورځو کښې د ملك نه بهر وۀ. کله چې راستون شۀ نو ما هغۀ ته دغه تجویز وړاندې کړۀ او ورته مې ووئیل چې په دستوره کښې به د باچا خان ادبي او تعلیمي خدماتو باندې خبرې کېږي. د هغۀ سیاسي جدوجهد خو هر چا ته څرګند دے خو د ژوند په دغه اړخ ئې د کار ښۀ ډېر زیات ګنجائش موجود دے. دا تحقیق به کۀ هر څو څۀ نوي انکشافات نۀ وي خو په وړومبي ځل به په دغه موضوع یوه کوټلې هڅه ضرور وي. ښاغلي ډاکټر زما دتجویز سره اتفاق وکړۀ او بیا مونږ په صلاح د دستورې د پاره د دویمې فرورۍ ۲۰۱۲ء ورځ غوره کړه. ما د وائس چانسلر د راکړې اختیار تر مخه د باچا خان په تعلیمي او ادبي ډګر د خدماتو په موضوع یو څو پوهانو ته د لیك باقاعده خواست

وکړۀ ، هغوي ټولو ښه په مینه مقالې ولیکلې او په وخت ئې راورسولې. د یونیورسټۍ ځنې کارنده ملګرو د دستورې انتظامي امورو کښې په ډېره مینه ، توجه او جذبې سره برخه واخسته خو د دستورې د پاره د ټاکلې شوې نېټې نه یوه ورځ وړاندې داسې مسئلې سېلمه شوې چې بیا د دغې علمي او ادبي سیمینار انعقاد ممکن نۀ وۀ او مونږ ډېر په مات زړۀ د دستورې په منسوخ کولو مجبور شو. دستورې د پاره چې پوهانو زما په خواست کوم درانۀ علمي لیکونه راکړې وو، کۀ هر څو د دستورې ناڅاپي منسوخ کولو په وجه په هغه وخت مینه والو ته وړاندې نۀ کړې شو خو د هغې خوندې کول زما په نظر کښې مناسب نۀ وو نو ځکه ما دغه لیکونه په کتابې صورت کښې د چاپ کولو فېصله وکړه. کار بل کال ته وځنډېدۀ چې وجه ئې زما خپله نا اوزګارتیا وه خو زۀ په دې خبره ډېر خوشحاله یم چې دغه ټول لیکونه اوس د باچا خان په پینځویشتمه کلیزه دستوره "باچا خان عهد ساز شخصیت" په نوم چاپ کېږي. په ذکر شوې دستوره کښې په ټاکلې شویو موضوعاتو وینا د پاره درې ملګرو ته خواست شوے وۀ خو په کتاب کښې مونږ د باچا خان د ژوند په حقله ځنې نور لیکونه هم شامل کړې دي چې د کتاب ارزښت پرې زیات شوے دے. د باچا خان ژوند " د میاشت او کال په ائینه کښې" د ډاکټر زبېر حسرت راغونډ کړې معلومات دي چې په کښې د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر زبير حسرت د باچاخان بابا خبرې، کښې د باچاخان د لیکونو نه په ډېره خوارۍ هغه برخې راغونډې کړې دي کومې چې زمونږ د دغه لوړ سياسي او سماجي شخصيت د نظرياتو څرګندونه کوي ، د هغهٔ سياسي وژن ترې بربښي او دا ښايي چې باچاخان خپل سياسي جدوجهد او د قام د ښېګړې کارونه په کومو بنيادونو روان کړي وو.

د باچاخان متحرك ژوند ، د هغهٔ د خودنوشت په رڼا کښې ، د عظمت هما يو معلوماتي ليك دے. عظمت هما لکه څنګه چې پخپله ليکلي دي ، د خودنوشت يو مقصد د يو اتل د ټول ژوند د تعميري کوششونو بيان وي نو ځکه ليکونکي د باچاخان د خودنوشت ''زما ژوند او جدوجهد'' زړهٔ پورې جائزه اخستې ده. په دغه کتاب کښې کهٔ يو بله د ملك د ازادۍ اماني تاريخ خوندي دے نو ورسره د هغې شواخون او کړاو هم تفصيلات درج دي چې زمونږ ملي اتل او د هغهٔ ملګرو په دغه لاره کښې ګاللي وو. د نظر لاندې مضمون کښې د خودنوشت په دغې ټولو اړخونو په اجمالي ډول څرګندونه شوې ده.

کتاب ستاسو د وړاندې دے . زهٔ کهٔ باچاخان عهدساز شخصيت ته د خپل نوعيت وړومبۍ هڅه ووايم نو بې ځايه به نهٔ وي. دا يو څرګند حقيقت دے او څوك هم پرې سترګې نهٔ شي پټولې چې د ملك د ازادۍ په تحريك کښې د باچا خان برخه، شواخون او قربانۍ يو بې مثله مثال دے ، يو ناوياتو

ستر ملي اتل او قامي مبارز د ژوند واقعات په تاريخي ترتيب وړاندې کړې شوي دي ، ليك د باچا خان د ژوند په مختلفو اړخونو تحقيق د پاره د اهميت وړ دے.

کاش چې هغه بيا هم راهنما وے، دا د قلندر مومند ليك دے چې پښتون کښې چاپ دے خو مونږ ئې دلته د ډاکټر زبير حسرت په شکريه بيا چاپ کوو. په دې ليك کښې د باچا خان د ملي جدوجهد بيان په ډېر اثري ډول زمونږ مخې ته راځي. پروفيسر ميا عنوان الدين کاکا خيل په اختصار خو د جامعيت د ټولو خوبويو سره د باچا خان په کارنامو خبرې کړې دی. د م. ر. شفق ليك، طنز او مزاح د باچا په خبرو کښې د باچا خان د امروزه ژوند ائينه ده چې په کښې د هغهٔ د شخصيت د مجلسي ژوند عکسونه په وړومبي ځل لوستونکيو ته وړاندې کړې شوي دي. دغې خبرو د شفق د ليك خوږلت/ خوند نور زيات کړے دے.

د باچا خان تحريك او پښتو ادب د خوارې کښ محقق مياوکيل شاه فقير خيل ليك دے، ښاغلي ليکونکي په خپل جامع مضمون کښې په هغه ټولو عواملو د کوټلې حوالو سره ښهٔ په تفصيل بحث کړے دے چې د خدايي خدمتګار د عروج په وخت کښې ئې پښتو ادب شتهٔ من کړے او په وړاندې بوتلے وهٔ، د نظر لاندې ليك کښې د باچا خان په تعليمي خدماتو هم رڼا غورځولې شوې ده چې ډېر زيات ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ دے او زهٔ د دغې تاریخ یو اړخ د هغې ټولو ملګرو د تشکر سره تاریخ ته سپارم چې ماته ئې د دې کتاب د پاره خپل درانهٔ لیکونه پېرزو کړي دي او د کتاب په ترتیب او تدوین کښې ئې زما مرسته کړې ده ـ زهٔ د عبدالولي خان یونیورسټۍ مردان د نهٔ ستړې کېدونکي وائس چانسلر ډاکټر احسان علي په خصوصي توګه شکریه ادا کوم ، هغهٔ کهٔ چرې تېر کال د باچاخان د کلیزې دستورې د نمانځلو د پاره "بنه" نهٔ وې کړې نو د دې کتاب ترتیب به ممکن نهٔ وهٔ ځکه چې ټول لیکونه د هغه "بنه" په نتیجه کښې لیکلي شوي دي ـ دغه شان د ډاکټر سعید انور شکریه هم په ما واجب ده ځکه چې د دستورې په حقله ئې زما د تجویز په عملي کولو کښې مرسته کړې وه ـ

ډاکټر محمد همایون هما

هسکه مېنه شېخ ملتون مردان

۳مه جنوري ۲۰۱۳ء

باچاخان عهد ساز شخصیت

د باچا خان ژوند

(د میاشت او کال په ائینه کښې)

1889-90	خان عبدالغفار خان په اتمانزو چارسده کښې پیدا شهٔ
1896	جومات کښې ئې د قران کریم زده کړه شروع کړه
1898	په میونیسپل روډ هایي سکول پېښور کښې داخل کړے شهٔ
1901	په ایډورډز مشن هایي سکول ګوهاټي ګېټ پېښور کښې داخل کړے شهٔ E F E WIGRAM هغه وخت د دې سکول هېډ ماسټر وهٔ
1906	د ارمي د کمېشن اخستلو نه پس ئې انکار وکړهٔ
1908	اسلامي سکول علي ګړه ته لاړهٔ
1909	انګلستان کښې ئې د تعلیم کولو فېصله وکړه
1910	په خپل کلي اتمانزو کښې ئې یو سکول د مولانا عبدالعزیز په ملګرتیا کښې شروع کړهٔ
1912	د رځړو د یار محمد خان د لور سره ئې وادهٔ وشهٔ
1912	د حاجی صاحب د ترونګزو په اصلاحي تحریک کښې شامل شهٔ
1913	د مسلم لیګ یو اجلاس له اګرې ته لاړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

1913 مشر ځوے عبدالغني خان پیدا شۀ

1914 د مولوي فضل ربي او مولوي فضل محمود سره د شیخ الهند محمود الحسن په بلنه دیوبند ته لاړۀ

1914 د چیلي اېستو د پاره باجوړ ته لاړۀ

1915 انګرېزانو د اتمانزو په ازاد سکول پابندي ولګوله

1915 دویم ځوے خان عبدالولی خان پیدا شۀ

1918 کور والائي وفات شوه

1919 د رولټ اېکټ خلاف ئې د سیاسي ژوند اغاز وکړۀ

1919 ګرفتار شۀ او د دېرشو زرو په ضمانت پرېښودې شۀ

1919 دویم واده ئې وکړۀ

1920 خلافت کانفرنس کښې شرکت د پاره دهلي ته لاړۀ

1920 افغانستان ته په هجرت لاړۀ

1920 صوبایي خلافت کمیټي جوړه شوه او د هغې صدر منتخب کړے شۀ

1920 د خلافت تحریك د پاره ئې د چندې راټولولو مهم شروع کړۀ. دا رقم به په هغه مدرسو لګولې

شۀ چې کومې چې حکومت په ۱۹۱۴ کښې بندې کړې وې

1921 تحریك اصلاح الافاغنه جوړ کړۀ او د هغې ورومبے صدر ئې عبدالاکبر خان او د پښتو ژبې ورومبے ډرامه نګار میا محمد شاه د هغې سېکرټري جنرل مقرر او محمد اکبر خان خادم د شاعر په حېث مقرر شۀ

1921 په ۱۷م دسمبر ۴۰ ایف سي ار د لاندې ونیولے شۀ او درې کاله بامشقته قید کړلے شۀ. د دۀ خلاف الزامونه دا وو چې د هجرت په تحریك کښې لویه برخه اخستې وه او دوباره ئې اتمانزو کښې ازاد سکول شروع کړے وۀ

1921 حکومت د هغۀ د مشر وړور ډاکټر خان صاحب د نورو پښتنو مشرانو په ذریعه په جېل کښې هغۀ ته وې چې مونږ تا ته د ازاد سکولونو چلولو اجازت درکوو خو د ملك نه به بهر دورې نۀ کوې
.

1922 هغۀ په جېل کښې وۀ چې د دویم جنګ تېر نه ئې درېم ځوے عبدالعلي خان پیدا شۀ چې په مشهور ماهرِ تعلیم دے او د پېښور یونیورسټۍ او ګومل یونیورسټۍ وائس

(c) ketabton.com: The Digital Library

چانسلر پاتې شوے دے

1923 چې کله د ډېره غازي خان په جېل کښې وۀ نو مور بي بي ئې وفات شوه

1923 د هغۀ مشر وررو ډاکټر خان صاحب د لندن د سېنټ تهامس هسپتال نه ډاکټري وکړه او هلته ئې د يوې انګرېزې سره په دويم ځل وادۀ وکړۀ. د هغې نه د ډاکټر صاحب يو ځوے جان خان او يوه لور مريم وه. مريم بيا يو سکھ سره وادۀ وکړۀ

1924 د جېل نه رها شۀ

1924 د جېل نه په واپس راتلو ، ورته د اتمانزو يوې جرګې د فخر افغان خطاب ورکړۀ

1924 په صوبه کښې د جوړو شويو ازادو سکولونو چې خدايي خدمتګارانو چلولو د هغې په دوره روان شۀ

1926 د ال انډيا کانګرس د تحريك خلافت په حقله په کلکته کښې کېدونکي اجلاس له لاړۀ

1926 د باچا خان بابا پلار بهرام خان وفات شه

1926 د خپل تبر او مشرې خور سره حج له لاړه

1926 د حج ادا کولو نه پس سره د خپل کور واله هلته ايسارا شۀ او د سعودي عرب او فلسطين

مختلف ځايونه ئې وکتل ، هم هلته ئې کور والا په حق ورسېده او په بيت المقدس کښې دفن کړې شوه

1928 چې کله واپس راغلو نو په مئي ۱۹۲۸ء کښې ئې يوه رساله د "پښتون" په نوم جاري کړه

1928 باچا خان د انجمن نوجوانان صوبه سرحد په نامه يو تنظيم جوړ کړۀ

1928 د ملګرو سره د کلکتې ته د خلافت کانفرنس له لاړۀ هلته ئې د مولانا ظفر علي خان ، علامه اقبال او علي بردارانو سره د سرحد او افغانستان په حقله خبرې اترې وشوې

1928 په ۱۱م نومبر د کانګرس د صوبايي کمېټۍ صدر وټاکلے شۀ

1929 د کانګرس سالانه اجلاس کښې د شرکت د پاره لاهور ته لاړۀ ، چې په هغې کښې د ټول هندوستان د ازادولو غوښتنه وشوه

1929 د کانګرس اجلاس له لکهنو ته لاړۀ چې په ورومبي ځل ئې مهاتما ګاندي او جواهر لعل نهرو سره ليدل کتل وشو

1929 په افغانستان ئې د بچه سقه خلاف د نادر خان فتحه د نورو خدايي خدمتګارانو سره ونمانځله

(c) ketabton.com: The Digital Library

1929 د ټول هندوستان دوره ئې په دې غرض وکړه چې د افغانستان د پښتنو په حقله نورو خلقو مرسته نوره هم تېزه او تنده کړي

1929 د نوجوانان صوبه سرحد تنظیم له ئې د یو غېر سیاسي تنظیم "خدایي خدمتګار تحریك" نوم ورکړۀ چې وروستو دا تنظیم د پېرنګي د ظلمونو له وجې یو سیاسي تحریك شۀ. بابا په خپله د دې تنظیم سالار اعظم وۀ

1929 کلي په کلي وګرځېدۀ چې خلقو کښې خدایي خدمتګار تحریك معرفي کړي

1929 د خلافت تحریك د کانګرس سره د اختلاف راتلو له وجې ئې د خلافت کمېټۍ د صوبایي صدرات نه استعفیٰ ورکړه

1929 په اتلسم او نولسم اپرېل په اتمانزو کښې د خدایي خدمتګار تحریك یوه غونډه وکړه چې په کښې دوه سوه سرخپوش شریك شو

1929 په ستمبر کښې ئې د خدایي خدمتګار سیاسي خانګه د زلمو جرګه په نوم پرانسته چې وروستو بیا د هغې نوم افغان جرګه کېښودې شوه

1930 په دروېشتم اپرېل ئې په اتمانزو کښې یوه جسله وکړه او خلقو ته ئې د حکومت خلاف په سول

نافرمانۍ کښې د شریکېدو خواست وکړۀ

1930 په دروېشتم اپرېل سره د ملګرو پولیس په نحقۍ کښې د ایف سي ار لاندې ګرفتار کړۀ او درې کاله قېد کړے شۀ

1930 میاشتنۍ پښتون مجله بنده کړې شوه

1930 د هغۀ د ګرفتارۍ خلاف په دروېشتم اپرېل د قصه خوانۍ دردناکه پېښه وشوه

1930 د مئي په دویم تاریخ د پښتونخوا خلقو د حکومت خلاف هړتال وکړۀ

1930 د مئي په دیارلسم تاریخ حکومت اتمانزو کلے محاصره کړۀ چې خلق په دې مجبور کړي چې هغوی خدایي خدمتګاري پرېږدي

1930 په اتویشتمه مئي د ټکر پېښه رامېنځ ته شوه د قېد دوران کښې باچا خان کانګرس سره خبره وکړه چې کۀ هغوی زمونږ امداد کوي نو هغوی به خپل تحریك په کانګرس کښې مدغم کړي

1931 د یو کال قېد نه پس د ګاندهي جي ارون پېکټ تر مخه د ډېره غازي خان جېل نه رها کړے شۀ

1931 په مارچ کښې د کانګرس په کراچۍ کښې کېدونکي اجلاس له په ورومبي ځل د هغوی په بلنه د سلو خدایي خدمتګارو سره شریك شۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

1931 په اپرېل کښې دهلي ته د کانګرس اجلاس له لاړۀ

1931 په مئي کښې یو ځل بیا "پښتون مجله" د عبدالخالق خلیق په ادارت کښې شروع شوه

1931 په نهم جون د ګاندهي جي سره د کانګرس ورکنګ کمېټۍ اجلاس له لاړۀ

1931 په جولايي کښې د ګاندهي جي ځوے دېوداس ګاندهي د پښتونخوا د حالاتو معلومولو د پاره پېښور ته راغے او په اتمانزو کښې د بابا سره دېره شۀ

1931 حکومت د خدايي خدمتګار تحريك د اثر رسوخ ختمولو په غرض خاکسار تحريك شروع کړۀ او د پېښور ګورنمنټ هايي سکول هېډماسټر عنايت الله مشرقي ئې د هغې وړومبے صدر مقرر کړۀ

1931 په دېرشمه جولايۍ د صوبې چيف کمشنر سر سټيورټ پيئرز د باچا خان سره انټرويو وکړه

1931 په ديارلسم اګست باچا خان بمبۍ ته د ال انډيا کانګرس اجلاس له لاړۀ ، په دغه اجلاس کښې فېصله وشوه چې په صوبه سرحد کښې دې يوه نوې کمېټي د سرحد کانګرس کمېټۍ په نوم يا

باچاخان عهد ساز شخصیت

د سرحدي جرګه په نامه جوړه شي

1931 په پنځويشتم اګست د ګاندهي جي او جواهر لعل نهرو په ملګرتيا کښې د وائسرائے سره متهينګ له شملې ته لاړۀ

1931 په څليرشتم دسمبر په تحريك پابندي ولګېده او په خپل کور کښې ګرفتار شۀ او د درې کاله قيد بامشقت سزا ورکړې شوه

1932 په دسمبر کښې بيا يو ځل پښتون مجله د حکومت د جبر ښکار شوه او بندېز پرې ولګېدۀ

1934 په اوولسم اګست ئې د ګاندهي جي د روژې نيولو په وجه هغۀ سره د همدردۍ کولو د پاره يوه هفته روژې ونيولې

1934 په وويشتم اګست د درې کاله قيد تېرولو نه پس رها شۀ خو خپلې صوبې ته په تللو ئې پابندي ولګولې شوه او پنجاب کښې نظر بند کړے شۀ

1934 په دېرشم ستمبر ئې په کلکته کښې عوامو ته د يوې جلسې په دوران کښې په هندو مسلم اتحاد باندې خطاب وکړۀ

1934 په بمبۍ کښې ئې يو اجلاس ته خطاب وکړۀ د هغې په وجه حکومت په يو پې واردها کښې په ووم دسمبر ګرفتار کړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

1936 په اګست کښې رها کړے شۀ خو لا په خپله صوبه او پنجاب تللو ئې پابندي وه ، د دې وجې نه دوباره ورادها ته لاړۀ او ګاندهي جي سره د یره شۀ

1937 په فرورۍ کښې عام انتخابات وشو چې پکښې خدايي خدمتګارو په پنځوسو کښې په نولسو سیټونو کامیابي حاصله کړه

1937 په مارچ کښې د ګاندهي جي سره ال انډیا کانګرس اجلاس له دهلي ته لاړۀ

1937 په سرحد او پنجاب تللو چې کومه پابندي پرې لګېدلي وه هغه په شپږویشتم اګست پورته کړې شوه

1937 شپږ کاله بهر تېرولو نه پس د ګاندهي جي سره خپلې صوبې ته راغلو او خان عبدالولي خان په اتمانزو کښې د دواړو استقبال وکړۀ

1937 سرحد ته د راتلو نه پس ئې فیصله وکړه چې د ټولې صوبې او بلوچستان دوره وکړي او خدايي خدمتګار تحریك فعال کړي

1938 په وړومبۍ مئي ګاندهي جي د صوبه سرحد اتو ورځو په دوره راغے

1938 په مئي کښې باچا خان بابا بیا پښتون مجله

باچاخان عهد ساز شخصیت

شروع کړه اوس میاشتنۍ نۀ وه بلکې لس ورځې پس به چاپ کېدله او ایډیټر ئې عبدالخالق خلیق صاحب وۀ

1938 د ګاندهي جي سره د ال انډیا کانګرس د ورکنګ کمېټۍ اجلاس له کلکتې ته روان شۀ

1938 ګاندهي جي د صوبه سرحد د یوې میاشتې په دوره د تللو پروګرام جوړ کړۀ

1940 په مارچ کښې باچا خان د ال انډیا کانګرس سالانه اجلاس له رام ګړه بهار ته روان شۀ

1940 باچا خان بابا د کانګرس ورکنګ کمېټۍ اجلاس کښې شرکت وکړۀ ، په دې اجلاس کښې په صوبه سرحد کښې د سول نافرمانۍ د تحریك شروع کولو کار ورته وسپارلے شۀ

1940 یو وار بیا پښتون رساله بنده کړې شوه

1941 په دریشتم دسمبر باردولي ته د ورکنګ کمېټۍ اجلاس له لاړۀ

1941 باچا خان بابا په ټوله پښتونخوا کښې د خدايي خدمتګارو د پاره ټرېننګ کیمپونه پرانستل

1942 ګاندهي جي او باچا خان بابا دواړو د ال انډیا کانګرس نه استعفیٰ ورکړه ځکه چې هغوي حکومت سره په دویم عالمي جنګ کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعاون اعلان وکړۀ

1942 په جولايۍ کښې باچا خان بابا د خدايي خدمتګارو د پاره د پېښور نه څوارلس ميله لرې په سردرياب کښې يو مرکزي دفتر د مرکز اعلیٰ خدايي خدمتګاران په نامه جوړ کړۀ

1942 په ووېشتم اکتوبر باچا خان سره د نورو خدايي خدمتګارانو د چارسدې نه مردان د تللو په وخت ميروس ډېرۍ کښې د'' هندوستان پرېږدۍ تحريك'' په وجه د پوليس نه وهل وخوړل چې په هغې کښې دوه پُښتۍ ماتې شوې او هري پور جېل ته بوتللے شۀ او دوه کاله قېد کړے شۀ

1945 ډاکټر خان صاحب د لارډ کننګم په دعوت په صوبه سرحد کښې خپل وزارت جوړ کړۀ

1945 په وولسم مارچ د لارډ ويول د اعلان تر مخه د نورو قيديانو سره رها کړے شۀ

1945 باچا خان بابا او ګاندهي جي د کانګرس او د هغې د ورکنګ کمېټۍ نه د وتلو نه پس په بمبۍ کښې بيا په کانګرس کښې شامل شو

1945 په مئي کښې باچا خان بابا بيا د پښتون اجرا وکړه خو دا ځل د هفته وار اخبار په شکل کښې وه

1945 په پنځويشتم جون باچا خان بابا او ډاکټر خان صاحب په شمله کښې د ويول په کانفرنس کښې د کانګرس د نمائندګانو په حېثيت شريك شو

1946 باچا خان بابا د انډيا د مرکزي پارلېماني اسمبلۍ ممبر وټاکلے شۀ

1946 د حکومتي مسئلو باندې د خبرو اترو کولو د پاره باچا خان بابا دهلي ته د ګاندهي جي ملاقات له لاړۀ

1947 په دوويشتم اپرېل باچا خان بابا ورومبي اېشين ريلېشن کانفرنس ته خطاب وکړۀ

1947 په مئي کښې د پښتون زلمے په نوم يو تنظيم باچا خان بابا په خپله رهنمايۍ کښې جوړ کړۀ او د هغې مشري ئې خپل مشر ځوي عبدالغني خان ته وسپارله

1947 په يوويشتم جون باچا خان د پښتونستان مطالبه په بنو کښې وړاندې کړه چې وروستو د بنو قرارداد په نوم مشهوره شوه

1947 باچا خان بابا د ګاندهي جي ، لارډ ماونټ بېټن او محمد علي جناح سره په يو اجلاس کښې شرکت وکړۀ ، کانګرس ته په صوبه سرحد کښې د ريفرېنډم کولو کار وسپارلے شۀ خو باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا د دې نه بائيکاټ وکړۀ

1947 د پاکستان جوړېدو نه پس په دوويشتم اګست حکومت د ډاکټر خان صاحب وزارت مات کړۀ او د هغۀ په ځاے ئې عبدالقيوم خان راوستۀ

1947 په دوېم او درېم ستمبر باچا خان په پاکستان کښې دننه د يو رياست پښتونستان مطالبه وکړه

1948 باچا خان بابا د قامي اسمبلۍ اجلاس کښې د شرکت کولو د پاره کراچۍ ته لاړۀ

1948 په درېمه فرورۍ باچا خان د ورومبي پارليماني اسمبلۍ د غړي په حېثيت حلف اوچت کړۀ

1948 په پينځم مارچ ئې قامي اسمبلۍ ته په اردو کښې خطاب وکړۀ

1948 د مارچ په مياشت کښې باچا خان د پيپلز پارټۍ په نوم يوه پارټي جوړه کړه چې عبدالصمد خان اچکزے ، عبدالمجيد سندهي، جی ايم سيد ، شيخ هشام الدين دوي هم ورسره ملګري وو. باچا خان متفقه توګه باندي د دې صدر منتخب شۀ

1948 د اپريل په منځومانه کښې جناح صاحب صوبه سرحد ته راغے ، باچا خان بابا ئې هرکلے وکړۀ

1948 باچا خان بابا ووې چې زۀ خپل تنظيم مسلم ليګ سره شاملول غواړم خو مسلم ليګ دې ته تيار نۀ شۀ

1948 په ديارلسمه مئي باچا خان بابا د خدايي خدمتګار تنظيم په ټول ملك کښې د خورولو اعلان وکړۀ او وې وئيل چې دا خدايي خدمتګار به د نوي جوړې شوې پيپلز پارټۍ رضا کاره ډله وي

1948 په مئي کښې باچا خان بابا خپلې صوبې ته راغلو او په ټوله صوبه کښې ئې د حکومت خلاف تحريك شروع کړۀ

1948 د شمالي علاقو د دورو نه پس باچا خان بابا اراده وکړه چې اوس سوبلي علاقو ته لاړ شي خو د دې نه اګاهو په پينځلسم جون ګرفتار کړے شۀ او دري کاله قيد کړے شۀ

1948 په ځلورمه جولايي د سرحد حکومت د يو اردېننس په ذريعه خدايي خدمتګار تحريك خلاف قانون وګرځولو

1948 په دولسم اګست هر کله چې باچا خان بابا جېل کښې وۀ د بابړې دردناکه واقعه پيښه شوه

1948 د ستمبر په مياشت کښې خدايي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحريك خلاف قانون وګرځولے شۀ او د سردرياب مرکز وران کړے شۀ

1950 د باچا خان بابا درې کاله قيد ختم شه خو ځله د بنګال ريګولېشن ١٨١٨ د لاندې شپږ شپږ مياشتې زيات کړے شۀ

1952 په فرورۍ کښې د بابا پوخ ملګرے او دوست قاضي عطاء الله خان چې د ډاکټر خان صاحب په وزارت کښې وزير تعليم وۀ ، وفات شۀ

1952 د باچا خان بابا په ميو هسپتال لاهور کښې اپرېشن وشۀ

1954 په جنورۍ کښې باچا خان بابا سره د نورو خدايي خدمتګارانو د جېل نه رها کړے شۀ خو د پنډۍ په سرکټ هاوس کښې نظر بند وساتلے شۀ

1954 په مارچ کښې باچا خان بابا ته اجازت وکړے شۀ چې د بنګال اسمبلۍ اجلاس له لاړ شي ،هغۀ اسمبلۍ ته په اردو کښې تقرير وکړۀ او په کښې ئې هغه ټول وجوهات بيان کړل د کومو له وجې چې هغه جېل ته کړے شوے وۀ

1954 باچا خان بابا د ون يونټ مخالفت وکړۀ ، په دې مسئله کښې هغه د خپل وړور ډاکټر خان

باچاخان عهد ساز شخصيت

صاحب مخالف وۀ کوم چې هغه وخت د مغربي پاکستان چيف منسټر وۀ

1955 حکومت د باچا خان بابا خپلې صوبې ته په راتلو پابندي ختمه کړه

1955 په ستمبر کښې باچا خان د صوبه سرحد دورې ختمې کړې او د بلوچستان په دوره د عبدالصمد خان اچکزي په وېنا روان شۀ

1955 بلوچستان ته لا په لاره وۀ چې سره د دوو ملګرو ګرفتار شۀ خو بيا په شپږويشتم ستمبر رها کړے شۀ

1956 په شپاړسم جون باچا خان بابا ملکي سلامتيا ته د نقصان رسولو په الزام کښې په شاهي باغ پېښور کښې ګرفتار کړے شۀ ، دغسې هم په دغه ورځ عبدالصمد خان اچکزے هم په کوئټه کښې ګرفتار کړے شۀ

1956 په شپږم ستمبر په لاهور هايي کورټ کښې د جسټس شبير احمد په عدالت کښې باچا خان بابا کېس شروع شۀ

1956 په شپږم ستمبر باچا خان بابا عدالت ته خپل ليکلے بيان ورکړۀ چې هغې کښې ئې د خپل ټول ژوند حالات ليکلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

1957 په څليرشتمه جنورۍ عدالت باچا خان بابا خوارلس زره روپۍ جرمانه کړۀ چې د هغې د ورکولو نه هغۀ انکار وکړۀ نو د هغۀ جائداد په کښې ضبط کړے شۀ

1957 باچا خان بابا پرېښودے شۀ

1957 په ووېشمته جنورۍ باچا خان بابا په پاکستان نېشنل پارټۍ کښې شامل شۀ چې د شپږو مخالفو سياسي پارټو نه جوړه شوې وه

1957 د باچا خان بابا مشر وروړ ډاکټر خان صاحب په وومه جولايۍ د مغربي پاکستان د وزير اعلىٰ د عهدې نه لرې کړے شۀ

1957 د جولايۍ په مياشت کښې باچا خان بابا ، مولانا بهاشاني، ميا افتخار الدين او جي ايم سيد په ډهاکه کښې په يو کانفرنس کښې عوامي نېشنل پارټي جوړه کړه

1958 باچا خان بابا د "ون يونټ او پښتانۀ" په نوم د ون يونټ خلاف يو پمفلټ چاپ کړۀ

1958 په ديارلسم ستمبر باچا خان بابا بلوچستان ته د داخلېدو په جرم کښې کوئټه کښې ګرفتار کړےشۀ ځکه چې ډسترکټ مجسټرېټ بلوچستان ته د هغۀ په داخله پابندي لګولې وه۔

باچاخان عهد ساز شخصيت

پېښور ته ئې راوستۀ او رها ئې کړۀ

1958 په يولسم اکتوبر باچا خان او مولانا بهاشاني صاحب د نورو اتو لويو لويو ليډرانو په شمول په مشرقي پاکستان کښې د پاکستان سېفټي ايکټ د لاندې ګرفتار کړے شول ، په دې موقع عبدالصمد خان اچکزے هم ګرفتار شۀ او خوارلس کاله بامشقته قيد کړے شۀ

1959 په څلورم اپرېل باچا خان بابا رها کړے شۀ ، هغۀ د ټولې صوبې دوره شروع کړه ، هم په دغه کال باچا خان بابا سره دنورو سياسيانو د ايبډو يعني Elective bodied disqualification order د لاندې تر کال ۱۹۶۶ء پورې نااهل وګرځولې شول

1961 په دولسم اپرېل کښې باچا خان بابا چې کله د سوېلې علاقو په دوره وۀ نو په ډېره اسماعيل خان کښې د Public order ordinance د لاندې ګرفتار کړے شۀ

1962 يو غير سياسي تنظيم "ايمنستي انټرنېشنل" باچا خان بابا Prisoner of the year وګرځولو

1962 د دسمبر په مياشت کښې ايمنستي انټرنېشنل د باچا خان بابا د رها کولو غوښتنه وکړه ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې حکومت به د هغهٔ قید هر شپږ میاشتې پس زیاتولو

1964 په درېرشمه جنورۍ باچا خان بابا د هري پور جېل نه رها کړے شهٔ ځکه د هغهٔ صحت ورځ تر ورځ خرابېدهٔ

1964 په وویشتمه مئي پنډت جواهر لعل نهرو مړ شهٔ ، باچا خان بابا د هغهٔ لور ته د تعزیت د پاره پیغام د تار په ذریعه ولېږهٔ

1964 په ستمبر کښې حکومت باچا خان بابا له برطانیې ته د علاج د پاره د تللو اجازه ورکړه ،په لندن کښې هغهٔ د صوبه سرحد د زوړ ګورنر جنرل اولف کېرو سره ملاقات وکړهٔ

1964 په دولسم دسمبر باچا خان بابا یورپ نه افغانستان ته لاړهٔ

1965 په یو دریشم اګست باچا خان بابا په کابل کښې په پښتونستان چوک کښې د پښتونستان د ورځې نمانځلو کښې شرکت وکړهٔ

1969 د مئي په میاشت کښې د هندوستان حکومت باچا خان بابا له د بین الاقوامي خېر خواهۍ په لړ کښې د هغهٔ د کړو خدماتو په اعتراف کښې " نهرو امن اېوارډ" ورکړهٔ

1969 په جون کښې د هندوستان وزیر اعظمې اندرا ګاندهي په کابل کښې د باچا خان سره ملاقات وکړهٔ او د قران پاك د یوې نسخې نه علاوه ئې ورله د هندوستاني جوړه کپړه په تحفه کښې ورکړه

1969 باچا خان بابا د کابل نه د بیروت (لبنان) په لاره هندوستان ته لاړهٔ

1970 په فرورۍ کښې باچا خان بابا د هندوستان نه واپس افغانستان ته لاړهٔ

1972 په څلېرشتم دسمبر باچا خان بابا د یوې جرګې سره پاکستان ته د اتهٔ کاله جلاوطنۍ نه پس راستون شهٔ - په دې جرګه کښې خان عبدالولي خان، اجمل ختك ، محمد افضل خان، مولانا ګل بادشاه او مولانا عبدالباري شامل وو

1975 په دوېم اپرېل د باچا خان بابا خلاف یو کېس جوړ کړے شهٔ او په دیارلسم اپرېل د خانپور ریسټ هاوس ته ولېږلے شهٔ

1976 په وویشتم اپرېل باچا خان بابا ازاد کړے شهٔ

1977 په ورومبي اکتوبر جنرل ضیاء الحق پېښور ته په دوره راغلے او د باچا خان بابا سره ئې ملاقات وکړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

1978 په دوېم مارچ باچا خان بابا د پاکستان نه افغانستان ته د خپل کتاب " زما ژوند او جدوجهد" ليکلو په غرض روان شۀ

1980 په شپږويشتم مارچ باچا خان بابا د طبعي معائنې د پاره د کابل نه هندوستان ته روان شۀ

1980 د جولايۍ په اتلسم تاريخ د هندوستان نه واپس افغانستان ته لاړۀ

1980 په يوويشتم اګست باچا خان بابا د علاج د پاره روس ته روان شۀ

1980 په يولسم اکتوبر د روس نه افغانستان ته راغلو

1981 په ديارلسمه فرورى باچا خان بابا ناجوړه شۀ

1981 په ديارلسم اګست د افغانستان صدر ببرك کارمل وغوښتو چې په ځنې اهمو مسئلو ورسره خبرې اترې وکړي

1981 په شپږم نومبر د افغانستان نه هندوستان ته روان شۀ

1982 په ورومبۍ جنورى د هندوستان نه افغانستان ته واپس راغے

1982 په دريم مارچ باچا خان بابا په جلال اباد کښې دکټ نه پرېوتو او ژوبل شۀ او د هغې له وجې د کابل په هسپتال کښې داخل کړے شۀ

باچاخان عهد ساز شخصيت

1982 په اتويشتم اپريل باچا خان بابا واپس پاکستان ته راغے

1983 د حکومت له خوا د کالاباغ ډيم جوړولو خلاف ئې تحريك شروع کړۀ

1983 د ټولې صوبې دوره ئې شروع کړه چې د حکومت له خوا د کالاباغ ډيم جوړولو خلاف اولس بيدار کړي

1984 باچا خان بابا د کالاباغ ډيم د مخالفت کولو په وجه په خپل کور کښې نظر بند کړے شۀ

1984 په ورومبي اپريل باچا خان بابا د علاج دپاره افغانستان ته روان شۀ

1984 په شپږمه مئي د افغانستان نه واپس پاکستان ته راغے

1984 په نولسمه جولايۍ باچا خان بابا د عبدالولي خان ، مېرمن نسيم ولى خان او محمد اعظم خان سره افغانستان ته لاړۀ

1984 د ستمبر په نهۀ ويشمته نېټه د افغانستان نه واپس پاکستان ته راغلو

1985 د ال انډيا کانګرس په دعوت باچا خان بابا د سلمې کليزې نمانځلو له په شپږويشتم دسمبر هندوستان ته روان شۀ ، په دغه موقع عبدالولى

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان او د باچا خان نمسے ذوالفقار علی خان هم ورسره وو

1986 د جنورۍ په ځلورم تاریخ باچا خان بابا د هندوستان نه راستون شۀ

1986 باچا خان بابا خپل اخري تقریر د پښتو عالمی کانفرنس ته په نولسم اپریل وکړۀ

1987 د مئي په میاشت کښې باچا خان بابا سخت ناروغه شۀ او د پېښور په لیډي ریډنګ هسپتال کښې داخل کړے شۀ

1987 د جون په ځلورم تاریخ پرې د فالج حمله وشوه ، د هندوستان د حکومت په بلنه د ال انډیا میډیکل انسټیټیوټ اف میډیکل سائنس ته منتقل کړے شۀ چې تر شپاړسم اګسته پورې هلته وۀ

1987 باچا خان بابا له د هندوستان د ټولو نه لوے ایوارډ بهارت رتن ورکړے شۀ

1987 د اګست په میاشت کښې بېرته پاکستان ته راوستلے شۀ او په لیډي ریډنګ هسپتال کښې داخل کړے شۀ.

1988 د اګست نه تر شلمې جنورۍ باچا خان بابا بې هوشه پاتې شۀ او اخر په شلم تاریخ سحرپینځۀ

باچاخان عهد ساز شخصیت

دېرش منټه کم اووۀ بجې ئې ساه ورکړه

1988 په یوویشتمه جنورۍ د بابا جنازه جناح پارک کښې درې بجې ماسپښین ادا کړے شوه

1988 په دویشتمه جنورۍ د خپل وصیت مطابق په جلال اباد کښې په خپل کور کښې خاورو ته وسپارلے شۀ

حوالې:

1. ډي جي ټېنډولکر Faith is Battle
2. فرید احمد ، خان عبدالغفار خان
3. شېرزمان طائزے، Bacha Khan in Afghanistan
4. باچا خان ، زما ژوند او جدوجهد
5. شیلا کور، Khan Abdul Ghaffar Khan Congress Centenary
6. د ارکائیوز لائبریرۍ د باچا خان متعلق دستاویزات
7. اېکنت ایسورن، Badshah Khan

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندر مومند

کاش چې هغه بيا هم رهمنا وي

خان عبدالغفار خان د نن نه يو ولس کاله[١] وړاندې زمونږ نه جدا شهٔ. په هغه ورځ چې کله ما د هغوي د وفات دا غمژن خبر واورېدهٔ نو لکه چې زړهٔ مې اړې اړې شهٔ. باچا خان د پښتون د تاريخ هغه زرين باب دے چې د هغې شروع کېدو سره پښتنو د نوي دور ترقۍ پله ګامونه واخستل. دغه وخت زما په زړهٔ کښې قسم قسم وسوسې پيدا کېدې. ما سوچ کولو چې د پښتنو د انګرېز سامراج د سياسي ، تعليمي، معاشي او ثقافتي استحصال نه بچ کونکے او د پاکستان جوړېدو نه پس د دې تقسيم شوي بدقسمته قوم د راغونډولو د پاره هر وخت متحرك او د ازادۍ د شمعې د پتنګانو سرخېل خو د دنيا نه د تللو نه پس به مونږ څوك د استحصال نه بچ کوي خو وروستو راته دا خبره واضحه شوه چې دا زما جذباتيت وهٔ خو دا هم يو حقيقت دے چې کله د چا پلار وفات شي نو غم او درد صرف

١.دا مضمون په کال ٢٠٠٠ء کښې ليکلے شوے دے (مؤلف)

هغهٔ ته ورسېږي. باقي خلق خو د هغې غم درد نه نهٔ خبرېږي کوم چې د څوي په زړهٔ تېرېږي. د تېرېدونکي وخت د هرې لحظې سره ما د باچا خان سره په تېر شوي ژوند غور کولو او د تېر وخت کړې مې د يو بل سره پيوست کولې او اخر دا چې د تار سر زما ګوتو له راغے. ما چې د باچاخان سره څومره ژوند تېر کړے وهٔ. دې دوران کښې وخت په وخت ماته د دې خبرې احساس کېدهٔ چې مونږ يوه بې بها ملغلره لګيا يو ضائع کوو. د پښتنو يو ښهٔ يا بد عادت دا دے چې هغوي څوك دځان نه زورور نهٔ مني او د ځان نه لوړ سر نهٔ مني او دا صرف د پښتنو پورې محدود نهٔ ده ، د هر انسان دا فطرت دے چې د ځان د پاره د يو ښهٔ مقام سوچ کوي او په دغې لاره کښې چې کوم خنډ مخې له ورځي د هغې لرې کول فرض عين ګڼي. د پښتنو دا بدقسمتي د باچا خان په لړ کښې هم خنډ جوړه شوه او د مير جعفر او مير صادق حواريانو د بهرنو باداړانو د خوشحالولو د پاره د هغوي خلاف يوه بې بنياده پروپېګنډه وکړه او ساده زړې پښتانهٔ ئې د هغهٔ نه متنفره کړل او د يو وړوکي مقام د حاصلولو په خاطر ئې دا قوم د يو عظيم مصلح نه ناخبره وساتهٔ.

باچا خان چې په کومه کورنۍ کښې پيدا شوے وهٔ هغه د خپلې علاقې يوه با اثره کورنۍ وه. د باچا خان پلار بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان د علاقې په لویو خانانو کښې شمېرلے شۀ خو لکه د نورو خانانو ئې چرې هم د انګرېز حکم ته سر نۀ وۀ ټيټ کړے او چې د چرته نه هم ورته يو مظلوم د امداد خواست کړے وۀ نو سمدستي ئې ورله ځان رسولے وۀ. د باچا خان نيکۀ سېف الله خان د سرکاوۍ په جنګ کښې د ازادي خوښو خلقو ملګرتيا کړې وه او د پېرنګي د بونېر قبضه کولو اراده ئې د خاورو سره خاورې کړې وه. د باچا خان مور بي بي هم يوه مېلمه دوسته او د لوے نظر مالکه مېرمن وه. د چم ګاونډ غريبو او خوارو زنانو د پاره به ئې روټۍ په خپله پخوله او په هغوي به ئې تقسيموله. په داسې يو ماحول کښې د باچا خان پالنه وشوه او هغه د يو پښتون قام پرست په شکل کښې مخې ته راغے. هغوي په حالاتو ډېر ژور نظر لرلو او ورته د اول نه د دې خبرې احساس وۀ چې د پښتنو د ژوند په هر اړخ استحصال روان دے او د هغې وجه صرف دا ده چې دوي د علم نه لرې دي. د باچاخان په وختونو کښې د هغوي علاقه په پنجاب کښې شامله وه. پيرنګي په پنجاب کښې يو څوسکولونه جوړ کړي وو خو د بدقسمتۍ نه په دې علاقه کښې داسې څۀ انتظام نۀ وۀ. بل کۀ سکولونه وو هم په هغې کښې تعليم په مورنۍ ژبه کښې نۀ وۀ ځکه نو مقامي خلقو ته به په زدکړه کښې ډېر مشکل پېښېدۀ. بل خوا د مليانو دا پروپېګنډه هم روانه وه چې سبق د مدرسې وئې د پاره د پېسې وئې جنت کښې به ئې

باچاخان عهد ساز شخصیت

ځاے نۀ وي دوزخ کښې به غوټې وئې. دغه شان د اسلام نه ناخبره ملا د خپلې کم فهمۍ او د لږې فائدې د پاره پښتانۀ د تيارو کندې ته غورځولي وو. باچاخان چې به دا حالت ليدو نو ډېر به خفه کېدۀ خو څۀ لار ئې په فهم کښې نۀ راتله. په مشن سکول کښې د تعليم په دوران کښې باچاخان د براه راست کمېشن د پاره درخواست ورکړۀ چې د معمولي کاروايۍ نه پس منظور شۀ. باچا خان به اکثر فرمائيل چې فوځ ته د تلو شوق زما په زړۀ کښې زمونږ د نوکر باراني کاکا قيصو راپېدا کړے وۀ کومې چې به هغۀ ماته کولې. دغې دوران کښې به باراني کاکا منظر کشي هم کوله او د فوځيانو په تعريف کښې به ئې هغه څۀ وئيل چې د ډېرې مبالغې نه به ډك وو. دغه شان په غير محسوسه توګه دا خبرې زما په نفسياتو خورې شوې چې زۀ به هم فوځي افسر جوړېږم خو قدرت ته داسې منظوره نۀ وه. د کمېشن ملاوېدو نه پس باچا خان پېښور ته د يو دوست ملاقات له راغے څوك چې په کېولري کښې افسر وۀ. باچا خان د هغۀ سره ولاړ وۀ او خبرې اترې ئې کولې چې دغه وخت کښې يو انګرېز لېفټېننټ راغے. دغه وخت د باچا خان دغه دوست سرتور سر ولاړ وۀ. ښائسته زلمے وۀ. وېښتۀ ئې ډېر ښۀ جوړ کړي وو او لږ وېښتۀ ئې په تندي پراتۀ وو. انګرېز افسر د يو دېسي افسر دا انداز برداشت نۀ کړے شۀ او سخت غصه شۀ او د باچاخان په وړاندې ئې هغۀ ته ډېر بد رد ووې. د باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست هم دغصې نه تك سور شۀ خو د جواب ورکولو همت ئې نۀ لرلو ـ باچا خان د دې واقعې نه پس ډېر زيات خفه شۀ او د پېرنګي د نوکرۍ نه ئې زړۀ وتکېدۀ ـ باچا خان به يو طرف ته د پښتنو د تېرو وختونو عظمت او دبدبې قرار له نۀ ورکولو او بلې خوا ته د انګرېز سامراج د پښتنو استحصال خوب ته نۀ پرېښودۀ او د دې واقعې نه پس خو باچا خان ډېر په سنجيدګۍ د پښتنو د مستقبل په حقله غور او فکر شروع کړۀ ـ د باچا خان د پاره دغه وخت کښې د لارې دمشالونو په توګه يو څو مجاهدين موجود وو خو باچا خان د يو نوي فکر بوټے نال کړۀ او د هغې وحشي قوم د سمولو د پاره ئې د يو مشن اغاز وکړۀ چا چې به په معمولي خبره پوره پوره خاندانونه په وينو لامبول ـ

ما به اکثر د هغوي نه دا تپوس کوۀ چې د دې ګران کار سر ته د رسولو د پاره خو ډېر وخت پکار دے ځکه چې يو داسې قوم چې د صدو نه د علم نه ناخبره پاتې شوے وي ، د هغې وجه کۀ هر څۀ وي هغوي د علم په کالو ښائسته کول د يو تن د وس کار نۀ دے نو تاسو دا ذمه واري څنګه په خپلو اوږو اخستې ده نو هغوي به ماته لکه د پلار په ډېر شفقت وفرمائيل چې دا کار به چا خو شروع کوۀ ـ الله پاك په ما مهربانه شۀ او ما له ئې د خپل قوم د خدمت موقعه راکړه ـ اوس ما سفر شروع کړے دے او انشاء الله هغه ورځ به ډېره زر راشي چې پښتانۀ

باچاخان عهد ساز شخصيت

به تول تعليم يافته شي او نورو قومونو سره به د سيالۍ جوګه شي او خپل حېثيت به وپېژني ـ د باچا خان د پښتنو په طاقت او قوت، د هغوي د خپل کار سره مينه ، ايمانداري او اخلاص کله باور وۀ ـ په دې لړ کښې قسمت هم د هغوي ملګرتيا وکړه او داسې ملګري ئې ورکړل چې ثاني ئې نۀ لرله ـ د باچا خان خواهش وۀ چې پښتانۀ په هر ميدان کښې ترقي وکړي او د خپلو مشرانو نومونه راژوندي کړي ـ د دې مقصد حاصلولو د پاره دوي په مختلفو وختونو کښې د مختلفو اړخونو نه د پښتنو د يو کولو جدوجهد جاري وساتلو ـ باچا خان به دپښتنو د خپلو روايتونو او ثقافت نه په لرې تللو سخت غمژن کېدۀ ـ د هغوي وينا وه چې هر قوم په خپله ژبه ژوندے وي کۀ يو قوم خپله ژبه هېره کړي نو دنيا هغه قوم هېر کړي او کۀ د يو قوم نه خپله ژبه ورکه شي نو هغه قوم ورك شي ـ لکه چې بره بيان وشۀ د باچا خان د کور ماحول او تربيت او ذهني مېلان قوم پرستۍ پله وۀ ځکه نو باچاخان يو کلك او مخلص قوم پرست وۀ ـ هغوي به فرمائيل چې صرف هغه قومونه ترقي کولے شي د چا چې د خپلې خاورې سره مينه وي او چې څوك د خپل وطن وفادار نۀ وي هغه پښتون نۀ دے ـ باچا خان نۀ يواځې په تعليمي ميدان کښې د پښتنو سره د کېدونکې سلوك ازاله کول غوښتل بلکې د خدايي خدمتګار تحريك په ذريعه ئې د پښتنو د تربيت اغاز هم کړے وۀ او هغه خلق ئې مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستي وو چې په عام ژوند کښې ئې څهٔ خاص حیثیت نهٔ لرلو ـ د نورو خانانو نوابانو برعکس به باچا خان غریبانانو خلقو سره په ناسته پاسته کولو خوشحالېدهٔ او د هغوي به ئې هر قسم امداد کولو ـ د باچا خان دې طرز عمل دغه کمزوري خلق د هغهٔ مئینان کړل او پښتانهٔ لکه د لېونو په خدايي خدمتګار تحریك کښې شاملېدل شروع شو ـ د دې نتیجه دا شوه چې خانان یواځې پاتې شو او داسې په بالواسطه طریقه د پېرنګي حکومت ته خطرې رامخې ته شوې ځکه چې د دې نوابادیاتي کالونۍ دا دېسې پېرنګیان د انګرېزانو د پاره ډېر اهمیت لرونکې او د کار خلق وو ـ پېرنګې چې کله دا صورت حال ولیدهٔ نو د باچا خان نګراني ئې شروع کړه او دغسې د یو خدايي خدمتګار خلاف د هغې وخت لوے قوت مېدان ته راغے خو افرین دې وي په دې ستر او لوړ پښتون مشر چې په هر محاذ ئې سامراج له ماتې ورکړه او په خپلو اصولو او مضبوط کردار ئې د ازادۍ بې شمېره پتنګان د ځان نه راچاپېره کړل خو باچا خان د هغې افاقي دین پیروکار وهٔ چې د امن درس ئې ورکولو ـ له دې وجې نه باچا خان پښتنو له د عدم تشدد تعلیم ورکړهٔ ـ د هغوئ وېنا وه چې تشدد نفرت او عدم تشدد مینه پیدا کوي ـ باچا خان د خدايي خدمتګار تحریك د قیام نه مخکښې د تحریك اصلاح الافاغنه نه د دې جدوجهد شروع کړې وه ـ دغې دوران کښې هغوي د هغه وخت لوے

لوے مشران د نزدې نه ولیدل ـ مسلمانانو مشرانو کښې اکثریت د نوابانو ، جاګیردارانو او وډېره ګانو وهٔ او باچا خان په خپله یو درویش او مسکین سړے وهٔ ـ دویمه لویه وجه د هغوي د پښتنو خلاف تعصب وهٔ چې د هغې له وجې باچا خان او نور مسلمانان مشران یو ځاے نهٔ شو ـ

باچا خان به د پنجاب یوه واقعه ماته اکثر بیانوله (شاید له دې وجې چې زما تعلق د صحافت سره وهٔ او دا واقعه هم د صحافت سره متعلق وه) فرمائیل ئې چې دا پنجابیان عجیبه خلق دي یوه ورځ د زمیندار اخبار په دفتر کښې ناست وم په خبرو خبرو کښې ما اخترعلي خان ته ووې چې مونږ ښهٔ دوستان یو کهٔ نه ؟ نو کهٔ د پنجاب ټول اخبارونه زما خلاف لیکي نو زهٔ امید لرم چې زما دوست به زما متعلق پنجاب له غلط معلومات نهٔ ورکوي ـ د هغهٔ جواب زما د پاره ډېر حېرانوونکے وهٔ ، هغهٔ په زوره وخندل او وې وئیل چې مونږ اخبار واله نهٔ د پنجاب سره همدردي لرو او نهٔ د هندوستاني لیډرانو سره ـ زمونږ خو د یو ښهٔ خبر سره کار وي کهٔ د هغې په حاصلولو کښې د دواړو ډلو بې عزتي ولې نهٔ وي او ډېره عجیبه خبره دا وه چې باچا خان سوشلزم خوښولو او نور مسلمانان مشران ئې مخالف وو ـ د دوي په مقابله کښې د خدايي خدمتګار او کانګرس یو بل سره مینه ډېره وه چې د هغې بنیادي وجه د کانګرس د پېرنګي سره دشمني وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانګرس په هر قیمت ازاد او خودمختار هندوستان غوښتهٔ او مسلم لیګ د هندوستان تقسیم غوښتهٔ ـ هندو سره نژدېکت باچا خان د عوامو په نظر کښې مجرم وګرځولو ځکه چې د مسلم لیګ نعره دا وه چې مسلمان وي نو هغه به مسلم لیګ کښې وي او باچا خان ښکاره باره د کانګرس حمایت کولو ـ دا اوس د سوچ مقام دے چې مسلم لیګ خو حق لري چې ځان ته د ټولې ابادۍ د یوې برخې نمائنده ووایي خو چې کله هغه حق باچا خان استعمالوي نو غدار او د هندوانو ایجنټ ګڼلے شي او دا هغه بنیادي وجه وه چې باچا خان ئې مسلم لیګ ته نژدې کېدو ته پرې نهٔ ښودهٔ ـ باچا خان به فرمائیل چې هر قوم حق لري چې د خپلې ترقۍ د لارو د پاره په خپله سوچ وکړي نو بیا مونږ د خپل مرام او منزل نه ولې منع کولے شو ؟ د پښتون قوم د حقونو د پاره هغوي د هرې سختۍ په رڼ تندي مقابله کړې وه ـ بعضې وخت خو به تر دې وشوه چې انګرېز سامراج به په یوه مقدمه کښې جرمانه کړهٔ نو د جرمانې په بدل کښې به ئې د هغهٔ جائداد د مارکیټ د نرخ نه د کمو پیسو حساب کړهٔ او هغه جرمانه به ئې ترې وصول کړه او دغسې د پښتنو د ازادۍ په لاره کښې قسم قسم خنډان ودرولي شو خو د باچا خان سفر جاري وهٔ ـ دې دوران کښې پېرنګیانو د هندوستان د تقسیم منصوبه پېش کړه چې د کانګرس مشرانو مسترد کړه ځکه چې پېرنګیانو ته دا حق حاصل نهٔ وهٔ چې د تجارت په بهانه د

کوم ځاے نه راغلي ، یو لوے وطن ئې قبضه کړے او بیا ئې هغه ټوکړې ټوکړې کولو ـ باچا خان د هند تقسیم د مسلمانانو تقسیم ګڼلو ـ د تقسیم په مسئله د کانګرس ، مسلم لیګ او وائسرائے خو ځله مذاکرات وشو او اخر دا چې د تقسیم په دې منصوبه اتفاق رائې پیدا شوه ـ د فارمولې مطابق دا مقرر شوې وو چې کومې صوبې او ریاستونه پاکستان یا هندوستان کښې شاملېدل غواړي هلته به د صوبې اسمبلۍ، د ریاست مهاراجه یا جرګه فېصله کوي ـ د اصولو لاندې د پنجاب او سندهـ اسمبلو نه رایې وغوښتې شوه او د هغوی د فېصلو احترام هم وشو او د بلوچستان فېصله د جرګې په ذریعه وشوه ـ اوس زمونږ د صوبې څهٔ حال شهٔ ـ د یو سازش لاندې دلته مقتدر کانګرس نظر انداز کړے شهٔ او د ریفرنډم اعلان وشهٔ ـ باچا خان د کانګرس اسمبلۍ د دې غېر جمهوري اقدام سخت مخالفت وکړهٔ او د بائیکاټ اعلان ئې وکړهٔ ـ د ریفرنډم د نتیجو منظر عام ته راتلو سره معلومه شوه چې ۴۹ فیصده عوامو د پاکستان په حق کښې ووټ ورکړے دے او په حکومت ئې د عدم اعتماد اظهار کړے دے ـ په دې وخت کښې د جناح صاحب په ژوند د ریاستي دهشت ګردۍ او هارس ټرېډنګ ابتدا وشوه ـ د کانګرس د اسمبلۍ غړي څهٔ په زور او جبر او څهٔ د لالچ ورکولو په ذریعه د اسمبلۍ اجلاس کښې د شرېکېدو نه منع کړے شو او دغسې یوه منتخب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ائيني اداره پامال کړې شوه او جمهوريت مضبوط کړے شۀ.
مسلم ليگ د پاکستان د جدوجهد د پاره حق لري نو ولې باچا
خان د پښتنو حقونه نۀ شي غوښتې. دا هغه ناقابلِ فهم نکته
ده چې ملك کښې ئې غېر يقيني کېفيت ختمېدو له ورنۀ کړه
خو د قيام پاکستان نه پس د دستور سازۍ اسمبلۍ د يو غړي
په حېثيت باچا خان مسلم ليگ ته د مکملې مرستې پېشکش
وکړۀ خو بيا هم چا په ارام پرې نۀ ښودۀ. باچا خان به اکثر د
پېرنگي د دور او د قيام پاکستان نه پس د هغۀ سره د شوي
سلوك موازنه کوله او ډېر په حېرانۍ به ئې تپوس کولو چې
انگرېز ظلم کولو نو هغه خو زمونږ دشمن وۀ او مونږ د هغۀ خو
د يو اسلامي جمهوري ملك له طرفه چې زۀ ولې بې شمېره ځله
جېلونو ته لاړم. دا زما په پوهه کښې نۀ راځي. د پاکستان
جوړېدو نه پس باچا خان د پښتنو د حقونو د پاره خپل
جدوجهد جاري وساتلو او د هر يو ظلم ئې په نره مقابله وکړه.
د حکومت د باچا خان سره د تعاون دا حال وۀ چې پېرنگي په
دور کښې باچا خان پينځلس کاله جېل تېر کړے وۀ او د
پاکستان جوړېدو نه پس په ابتدايي اتلسو کالو کښې دې ستر
انسان پينځلس کاله په جېل دننه تېر کړل. د هغوي قصور څۀ
وۀ ؟ دا خو د تاريخ په پاڼو کښې محفوظ شوي دي خو دا خبره
هم فېصله شوې ده چې کۀ پښتانۀ باچا خان خپل محسن ونۀ
گڼي نو بيا هم د حقيقت نه انکار نۀ شي کېدے. باچا خان ته د

دې خبرې ډېر زيات افسوس وۀ چې د هغوي له طرفه حکومت
ته د پوره مرستې او يقين دهانۍ ورکولو باوجود په هغوي د
دروغو مقدمې جوړې کړې شوې او دپښتون قوم د ترقۍ نه د
منع کولو د پاره قسم قسم منصوبې جوړې کړې شوې خو باچا
خان دغه ټولې منصوبې د پوره کېدو نه مخکښې مخکښې د
خاورې سره خاورې کړې. د پاکستان جوړېدو نه پس د باچا
خان ټوله توجه صوبايي حقونو حاصلولو طرف ته وه او په
پاکستان کښې ئې په ورومبي ځل د نېشنل ازم نعره پورته کړه
او په دې تحريك کښې ورسره د بلوچستان او سندهـ او پنجاب
محب وطن خلقو هم ملگرتيا وکړه او دغسې د پاکستان
حکومت په يو وخت د څلورو گاندهيانو خلاف د کاروايۍ
اغاز وکړۀ. د پنجاب ، سندهـ او بلوچستان گاندهيان خو په
دې څغل کښې وروستو پاتې شو خو سرحدي گاندهي د دې
مشن سر ته رسولو د پاره عوامي نېشنل پارټي جوړه کړه چې
هغې يو اهم کردار ادا کړۀ او لگيا ده اوس هم ادا کوي خو د
باچا خان مشن لا سر ته نۀ دے رسېدلے. د دې مشن سر ته
رسولو د پاره اوس ځوانانو له مخکښې راتلل او په علم او ادب
، تاريخ او جغرافيه او د زمکې او اسمان په وسعتونو کښې
خپل مقام پېدا کول پکار دي ځکه چې د باچا خان قول دے
چې د ازادۍ بوټے د ځوانانو په وينو لوئېږي. نن ضرورت د دې
خبرې دے چې کۀ مونږ خپلې خاورې د پاره د نور څۀ کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قابل نهٔ یو نو کم نه کم دا دعا خو کولې شو چې اے خدايه! د پښتون قوم د رهنمايۍ د پاره یو بل باچا خان راکړې. شايد دې سره پښتانهٔ د خپل محسن سره د کړې سلوك کفاره ادا کړے شي.

پروفيسر ميا عنوان الدين کاکا خېل

باچا خان او د هغهٔ خدايي خدمتګار تحريک

د پښتو د ستر قامي شاعر خوشحال خان ختك چې د توري او قلم خاوند وهٔ ، وينا ده :

مړهٔ هغه چې نهٔ ئې نوم نهٔ ئې نښان وي
تل تر تله په ښهٔ نوم پاييي ښاغلي

زمونږ د ستر ملي قهرمان باچا خان هم په داسي ښاغليو کښې یو ځانته ښکاره مقام لري د چا ژوند او شخصيت چې د دې سيمې ، د برصغير بلکې د نړۍ په سياست او تاريخ ډېر زور اثر غورځولے دے ، کهٔ مونږ د دوی په حقله تار تاريز بحث کوو نو خبره به اوږده شي او بيا به هم نيمګړې پاتې شي نو ځکه زهٔ خپل بحث د باچا خان د قامي غورځنګ ، افکارو، نظرياتو او اهدافو پورې محدود ساتم او په هغې کښې به هم غټ غټ پانکې را اوچت کړم.

باچا خان د وړوکوالي نه د غور او فکر اموخته وهٔ ، په هر خبره، هره واقعه او په هر حرکت به ئې غور کولو. په تپوسونو تپوسونو به ئې د هر علت او معلول ژورتيار ته ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوۀ چې زلمے شۀ نو نۀ صرف د غور او فکر قوت ئې سپوا شۀ بلکې د ژورې پخې قوتِ مشاهدې او تېزې قوتِ حافظې علامې هم پکښې راڅرګندې شوې او کله چې ځوان شۀ ، د دې خدايي صلاحيتونو په برکت ئې د پښتون قام او د دې خاورې د عام اولس بدحالي ، بې علمي او په بدو ورځو ککړ ژوند ته ئې پام شۀ. د دې صورتِ حال لټون ئې شروع کړۀ او د غور او فکر نه پس په دې نتيجه ورسېدۀ چې زما د خوارې کښې قام د بې اتفاقۍ، دښمنو، تربګنو، د تعليم د نشت والي ، د زنانو د حقوقو خيال نۀ ساتلو، د غلطو رسمونو ، رواجونو د پيروي کولو او په تېره تېره د پېرنګي غلامي د جاګير دارانو د زور ګيرۍ او ناوړې سلوك له سببه د دې زېلي اولس دا حال شوے دے. د جهالت ، مايوسۍ ، بې عملۍ د ژورې کندې نه د راوېستلو د پاره باچا خان په شعوري توګه يو کړن لاره وټاکله. هم خيال او هم راز ملګري ئې پيدا کړل چې په زړۀ کښې د قام مينه، درد ، همدردي او خېرخواهي وه ، لکه د باچا خان د قام په دې زېلي او ناوړې حالت دلګير ، خفه، پرېشانه او خورېمن وو. د دې ملګرو په صلا او مشوره ئې د انجمنِ اصلاح الافاغنه بنياد کښېښودۀ. باچا خان د خپلو ملګرو سره د دې صوبې او سيمې کلي په کلي ، کوڅه په کوڅه ، حجره په حجره او جومات په جومات وګرځېدۀ. د سهولتونو او وسيلو د نيشت والي له کبله دا اوږدې مزلې ئې پياده کړې دي. هر ځاے د قام

د يو والي ، اتفاق ، اتحاد او ورورولۍ خبرې ئې کوله. ټولو ته به ئې د يو موټي کېدو وينا کوله . د عمرونو زړې خونړۍ دښمنۍ ئې د جرګو مرکو له لارې په دوستۍ کښې بدلې کړې. خلق ئې د غلطو رسمونو ، رواجونو د تباهۍ بربادۍ نه خبر کړل. د تعليم په اهميت ئې پوهه کړل. دغه شان ئې د قام د ښېرازۍ ، سوکالۍ، ترقۍ پيغام د خپل عدم تشدد د فلسفې سره د سيمې ګوټ ګوټ ته ورسوۀ.

د قام د بچو د ابتدايي او بنيادي تعليم د پاره ئې مدرسې جوړې کړې. په لږو وسائلو کښې په مختلفو علاقو کښې د ازاد سکولونو جال ئې خور کړۀ. دا په هغه زمانه کښې د وېريا او خېراتي تعليم خورولو يوه لويه کارنامه وه. د هغۀ د پيغام صداقت، د هغۀ د شخصي کردار سپېڅلتيا ، د هغۀ د شېرين بيانۍ له کبله د باچا خان په جلسو کښې به خلقو ډېر په جوش او جذبه ، شوق او مينه ګډون کولو.

کله چې باچا خان دې نتيجې ته ورسېدۀ چې قام زما په اواز د زړۀ د اخلاصه راپورته کېږي نو د ملګرو په صلا ئې د خدايي خدمتګار تحريك په نوم يو تنظيم جوړ کړۀ. ډېر زر په دې تحريك کښې د زلمو، ځوانانو او بوډاګانو شمېر دوو لکو ته ورسېدۀ. د هغه وخت د ابادۍ په لحاظ دا ډېر لوے تعداد او غټ قوت وۀ. د دې تحريك چلولو نه د باچا خان مطلب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو سماجي او اقتصادي حالاتو کښې د بدلون راوستل او پښتانۀ د ترقۍ او ښېرازۍ طرف ته رابلل وو.

ولې د پېرنګي سامراج ذهن د باچا خان دا مقبولیت د هغۀ پیغام پذیرایي او د ټول قام او اولس په یوه چغه د هغۀ د ذات نه راچاپېرېدل کله زغملے شو. پېرنګے یو غاصب قوم وۀ. هغۀ خپله چاړۀ په اوبو کښې ولیده. پېرنګي د تشدد ، ظلم، بربریت، جبر او سختۍ خپلې استعماري حربې شروع کړې. خپل برېسي ئې د باچا خان مخالفت او د هغۀ د تحریك ملګرو مزاحمت ته ودرول. قصه خوانۍ، ټکر، ګوجر ګړۍ، میروس ډېرۍ، هاتي خېل، سپین تنګے او داسې نورو ډېرو ځایونو ، کلو او باندو ته د ازادۍ په جنګ کښې د تاریخي سنګرونو اعزاز حاصل شۀ. د باچا خان ډېر ملګري د شهادت په رتبه سرفراز شو.

ځان چې د مذهبي دنیا نمائنده او بادار ګڼلو ، د هغه پېرنګي د لاسه د باچا خان او د هغۀ ملګرو سره هغه ناروا او ناوړه سلوك وشۀ چې تاریخ به ئې په یادولو او قلم به ئې په لیکلو شرمېږي. ولې د حریت فکر ، د عدم تشدد د فلسفې علم بردار، د ملي غورځنګ د قافلې د سالار او د هغۀ د سربازانو او سر په تلي کښې اېښې ننګیالو ملګرو پیغام د دنیا ګوټ ګوټ ته ورسېدۀ. د هغه وخت اخبارونه په دې ګواه دي.

د پېرنګي زور، ظلم ، زیاتي، جبر او تشدد چې د حد نه زیات شۀ نو باچا خان او د هغۀ ملګرو د هندوستان د مسلمانانو یوې سیاسي ډلې مسلم لیګ مشرانو ته د مرستې او ملاتړ خواست وکړۀ. د هغې غاړې څۀ حوصله افزا ځواب رانۀ غلو ، مجبوراً باچا خان او د هغۀ ملګرو کانګرس ته لاس اوږد کړۀ. هغوي ورسره د کلکې مرستې او ملګرتیا لوظ وکړۀ. دا اتحاد د پاکستان تر جوړېدو قائم وۀ.

پېرنګے رخصت شۀ. پاکستان جوړ شۀ. باچا خان د ماضي تراخۀ یادونه هېر کړل او په ۲۳مه فرورۍ کال ۱۹۴۸ء ئې د پاکستان د ائین سازې اسمبلۍ د غړیتوب سوګند پورته کړۀ.

ولې په دې کښې هم باچا خان خپلو مخالفینو ، مفاد پرستو عناصرو په ارام پرېنښودۀ. د سازشونو او دسیسو او مخالفانه پروپیګنډې هغه پخوانۍ سلسله هغسې روانه وه. جیلونه ، حوالاتونه، سزاګانې، صوبه بدري د خدایي خدمتګارانو په برخه وې. باچا خان سره چې خپلو او پردو څۀ وکړۀ هغه اوس د تاریخ حصه ده.

دلته مونږه د خپل بحث دویم پړاو ته راورسېدو چې د باچا خان د سماجي اولس خدمتونه او سیاسي تحریك په حقله د راپورته شوي فکر انګېزه سوالونو لنډه شان جائزه واخلو. د باچا خان د خدایي خدمتګارۍ د بې پناه زور او شور،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کامیابۍ او مقبولیت په حقله خبرې کېږي چې دا څنګه ؟ ولې ؟ وړومبۍ خبره خو دا ده چې باچا خان د مرض صحیح تشخیص کړے وهٔ، بیا ئې د علاج د پاره یوه کامیابه او تیربه هدف نسخه تجویز کړې وه۔ د باچا خان په ځان باور او د خپل مشن په صداقت پوخ یقین وهٔ۔ د هغهٔ د پېروکارانو د هغهٔ په ذات اعتماد وهٔ۔ دهغهٔ مشن ئې خپل مشن ګڼلو۔ بل باچا خان یو عملي انسان وهٔ۔ د هر کار شروع به ئې د خپل ځان نه کوله۔ لکه په ازاد سکولونو کښې د غني خان او ولي خان داخلول، د هر پښتون د حجرې جارو کولو په مهم کښې په خپله برابر شریك وهٔ۔ باچا خان یو سپین نیتے ، ډاکیز ، ساده‌ګي پسند او قناعت پسند انسان وهٔ۔ د هغهٔ ټول ژوند هم د دغه اصولو نه عبارت وهٔ۔ دغه وجه وه چې د پښتون غونډي سرکشه ، باغي او ځیګرور قوم کښې په کامیابۍ سره د عدم تشدد د فلسفې بوټي نال کړهٔ۔ د پښتنو په روایتي ORTHODOX معاشره کښې د زنانهٔ د حقوقو علمبردار وهٔ۔ د هغهٔ په جلسو کښې به په ګڼ شمېر کښې د زنانهٔ د شرکت اهتمام کېدهٔ ۔ په داسې یوه جلسه کښې د یوې اوچتې ډېرې د پاخه زنانه راجمع شوې وې (په تفصیل کښې نهٔ ځم، دا به په خود ستایۍ کښې راشي) کله چې باچا خان زلمو ته په تحریك کښې د شمولیت او په جوش او خروش د برخې اخستلو اپیل کولو نو په دغه زنانهٔ کښې یوې تنګیالۍ پیغلي په اوچت ولي په پُرسوز اواز کښې دا ټپه

هوا کښې زمزمه کړه او د ملالي د تاریخي ټپې یاد ئې تازه کړهٔ :

کهٔ د زلمو نه پوره نهٔ شوه

فخرافغانه! جینکۍ به دې ګټینه

دوې د خپل تحریك او هلو ځو کامیابولو د پاره هره روغه لار خپله کړې وه۔ په دې سلسله کښې د پښتو ژبې او ادب نه هم ډېره فائده اخستې وه ۔ د تحریك ORGAN ارګن د پښتو وړومبۍ رساله "پښتون" د هر لوستي پښتون کورته رسېدلې وه۔ د تحریك پیغام ئې هر ګوټ ته رسولے وهٔ۔ ښځو او سړو به په لیکلو کښې یو شان برخه اخسته۔ د دې رسالې په برکت د پښتو په ادب کښې ښې غټ نومونه ښکاره شو ۔ باچا خان یونیورستي چارسده او عبدالولي خان یونیورستي مردان کښې د ایریا سټډي سنټرز ته پکار دي چې په داسې موضوعاتو تحقیق او څېړنه وکړي۔ دا به د نوې کول د لارې روښانه کولو د پاره د لیت کار وکړي۔

د باچا خان په قافله کښې د وطن پاله قام پرستو ادیبانو او شاعرانو یوه غټه ډله شامله وه۔ د دوې د ډرامو ، مشاعرو درز په ټولو سیمو کښې خور وو چې تحریك ته ئې ډېرې ښېګړې رسولې دي۔ دا نن چې د پښتو ژبې او ادب باغ بارې داسې سمسورې دي ، دا هم د دغه تحریك او مشرانو برکت دے۔ (دا هم د تحقیق یوه غوره موضوع ده)۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله غټه خبره دا ده چې پښتنه معاشره د پېړو نه په طبقاتي اډانه ولاړه ده ـ ولې باچا خان په خپله د هشتنغر د یو لوے خان ځوے وهٔ ـ ولې هغه د دې امتیازاتو او جاګیردارانه ذهنیت هېڅ پروا نهٔ کوله ـ دغه وجه وه چې د خدایي خدمتګار تحریك عهدي د معاشرې د بې وزله خلقو او کسب ګرو په لاس کښې وې ـ دا هغه وخت څهٔ چې نن هم یو ډېر ناشونے کار ګڼلے شۀ ـ
باچا خان د خپلو پېروکارانو او کارکنانو باقاعده سیاسي تربیت کولو ـ هر یو غړي به ئې په شخصي توګه پېژندلو ـ د دې تربیت د کبله د خدایي خدمتګارو او ټول پښتون قام سیاسي شعور او سیاسي بېداري هغه سطح ته رسېدلې وه چې نن ئې هم صفتونه کېږي ـ یو غټ مثال دا دے چې د ولی خان د لیکلي کتاب " باچا خان او خدایي خدمتګاري" په سر پاڼه باندې د سوونو تربیت یافته باوردي کارکنانو یو تصویر دے ـ باچا خان سره د خپلو ماشومانو د پرېټ په سر کښې ولاړ دے ـ زهٔ چې کله دا کوټلے تصویر وینم نو د باچاخان د هغه ملګرو او تحریك قدر مې په زړهٔ کښې نور سېوا شي ـ د دې تربیت اثر وهٔ چې زمونږ په کورونو ، خواوشا ګاونډیانو بلکې د ټولې سیمې په کورونو کښې زنانوو دغه سرې جامې د یو مقدس امانت په طور ساتلې ـ
ځنې کسان وایي چې بعضې لیډرانو خو په جېل کښې یوه شپه هم نه ده تېره کړې او کامیابي ئې موندې ده ـ د

سیاسي کامیابو د پاره جېل ته تلل ضروري نهٔ دي ولې حالاتو دا هم ثابته کړې ده چې داسې کامیابۍ پائیدارې او مفیدې نهٔ وې ـ اول د خپل ملك پاکستان ننني حالاتو ته وګورئ ـ بل ګمان کوم چې داسې کسان د دې حقیقت نه ولې سترګې پټوي چې زمونږ د ملك په تاریخ کښې ډېر ځله داسې شوي دي چې کسان په چترۍ راکوز شي او تیار خانك ته پرلت ووهي ـ د تېویك ډز او د کوتك د ډب نه خبر نهٔ شي ـ نن پرون هم د ملك په سیاسي فضا کښې په چترۍ خلق خېژي او کوزېږي ـ دې ته به څوك کامیابي ووایي؟
د تاریخ مطالعه دا ښایي چې د دنیا د لویو لویو تحریکونو مشرانو جېلونه خوړلي دي ـ تکلیفونه ئې ګاللي دي ، سختې ئې زغملي دي ـ بیا ئې چرته کامیابي او کامراني ښکل کړې ده ـ داسې خلق نن هم د اولس په زړونو حکومت کوي ـ په برصغیر کښې ګڼ نومونه شمېرلے شي ولې په ننني دور کښې نلسن مېنډېلا ، انګ سانګ سونچي مثالونه زمونږه د وړاندې دي ، ولې افسوس دا دے چې مونږه خپل قامي او ملي اتلان هغسې ونهٔ قدرول څنګه چې د هغوي حق دے ـ
باچا خان او د هغهٔ خاندان ته الله تعالیٰ ORATATION او NARRATION یو بې ساري قوت وربخښلے وهٔ ـ د تقریر او بیانیه تحریر په ناویاته قوتونو ئې نمانځلي وو ـ په دې یو مثال

(c) ketabton.com: The Digital Library

به زما دا خبره په ښه ډول واضحه شي . کله چې د اوږدې جلاوطنۍ نه باچا خان وطن ته واپس راغلو ، د جلسو سلسله بیا پیل شوه . په کالو خان کښې جلسه وه . مونږه څو ملګري هم دغه جلسې ته تلي وو ځکه چې د ډېرې اوږدې مودې نه پس د باچا خان لیدو ته هر کس لېواله وۀ او تقریر اورېدو ته ئې د هر چا تلوسه وه . بل مونږه دا هم کتل چې د دومره غېر حاضرۍ نه پس به د باچا خان په ملګرو او پیروکارانو څۀ شوي وي او کنه؟ جلسه ډېره زیاته درنه وه ، د خوا و شا کورونو په کوټو زنانه هم جلسې ته ناستې وې . باچا خان چې تقریر ته اودرېدۀ PEN DROP خاموشي شوه . باچا خان مرۍ تازه کړه ، وئیل ئې زما قامه !بیا ئې لږه وقفه وکړه په دوېم ځل ئې بیا ووې زما قامه! ساه نیولې شۀ ، ټولې جلسې ته ئې یو خوا بل خوا وکتل او په درېم ځل ئې په غریو نیولي اواز کښې دا ټکي پوره نۀ وو وئیلي چې اے زما قامه چې په جلسه کښې د یوې زبردستې ژړا یوه غلبله پورته شوه . ښځو یو بل له غاړې ورکړې . سړو په ډرك ډرك وژړل . زمونږ جذبات هم بې قابو شو. یو ملګري په ژړغوني اواز تپوس وکړۀ ، اے دا څۀ چل دے؟ ما ورته ووې معجزه وشوه . د اُورینټېشن معجزه ، دې ته ORATATION وايي . باچا خان د خپل اُورینټېشن په برکت په دوو ټکو کښې خپل پېغام قام ته ورسولو . څۀ ګړۍ شېبه پس چې حالات قلار شو باچا خان خپل تقریر شروع کړۀ .

خبره ډېر نه اوږدوم خو یو حقیقت ته ستاسو توجه راګرځول غواړم . بې شکه چې باچا خان د پښتنو په پاکه او بختوره خاوره پیدا شوے وۀ او مونږه پښتانۀ ئې خپل ستر ملي اتل ګڼو ، ولې د امن او د عدم تشدد د دې قداور استازي اقوال ، افکار ، سیاسي ، سماجي نظریات ، فلسفۀ فکر او نکته نظر د اصل نسل خاورې او پولې حدود نه وتي دي . د انسان او کلهم انسانیت د پاره د امن ، خوشحالۍ او سوکالۍ زېرے ګرځېدلے دے او د باچا خان پېغام دې اعلیٰ ، مقدس او پیاوړي مقصد ته غاړه غتۍ شوے دے . زۀ چې وینم نو په دې سلسله کښې ماته د هغۀ مقام د امن د درنو درنو استازو نېلسن منډېلا او انګ سانګ سونچي وغېره نه هم اوچت ښکاري . زمونږ سکالرز او ریسرچر ته پکار دي چې د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه تار تاریز ریسرچ او تحقیق وکړي او هغه مقام ته ئې ورسوي چې د ملل متحده د چارټر حصه وګرځولے شي . د دنیا ستر طاقتونه ترې د دنیا د پوخ امن د پاره کار واخلي . داسې به د بدامنۍ ، بې انصافۍ او سرې خورګۍ ښکار دنیا د امن ، سوکالۍ او خوشحالۍ زانګو وګرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره به د خدايي خدمتگارى د تحريك د ستر ملي قهرمان او پښتو ژبې د انقلابي شاعر اجمل ختك مرحوم په دې شعر پاى ته ورسوو :

نن ټول خلق د هغه محبوبا سندرې وايي
ختك چې به د ځان سره ژړله كله كله

م-ر-شفق

طنز او مزاح د باچا خان په خبرو كښې

د خپلو مشرانو پوهانو نه به مې اورېدل او بيا مې پخپله هم يو څو ځله په خپله هم دا ننداره كړې ده چې په يوه لويه درنه جلسه كښې به د تقرير او خطابت په فن پوهه ماهرانو ، سياسي مشرانو او ديني عالمانو داسې شانداري وېناګانې وكړلې او داسې زړهٔ راښكونكي بحثونه به ئې وكړل چې د راپېښنو مسئلو هېڅ يو اړخ به تړے پاتې نهٔ شو او بيا د نور څهٔ وئيلو به هډو امكان نهٔ وهٔ ـ لكه په يو وخت په ستېج به سردار شوكت خان، نوابزاده نصرالله خان، چودري ظهورالهی، قاسم ملك ، شورش كاشميري، عبدالولي خان ،مولانا مفتي محمود او د اجمل ختك غوندې نومورو وېناوالو د جوش جذبې نه ډك ، فصيح او بليغ تقريرونه وكړل نو د ټولو اخر ته به باچا خان ته د خبرو كولو بلنه وركړې شوه ـ

داسې مهال كښې د تقرير او خطابت په نشه مستو مئننانو تاثرات او احساسات به عموماً دا وو چې اوس د نورې وېنا پاتې څهٔ دي ؟ بابا خو به زوړ تار غړوي ـ هم هاغه زړې خبرې بيا بيا كوي څهٔ خوند مزه به ونهٔ كړي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باچا خان د تقرير په بابله دا رايې او تبصره بې ځايه هم نۀ وه۔ واقعي چې د بابا فخر افغان په الفاظو کښې شاعرانه حسن او رنګيني نۀ وه ۔ نۀ پکښې ټوقي وشتي وي ، نۀ پېڅې نخرې ، خو د پښتنو دغه سل کلني مشر او د ازادۍ عظيم مجاهد به چې په قلاره پسته ، خوږه او رعب داره لهجه کښې ساده سوده پښتو کښې خبرې شروع کړې نو يو دم به په ټول ماحول يوه خاموشي خوره شوه اورېدونکي به غوږ غوږ شو او د ټولو توجه به ئي داسې راښکله لکه مقناطيس چې ځان ته وسپنه راکاږي۔

د باچا خان د وينا شروع الفاظ به عموماً داسې وو :

زما ورونو!

دا زۀ چې تاسو له راغلے يمه او دا ستاسو په مخکښې چې ودرېدلے يمه نو دا ځکه چې تاسو زما عزيزان يئ۔ تاسو زما قام يئ۔ زۀ تقرير نه کومه ، زۀ خو تاسو له په جرګه راغلے يم ۔ فکر وکړئ ، دا زمونږ څۀ حال شۀ !!!!

د باچا خان ټولې خبرې به د شروع نه تر اخره پورې ډېرې ساده او اسانې وې۔ بيان به ئي له حده زيات سپېځلے او صفا وۀ۔ نۀ به پکښې پېچ وۀ او نۀ څۀ کړلېچ ، لوستي نالوستي ،زاړۀ او ځوانان ، ښځې او ماشومان به پرې يو شان پوهېدل۔ ټولو به ورته د زړۀ غوږونه تکې کړې وو۔ د بابا فکر او پيغام

سره به ئي مينه پيدا شوه ۔ د خواخوږۍ جذبه به ئي راپېداره شوه ۔ دا ځکه چې د باچا خان خبرو کښې به د زړۀ مينه او اخلاص وۀ۔ د هغۀ په زړۀ کښې د قام درد وۀ۔ د قام خدمت ئې عبادت ګڼلو۔ وئيل به ئې '' الله پاك ته د چا د خدمت ضرورت نشته۔ د الله خدمت دا دے چې د الله د مخلوق خدمت وکړے شي ''۔ دې اوصافو د باچا خان په ژبه او وينا کښې بې حسابه اثر او تاثير پيدا کړے وۀ۔

باچا خان به هر موقع دا خبره کړې ده چې :

''زۀ سياست دان نۀ يم ۔ خدايي خدمتګار يم '' يعنې چل ول او ټګي تورې ئې نۀ کوله ۔ د اخلاص او انسانې خواخوږۍ دغه جذبه وه چې د باچا خان وينا به د ډېرو ښۀ ښۀ تقريرونو نه پس هم ، خلقو تر اخره پورې په ډېره مينه او احترام اورېدله ۔ په اورېدونکيو صرف هغه خبرې ترسکوني او ښې لګې چې د طنز او مزاح ، چټنې او مالګه مرچکې پکښې ګډ وې۔ دا د تقرير او خطابت په فن کښې لازمي توکي ګڼلے شي ، کۀ يو سړے لوے عالم ، ستر مفکر او زور فلسفي وي خو چې د موقعې مناسب د ټوقې وشتې حس نۀ لري ، په شونډو ئې مُسکا نۀ وي يا په جملو کښې ئې د خندا الفاظ او شګفتګي نۀ وي نو عام اولس ته به د دۀ د ذهن دنيا يوه دشته سوراړا ښکاري او څوك چې په دې صفتونو ښائسته وي نو کلام او بيان به ئي لکه د سپرږې ګل تر او تازه محسوسيږي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

باچا خان په عام ژوند کښې یو اعتدال خوښ، عاجز خویه او سنجیده انسان وۀ ـ په بنیادي توګه یو مصلح وۀ ـ "اصلاح الافاغنه او خدایي خدمتګار تحریك" د انساني خواخوږۍ په بنیاد د قام د اصلاح او لاربښودنې ښکاره ثبوتونه دي ـ باچا خان د قران او اسلام د تعلیماتو په رڼا کښې د غلطو پلتو رسمونو او رواجونو ختمولو هاندې هڅې کولې ـ د خلقو په ذهن کښې ئې بدلون راوستو د حق پېژندلو او حق اخستلو پوهه او احساس ئې ورکولو ـ دې مقصد او مرام ته د رسېدو د پاره باچا خان د الله تعالیٰ د پېغمبرانو ښودلې لاره خوښه کړې وه ـ کومه چې د ازغو ډکه ده ـ خپلو وېناګانو کښې به ئې په خصوصي توګه د حضرت نوح علیه السلام ، حضرت عیسیٰ علیه السلام او د پاك رسول خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او بیا د هغۀ د اصحابو مثالونه ورکول ـ

فطري خبره ده چې کوم لار ښود او مصلح رهنما د قامي ژوند کشالو او عذابونو سره مخ وي او په تېره تېره د پښتون قام د اصلاح ذمه واري ئې په سر اخستې وي نو د هغۀ لهجه کښې به تریخوالے هم پیدا کېږي او کله کله به له ډېره سوخته خندا هم ورځي نو په خبرو کښې طنز او مزاح هم د دغه قسمه کیفیت په اثر کښې مخ ته راځي او دا بېخي فطري عمل وي ـ مصنوعي نۀ وي ـ مزاح ته مونږ د توقې یا د خندا معنیٰ ورکولې شو او طنز لکه د "ټك" یا "پېغور" په مفهوم کښې

راتلې شي خو داسې چې اورېدونکے پرې د ازغي د څوکې سوے هم محسوس کړي خو په شونډو به ئې لکه د ګل مُسکا هم خوره وي ـ

د یو پښتون قامي راهنما په حېث د باچا خان په وېناګانو او خبرو اترو کښې به کله کله څۀ لږ ډېر مزاح او د زورَور طنز رنګونه راخورۀ شول ـ

زۀ دلته د لیدلو ، اورېدلو او لوستلو واقعو په حوالو د باچا خان وېناګانو کښې ځینې جملې او خبرې وړاندې کوم چې د طنز او مزاح شوخ رنګونه پکښې په شعوري او غېر شعوري توګه ځلېږي خو ارمان چې په لیك کښې ما د باچا خان د لهجې خوند پیدا کولې شوې ـ

استحکام او غداري:

د کال ۲۵-۱۹۶۴ زمانه وه ـ فیلډ مارشل محمد ایوب خان د پاکستان صدر وۀ ـ باچا خان د علاج د پاره لندن ته لېږلے شوے وۀ ـ وروستو د ډاکټرانو په مشوره د افغانستان کابل او بیا جلال اباد کښې مېشته شۀ ـ د پاکستان صدر مردان کښې یو تقریر کښې باچا خان ته "غدار" وئیلي وو ـ دغو ورځو کښې کابل رېډیو د باچا خان تقریر نشر کړۀ چې زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونخوا کښې زيات شمېر خلقو په ډېره مينه اورېدلے وۀ ۔
باچا خان وئيلي وو:

ايوب خان ما پسې کلي ته سوال جواب کړے وۀ ، زۀ چې هلته (پاکستان) کښې وم نو دۀ به ما ته کاکا وې۔ ما ورته وې تۀ څۀ غواړې؟ دۀ وې ، استحکام ـــ ما ورته وې استحکام په څۀ راځي ؟ دۀ وې په فوځ، ما وې ــــــ استحکام په فوځ نه په قام......تۀ استحکام غواړې ؟

با چا خان زياته کړه

دے ما ته غدار وايي ، يلکه (يا هلکه) د ازادۍ د پاره خو جنګ مونږ کړے دے ، دا پېرنګے خو مونږ د ملك نه شړلے دے ، نو زۀ غدار شوم او تۀ وفادار شوے۔

شهنشاهئيت او باچا خان:

دا به د کال ۱۹۷۲ء ورځې شپې وې ، د پاکستان پخوانے وزير اعظم ذوالفقار علي بوټو مردان ته راغلے وۀ۔ د هوتي د نوابانو په ځاے کښې ئې تقرير کړے وُ چې په رېډيو او ټيلي وژن نشر

شوے وۀ ۔ باچا خان پسې ئې يو څو شتې خوشې کړې وې ۔ وئيل ئې ، دے ځان ته بادشاه خان وايي ، کلي له ئې نوم شاهي باغ اېښے دے ۔ دے شهنشاهئيت غواړي ۔ يو څو ورځې پس اخبار کښې د پخواني سياسي ګوند نېشنل ډيموکرېټك له خوا اخباري خبر راغے چې باچا خان به د هوتي فرشي پل سره جومات کښې د جمعې د مانځۀ نه پس خلقو ته خطاب کوي او د بوټو صاحب د خبرو جواب به کوي ۔ دا خبر د ځينو مشرانو د پاره نا اشنا ځکه وۀ چې باچا خان په خپل ټول ژوند کښې چرې هم جوابي بيانونه نۀ ورکول ۔ کله چې د جمعې مونځ وشۀ نو سوئيل طرف ته برانډه کښې د باچا خان د وينا کولو اهتمام کښې ځاے جوړ کړے شۀ ۔ باچا خان په خپله مخصوصه قلاره لهجه کښې بيان شروع کړۀ چې د بوټو صاحب حواله ئې ورکوله نو وې وئيل :

زۀ خو ستاسو دې وزيراعظم ته پيکر (فکر) وړے يم ، هغه بله ورځ چې دۀ دلته ما پسې خبرې کولې نو ما په کاغذ ليکلې دي۔

(باچا خان د نظر عېنکې ولګولې او د جيب نه ئې د کاغذ يوه پُرزه راوېسته) بيا ئې ووې :

بوټو صاحب وايي ، دے ځان ته باچا خان وايي ، يلکه (يا هلکه) زما نوم عبدالغفار دے ، باچا خان خو راته خپل قام د مينې نه وايي ، بوټو

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب بله خبره دا كوي چې كلي له ئې شاهي باغ نوم اېښے دے، دا شاهي باغ نۀ دے ، شهي باغ دے او دا خو زمونږ د تربورانو كلے دے - زمونږ كلے خو اتمانزو دے ، دۀ ته دومره هم پته نشته۔ دے لاځان ته وزير اعظم وايي !!!! درېمه خبره بوټو صاحب دا كړې ده چې زۀ (باچا خان) شهنشاهئيت غواړم ، نو تاسو ما ته وګورئ ، ما كښې د شهنشاهئيت څۀ دي ؟ شهنشاهئيت خو دے غواړي۔

د قام درد او مینه

د كال ۱۹۷۲ء دسمبر په څليريشتمه نېټه چې د باچا خان په يو عظيم الشان تاريخي جلوس كښې د افغانستان نه پېښور ته راوستے شۀ نو جناح پارك كښې ئې په لكهاو خلقو ته يو ډېر اوږد او تفصيلي تقرير كړے وۀ ، د وينا په مهال كښې ئې له ډېره سوخته ووې :

میرې ته چې خداے په قار شي نو وزرې ورله وركړي او پښتون ته چې خداے په قار شي نو په زړۀ كښې ورله د قام مينه پيدا كړي ، زۀ ئې په دې كار اخته كړے يم۔

عجيبه ملك:

باچا خان په يوه موقعه (۲۴م دسمبر ۱۹۷۲ء) وئيلي وو:

مونږ په يو عجيبه ملك كښې اوسېږو ، عجيبه خو په دې دے چې دلته خدمت كول جرم دے او چرته چې خدمت كول جرم وي هلته د خدمت خلق نۀ پيدا كېږي او په كوم قام كښې چې د خدمت خلق نۀ وي د هغوي دنيا هم تباه شي او اخرت ئې هم تباه شي۔

د كار خبره:

د دې تاريخي تقرير په اخركښې باچا خان خلقو ته په ډېره عاجزۍ يو خواست وكړۀ چې تاسو كښې كۀ ما له څوك د كار خبرې له راځي نو سحر د نهو بجو نه يولسو بجو پورې به ستاسو خدمت كښې حاضر يم ، د سلام د پاره مۀ راځئ۔ سلام وشۀ - ستاسو د دې مينې او محبت ډېره شكريه ؛ چې په دې دومره يخنۍ كښې د لرې لرې نه راغلي يئ او ډېر كړاو مو كړے دے - ستاسو ډېره ډېره شكريه - اوس كۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له څوك د كار خبري له راځي نو راتلي شئ ،
"درشنيان" نه

د کار خبره به څۀ وه ؟ د قام او ملك د ابادۍ ودانۍ او خېر ښېګړې خبره ، ډاکټر محمد يونس بټ (ورځپاڼه جنګ ۱۲م نومبر ۱۹۹۳ء) په خپل کالم "عکس در عکس" کښې ليکلي دي :

د بي بي سي لندن يو نمائنده خان عبدالغفار خان سره د مرکې کولو په غرض ورغلے وۀ ، خان صاحب ورته وې ، ګوره! کۀ تۀ ما سره په پښتو ادب او شاعرۍ خبره کول غواړې نو زما ځوي غني سره کښېنه، په سياست راسره خبرې کوې نو بيا به دا وې چې ولي خان له ورشه او کۀ چرې څۀ د کار خبره کول غواړې نو بيا ما سره خبره وکړه۔

سن باتھ (د نمر پيتاوے)

محترم مفلس دراني (ورځپاڼه وحدت ۱۴م مارچ ۱۹۹۱ء) يوه واقعه ليکلې ده :

زۀ يو ځل د قلندر مومند صاحب په وينا باچا خان سره مرکې کولو ته لاړم ، دغو ورځو کښې

باچاخان عهد ساز شخصيت

باچا خان د کابل سين په غاړه يوې ډاك بنګله کښې نظر بند وۀ ، د ژمي موسم وۀ ۔ زۀ چې ورغلم نو باچا خان کټ کښې پيتاوي ته ناست وۀ ۔ انټرويو چې وشوه نو ما د دې خبر سرخي داسې لګولې وه چې He was taking sun bath ، هغۀ پيتاوے کوۀ۔

په سبا له يوې اردو ورځپاڼې د خبر ترجمه داسې کړې وه ؛ باچا خان په نمر کښې په سين کښې لامبل ۔ باچا خان چې خبر لوستے دے نو ما (مفلس درانے) ته ئې په ټيلي فون غږ کړے وکړۀ:

يلکه ! دا خلق به څۀ وايي چې باچا خان لېونے شوے دے چې په دې يخ ژمي کښې په سين کښې لامبي !!!!؟؟

غوا :

زما والد صاحب مولانا عنايت الله مرحوم وئيل چې

د يو لوے اختر په ورځ خاکسار حاجي صاحب ، حاجي عبدالحکيم سره د باچا خان ملاقات له سردرياب ته تلو ۔ چارسده کښې مابنام خسرو خان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايسار شو ـ ډوډۍ مو ورسره وخوړه ـ هلته راسره يو زوړ خدايي خدمتګار ملګرے شۀ ـ مخالفينو باچا خان پسې داسې پروپېګنډې کولې چې په ځلور مذهبه به ناروا وي ـ ځينې ساده باده خدايي خدمتګار به پرې هم تېروتل ـ مونږ به د هغوي د پوهولو کوشش کوۀ ـ دغه سپين ږيري په لاره يوه داسې خبره وکړه چې ما له ئې خندا راوسته ـ ما ورته وې سردرياب ته چې ورسو نو پخپله به د باچا خان نه تپوس وکړے او بيا ئې په خپله د باچا خان نه پوښتنه وکړه :

باچا خانه دا رښتيا دي چې ته غوا نۀ حلاله وې؟

باچا خان ورته په غور وکتل خو په خلۀ ئې هېڅ ونۀ وئيل ، بزرګ خدمتګار بيا ووې ، باچا خانه! زۀ تهوقه نۀ کوم ـ سم تپوس درنه کوم ، خلق وايي چې دے غوا نۀ حلالوي ـ باچا خان ورته زر جواب ورکړه:

يلکه! دا زۀ درته قصاب ښکارم چې غواګانې به حلالوم ـ

چاربېته:

د کال ۱۹۷۷ء انتخابي هلې ګولې وې ، باچا خان مُلازو کنبي يوې جلسې ته تقرير کوۀ؛

يلکه! د ازادۍ جنګ خو تاسو کړے دے، قربانۍ تاسو ورکړې دي، کورونه ستاسو تباه شوي دي ، قېدونه تاسو تېر کړي دي او سختۍ کړاونه خو تاسو زغملي دي او کۀ تاسو پېرنګے د ملك نه وې اېستلے نو پاکستان به چرته وۀ ـ تاسو دومره نۀ پوهېږئ ، دا ملکونه په چاربېتو جوړېږي ؟

وېش او اختلاف:

باچا خان په ډېرو موقعو، په خصوصي توګه د پاکستان ورومبۍ دستورسازه اسمبلۍ (فروري ۱۹۴۸ء) کنبي:

چې کله د پاکستان د فادارۍ سوګند پورته کوۀ ، دا خبره سپينه کړې وه چې ما د پاکستان نه بلکې د تقسيم (وېش) مخالفت کوۀ او دا مخالفت مې په ډېر اخلاص کړے دے ـ ځکه چې دې سره به د هندوستان دمسلمانانو قوت تقسيم شي او ما چې کومې خطرې محسوسولې هغه اوس دا دي تاسو پخپله هم وينئ خو هر کله چې پاکستان جوړ شۀ او زمونږ صوبه پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې راغله نو اوس به يواځې د خپلې صوبې نه ، د ټول ملك خدمت کوو .

د پښور ملازو کښې عام اولس ته خپله وينا کښې ۱۹۷۷ء ، په ساده باده الفاظو کښې د دغه نظرياتي اختلاف څرګندونه وکړه :

ما خو دوي ته هاغه وخت وئيلي وو چې دا
تقسيم غلط دے (د پاکستان د دواړو برخو
مغربي او مشرقي پاکستان تر مينځه زر ميله
فاصله ده) دا خو لکه چې دوو تربورانو له يو
پرتوګ ورکړې ، يو به يوه پښڅه راکاږي او بل
به بله پښڅه راکاږي نو خښتګ به ئې وشلېږي -
نو ولي ، ونۀ شلېدۀ څۀ ؟؟

(په کال ۱۹۷۱ء کښې پاکستان دوه ټوټې شۀ، مشرقي حصه ترې بېله شوه)

مره پيښو :

د کال ۱۹۷۸ء خوا او شا خبره ده ، د بوټو صاحب د حکومت تخته اوړېدلي وه - د پي اين اے (پاکستان قامي اتحاد) تحريك د عروج نکتې ته رسېدلے وۀ خو نتيجه کښې ئې جرنيل محمد ضياء الحق په اقتدار کښې راغے - جرنيل

صاحب اول دريو مياشتو کښې دننه او بيا څۀ موده پس د ټولټاکنو (عام انتخاباتو) کولو لوظونه کول ، حېدراباد ټربيونل مات شوے وۀ - دغو ورځو کښې ښاغلے عبدالولي خان هم دورې کولې او پاکستان کښې به هر ځاے د دوي دروند استقبال کولے شۀ خو د باچا خان راېي او فکر بل شان وۀ ، د زېدي عبدالعزيز خان کاکا په حجره کښې ناست وۀ - ديوهنتون طالبعلمانو ترې ګېر چاپېره وو - په روانو سياسي حالاتو خبرې اترې کولې شوې ، بابا فخر افغان وئيل :

دا نسيم ولی خو ماته لېونی ښکاري ، دوي
چې د قامي اتحاد په سټېج تقرير وکړې او
زرګونه خلق ورته لاسونه وپړقوي نو دوي وايي
ګني مونږ قومي ليډران شو، يلکه! دا سټېج خو
ستاسو نۀ دے ، د دې ګټه خو به پنجاب ته
وځي -تاسو ځان له سټېج پيدا کړئ چې ګټه ئې
ستاسو جولۍ ته راشي-----

بابا زلمو هلکانو سره په شګفته موډ کښې دا خبرې کولې او د اين ډي پي په مشرانو ئې بوهۀ نۀ دوړول نو عبدالعزيز خان کاکا خواله ورغے او په غوږ کښې ئې ورته څۀ خبره وکړه - (مطلب ئې غالباً دا وۀ چې دا هلکان دي هسې نه----- ستا د خبرو نه بل څۀ تاثر واخلي) خو بابا خبره صفا کوله ، مسکے شۀ او ښۀ په اوچت اواز کښې ئې ورته ووې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه ---- مړي پيشو! (د ميني لفظ) دا په تا څهٔ
شوي دي ؟ تهٔ خو خدايي خدمتګار يې ، ستا
خو خپل ستېج وهٔ کنه !!!

په دې خبره عبدالعزيز خان او نور ناست کسان هم شګفته شو.

شومتيا کهٔ سادګي:

د باچا خان په حقله د خلقو يوه لويه مغالطه دا هم ده چې دے "شوم" دے. تر دې چې ځينو لويو شخصيتونو هم برناحقه دغه تاثر قائم کړے دے لکه مولانا ابوالکلام ازاد غوندې شخصيت "انډيا ونز فريډم" کښې د نامعلومه صاحبانو په بيان تېروتے دے ، په ۱۹۷۷ء کښې مارشلايي دور کښې چې حېدراباد ټريبونل مات کړے شهٔ او ملي رهبر عبدالولي خان او د هغهٔ ملګري راخلاص شو نو د هرکلي د پاره جوړې جوړې خلق ولي باغ ته ورمات وو . د طورو عبدالمجيد خان ايډوکيټ سره ملګرو کښې زما دوست ښاغلے پرويز اقبال سلام او پخېر راغلي ته حاضر شوي وو. دوي اول باچا خان له ورغلل . د سلام نه پس باچا خان يو زلمي ته ووې "په دې مېلمنو چائ وڅښوه" خو دوي ورته ووې چې مونږ چائ ناشته کړي دي. نو بابا ورته ووې چې چائ نه څښئ نو دا مېوې د څهٔ د پاره پرتې دي؟ د دې نه واخلئ. دا ستاسو د پاره دي. مجيد

باچاخان عهد ساز شخصيت

خان او ملګرو په ډېره خوشحالۍ يو يو کينو را اوچت کړهٔ ، پرويز اقبال وايي زمونږ د پاره خو تبرك وهٔ. بيا چې دوي ولی خان سره بړه ګړه وکړل او د دوي په لاسو کښې ئې کينوان وليدل نو مجيد خان ورته په خندا کښې ووې "دا مونږ له بابا راکړل" ولي خان وې "ښه بيا خو ګټه د اړولو ده" ټول په خندا شو خو ولي خان ورته بيا په دې حواله د ټوقې وشتې په انداز کښې وضاحت وکړهٔ :

بابا چې به چرته په دوره بهر ته لاړهٔ نو د کور
بنديانو به ساه واخسته ځکه چې کشر کول د
بابا په وړنا عمل نهٔ شي کولے ، د پوټي پوټي
ځيز حساب کوي ، کهٔ پينځهٔ مېلمانهٔ راشي نو
بابا وايي چې د مېلمنو په حساب دې اخلے
پخلے وشي او چې مېلمانهٔ د شمېر دي نو بيا
دې دومره کټوو پخولو ته څهٔ حاجت دے. دا خو
فضول خرچي ده.

باچا خان چې د قام اصلاح کوله نو صرف د خلې خبرې ئې نهٔ کولې د کفايت شعارۍ او ساده ژوند تېرولو عملي نمونه به ئې پېش کوله. په دې خبره به ئې زور ورکوهٔ چې د خپل څادر سره پېښې غزوئ.

د چارغولۍ سبزعلی خان د باچا خان کورنۍ په خصوصي توګه عبدالعلی خان او باچا خان سره د بې تکلفه دوستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلقاتو دعویٰ کوي . طورو کنبي زمونږ ځاے ته راغلے وهٔ . وئیل ئي چي د چراګاه یوسف خان صاحب د ښاغلی عبدالولی خان او د هغهٔ د ملګرو په درناوي کنبي د مازیګر مېلمستیا کړي وه . باچا خان بابا هم راغلے وهٔ . ماله ورایه سهي کړهٔ چي بابا یو ګلاب جامن لاس کنبي نیولے دے او د چایو نه ګوټ هم کوي ؛ زهٔ په تُندی خواله ورغلم :

بابا! تاسو هم دا متهایي ګلاب جامن خورئ ؟ بابا ورته ووې نو ولې زما پرهېز دے څهٔ ؟ ښاغلي سبزعلي خان ورته ووې "مونږ خو دا اورېدلي دي چي د بابا خوراك ښنباك ساګ،سکرك شوملي ، غوټه پیاز او چکی ګوړه ده" د دي په جواب کنبي ورته بابا پوره تفصیل بیان کړهٔ ،

> چي د قام د اصلاح د پاره تحریك چلوو نو په خدايي خدمتګارو به مې سختي کوله . ما ته د دوي کمزورۍ معلومي دي . د پیسي درك به ورسره نهٔ لګي ، د مېلمه دپاره به په قرضو سودا راوړي ، کهٔ غم وي او کهٔ ښادي ، بې ځایه خرچونه به کوي . دیګونه به سوارهٔ کړي ، چرګان او پولاونه به پخوي . خپل ځان لوټ کړي . خپل بچي خوار کړي او بیا د پولۍ پرق ته کښېني او دا جلسي جلوسونه څهٔ یوه ورځ خو به نهٔ وه . کله به یو ځاے ته تلو کله بل ځاے ته

> او څهٔ لس او شل به هم نهٔ وو ، دا خو به په سوونو او زرګونو خلق وو نو ما نهٔ غوښتل چي دا ټول دې د یو تن یا څو کسانو اوږو بار شي . ما به په کلکه وېنا کوله چي خدايي خدمتګاران به ځان سره غوټه پیاز وي کهٔ سوکړك ، د خپلي ډوډۍ بندوبست به پخپله کوي او اوس هم په دي عمل کوم چي ساده کار پکار دے

سبزعلي خان ورته ووې:

نو دا اوس تاسو وګورئ دا خو ساده کار نهٔ دے . سرهٔ کړي چرګان دي...... باچا خان ورته غوړېده ووې :

> یلکه! نو دا یوسف خان خو ددي علاقي خان دے ، توان ئي شته . د دهٔ پري څهٔ ؟

دال او پلاو:

په دي موضوع ځان له یو خوندرو بحث کېدے شي . سادګي او کفایت شعاري ، فضول خرچي او شومتوب جدا جدا فکري او ذهني رویي دي . زما ورور ښاغلے اسرار د طورو د بغداري امیر محمد خان په حواله یوه واقعه بیان کړي ده . دے د مشهوري شاعري ادیبي ډاکتر سلمیٰ شاهین او ډاکتر نګار پلار وهٔ . سور سپین ښکلے بنیادم وهٔ . په هلکوانه کنبي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايي خدمتګارۍ تحريك کښې جېل ته تلې وۀ ، له دې کبله په خدايي خدمتګارو کښې د وړوکي اميرمحمد په نوم يادېدۀ ځکه چې ستر امير محمدخان د ښاغلي محمد اعظم خان پلار ''خان لالا'' وۀ۔ د بغدادي امير محمد خان ، د ګوجرو ګړي ميا شاکر الله باچا ، باچا خان سره لاهور ته تلي وو۔ د ميا محمود على قصوري صاحب مېلمانۀ وو۔ هلته چې اورسېدل نو باچا خان حسب معمول ميا قصوري صاحب ته يادګيرنه ورکړه چې ځان ډېر مۀ کړوئ۔ د ساده ډوډۍ بندوبست وکړئ۔ هغۀ ورته لاس په نام شۀ خو ميا شاکر الله باچا ورته پټ غوندې ووې۔ باچا خان دې خوري ساده مونږ له سم انتظام وکړه۔ ميا صاحب دوي له هم تسلي ورکړه چې فکر مۀ کوئ ، هر څۀ به وشي۔ باچا خان ئې جدا کمرې ته بوتلو ، اوبۀ ، صابون، توليه ئې ورته کښېښودل چې مونځ اودس او لږ ارام وکړي۔ څۀ وخت پس باچا خان ته ډوډۍ کښېښودې شوه ، ساده دال ماستۀ وو، باچا خان ورته ووې ، هغو نورو دوو ته هم ووايئ چې راشي۔ ميا قصوري ورته وايي: هغوي له هلته ډوډۍ يوړلې شوه۔ تاسو دلته په ارام وخورئ۔ باچا خان ورته ووې '' خبر دے کۀ هغوي نۀ راځي نو زۀ به ورشمه ، مونږ خو يو ځاے راغلي يو۔ نو په يو ځاے به ډوډۍ وخورو۔ بيا باچا خان د دالو رکېبۍ او ډوډۍ په لاس کښې نيولې د هغوي کمرې ته ورغے ، هلته سرهٔ

کړي چرګان وو، غوښه او پلاو ، فيرني وغيره په مېز پراتۀ وو۔ باچا خان ورتلو سره ورومبۍ خبره دا وکړه :

نفس دربانډې داسې غلبه وکړه چې هر څۀ درنه
هېر شو۔ تاسو لاځان ته خدايي خدمتګار وايې۔

بيا ئې ووې :

په خپله خو راغلئ پلاو چرګانو ته کښېناستئ
نو دا دال خور درته زۀ ښکاره شوم ؟

عجيبه مصنف:

ځينو انټرويوګانو کښې به چې د باچا خان نه د غوره او خوښ کتابونو او مصنفانو په بابله پوښتنه وشوه او بيان به ئې کوو نو مُسکے به شۀ او صحافيانو ته به ئې په انګرېزۍ کښې ليکلے کتاب '' ګولډ اينډ ګنز'' په حواله وئيل :

تاسو به دنيا کښې داسې مصنف هډو ليدلے نۀ
وي چې په خپل کتاب ئې پخپله پابندي لګولې
ده۔

يادګيرنه:

دا مضمون ما د نوي سره ترتيب کړۀ خو دې کښې ما بيا هم د باچا خان د کتاب '' زما ژوند او جدوجهد'' څخه استفاده نۀ ده کړې ۔ باچا خان چې خپل کتاب کښې د جېل د سختيو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوراك څښاك د انتظامي معاملو د قېديانو د رويو ، د يو قېدي د لباس پوشاك ، د عدم تشدد په فلسفه د عمل كولو او د صبر استقامت د مظاهرو ذكر كوي نو دي كښې هم د بابا د شګفته مزاح او ځاے په ځاے د خوږ او تېرهٔ طنز مثالونه شته دے خو پكار دي چي دغه كتاب لوستونكي پخپله ولولي.

و ما توفيقي الا بالله

ميا وكيل شاه فقير خېل

د باچا خان تحريک او پښتو ادب

د پښتونخوا په دې سيمه كښې د پښتنو يو څو تحريكونه د وخت د تقاضوپه سبب راولاړ شوي وو. د دغه تحريكونو مقصد او نصب العين يو شان وو. هغه دا چې پښتانهٔ په لساني ، مذهبي ، سياسي، شعوري ، ثقافتي او تمدني لحاظ سره يو ځانګړے لوړ مقام لري او دوي ته دې هم دغه مقام حاصل شي خو د دغه مقام حاصلولو د پاره په دغه لار كښې استعماري او جابر قوتونه خنډان وو. دغه تحريكونو كښې د بايزيد پير روښان تحريك، د ستر ننګيال خوشحال خان ختك تحريك او د ستر فخر افغان باچا خان تحريك په نظر راځي. د دې درې واړو تحريكونو كړې د تاريخ مطالعه كوونكيو ته په قامي او سياسي توګه د يو بل سره تړلي ښكاري خو دلته دا وضاحت ضروري ګڼم چې د بايزيد روښان تحريك په اول كښې صوفيانه ، مذهبي او اصلاحي تحريك وهٔ چې بيا ئې ورستو د قامي او سياسي تحريك رنګ واخستهٔ. بايزيد روښان او ستر خوشحال خان بابا دواړه د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت استعماري او پښتون دشمن قوت مغل سره په جنګ مخ وو ـ ستر خوشحال خان بابا خو د افغان ننګ او پت ژړلو څکه ئې نعره کړه :

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالے د زمانې خوشحال ختك يم

خو د دې دواړو تحريکونو سره په هغه وخت کښې د پښتو ادب دوه مکتبونه وجود کښې راغلل ، دواړو مکتبونو په خپل ژور علمي انداز کښې د پښتو ادب او ژبې خدمت په فراخه توګه کړے دے او پښتو ادب ته ئې ډېر څۀ ورکړي دي ـ د روښانيانو ډلې د صوفيانه شعري ادب خورولو او وده ورکولو کښې لوے کردار ادا کړے دے ، دغه مکتب د مرزا خان انصاري ، دولت خان لواڼي ، علی محمد مخلص او ارزاني غوندې د لوي پائې شاعران پيدا کړل ـ د روښاني مکتب لويه کارنامه د پښتو ژبې رسم الخط ايجادول وو او بايزيد روښان هم د دغه رسم الخط ابتدا د خپل کتاب خيرالبيان په ليکلو سره کړې وه او د دغه شان خوشحال بابا هم د خپل مکتب سرخيل وۀ او دغه مکتب پښتو ادب ته په تاريخي ، تحقيقي ، نثري او شعري لحاظ سره لوړ مقام ورکړے دے او د پښتو ژبې ليك لوست ئې د وخت د تقاضو

مطابق په نوي رسم الخط سره اسان کړے دے ـ دغه مکتب د اشرف خان هجري ، سکندر خان ختك، ګوهر خان ختك، صدر خان ختك ، عبدالقادر خان ختك او افضل خان ختك غوندې لوے لوے شاعران او عالمان پيدا کړي وو او تر اوسه دغه مکتب د پښتو ادب ګلستان ښېرازه کړے دے ـ زما د دې بحث مطلب دا دے چې د پير روښان او خوشحال خان بابا تحريکونه سوچه قامي او سياسي وو ـ دې تحريکونو ته مونږ په خصوصي توګه ادبي تحريکونه نۀ شو وئيلې بلکې دا وئيلې شو چې د دغه تحريکونو په وجه د پښتو ادب دوه مکتبونه په وجود کښې راغلل او د دغه ادبي مکتبونو په دغه تحريکونو کښې د مخکښې بوتللو لوے لاس وو ـ

اوس راځو د شلمې صدۍ يو ډېر لوے منظم تحريك طرف ته چې مونږ ورته تعليمي، ادبي، قامي ، سياسي او شعوري تحريك وئيلې شو ـ د دغه تحريك محرك ستر پښتون مبارز فخر افغان باچا خان دے چې د جهالت په تيارو کښې پروت د بې علمه، بې اتفاقه او بدحاله پښتون په حالت غمژن او ويرژن کېږي او د دغه ارمان خاکه ئې ارواښاد فضل محمود مخفي د دې الفاظو سره مخکښې کوي :

زۀ د قوم په غم ژوندے يم دغه غم به په زړۀ تل وي
په څيګر سوے له دي يم سر کښې اور مې دې نه بل وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايه داسې ژوندون راکړې چې مې زړۀ کښې غم د قام وي
په دي غم کښې لېونے وې دغه غم په ما بارتل وي
خدايه داسې وخت به راشي چې زمونږ جهاز به هم وي
لکه باد به په هوا شي په ترخو اوبو به سم وي
زۀ به خپل جرنېل پسې يم په دشمن به داو کول وي
په ارمان ارمان له دي يم خدايه داسې وخت به کل وي

باچا خان يو سوچ خپل کړو، کۀ چرې پښتون په تعليمي او علمي لحاظ سره معمور شي نو هله به د خپل لساني، سياسي ، شعوري، ثقافتي او تمدني حالت نه خبر شي او د جهالت د تيارو نه به بهر شي او پښتون قام به د ترقۍ په لار مخکښې لاړ شي او دغه قلم او کتاب به د دۀ د روښانه ژوند ضمانت وګرځي۔

په دي باره کښې باچا خان د خپل کتاب " زما ژوند او جدوجهد " کښې ليکي :

زۀ په مشن سکول کښې د خپل هېډ ماسټر او د هغۀ د ورور ډاکټر وګرم نه ډېر متاثره وم ۔ د هغوي قربانيو راباندې ډېر اثر کړے وۀ ۔ زما هم دا خيال پيدا شوے وۀ چې د دې قام او وطن خدمت مې وکړې ۔ په دغو ورځو کښې زمونږ د قام د جهالت په وجه ډېر بد حالت وۀ ۔ نۀ د

حکومت له خوا څۀ انتظام وۀ او نۀ د قام له خوا ۔ د تعليم کولو هېڅ انتظام نه وۀ او کۀ په کوم کلي کښې به پرائمري سکول وۀ هغې ته به هم ملايانو څوك نۀ پرېښودل نو ما غوښتل چې د پښتنو د بچو د تعليم د پاره په ملك کښې اسلامي مدرسې جوړولو کوشش وکړم او خپل ژوند به په دي خدمت کښې تېروم ۔ په ۱۹۱۰ء کښې ما او مولوي عبدالعزيز صاحب يوه مدرسه په اتمانزو کښې جوړه کړه او د نورو مدرسو جوړولو د پاره مو په نورو علاقو کښې دوره شروع کړه ۔ د خلقو توجه مې د علم طرف ته کړه او د پښتنو په زړونو کښې مې د علم د ضرورت احساس پيدا کړۀ او دغه شان مو ورو ورو په مختلفو علاقو کښې د مدرسو جوړول شروع کړل په لږ وخت کښې ډېرې مدرسې جوړې شوې۔

تاريخ ګواه دے چې هر تحريك يو نصب العين او مقصد د پاره شروع کېږي نو په مخالفت کښې ئې خامخا څوك راوچتېږي نو دغه شان هم په دغه ورځو کښې د مدرسو جوړولو مخالفت کښې د هغه وخت ملايان، پيران او خانان راوچت شول او مخالفت ئې شروع کړۀ او په خپل تقريرونو کښې به ئې خلقو ته وئيل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبق د مدرسي وايي
د پاره د پيسي وايي
په جنت کښي به ئي ځاے نهٔ وي
په دوزخ کښي به غوپې وئ

خلقو چي به دا واوريدل نو خپل بچي به ئي منع کول.

په دغه حقله باچا خان وايي:

> په دغه وخت کښي قام د ملايانو او باباګانو په جال کښي ګېر وهٔ او د هغوي د اثر لاندي د بل چا اثر ئي لا نهٔ وهٔ منلي او يو قام هله د چا اثر قبلوي چي اثر والا پکښي پيدا شي کله چي ملايانو زمونږ د مدرسو مخالفت شروع کړهٔ نو د خپلو مدرسو د پاره مونږ د ترنګزو حاجي صاحب سرپرست وټاکهٔ نو په دي طريقه مونږ څهٔ نا څهٔ د ملايانو د تخريب نه بچ شو. د حاجي صاحب په وجه مونږ ته په دي کار کښي ډيره کاميابي حاصله شوه. (زما ژوند او جدوجهد صفحه ۲۹)

هر کله چي انګريز په دي خبر شهٔ چي پښتون قام په تعليمي لحاظ پرمختګ غواړي او دغه تعليمي پرمختګ سره به په پښتون قام کښي انقلاب راشي او دغه انقلاب زمونږ د پاره د يو لوے طوفان ذريعه وګرځي او دا يو داسي قام دے چي زمونږ د مقابلي طاقت او جرات لري نو ولي دي مونږ د

باچاخان عهد ساز شخصيت

دوي دغه منصوبي ختمي نهٔ کړو او هم په دي کوشش کښي لګيا شو. د دغه مدرسو جوړولو تحريك ناكامه كولو د پاره ئي هر قسم طريقي خپلي کړي. په دي دوران کښي د خلافت تحريك شروع شهٔ او د هجرت کولو اواز پورته شهٔ نو د دي سيمي پښتانهٔ هم افغانستان ته په هجرت لاړل. په دغه کښي باچا خان هم په هجرت لاړهٔ چي پنځلس کاله پس راغے نو وايي:

> د افغانستان او ازاد قبائلو چي مي حالت وليدهٔ او پنځلس کاله مي په هندوستان قبائلو او افغانستان کښي غرزي پرزي وکړي نو په دي نتيجه ورسيدم چي انقلاب د منډي کار او دومره اسان څيز نهٔ دے. انقلاب د سړي سيني کار دے. انقلاب علم او پوهه غواړي ، انقلاب عالمان او پوهان غواړي. د انقلاب د پاره د اشخاصو ضرورت دے. تهٔ ګوره چي زمونږ جذباتي ملګري په خومره جوش راوتلي وو ، ټول لاړل خوارهٔ وارهٔ شول نو کښيناستم د ځان سره مي ښهٔ فکر وکړهٔ ، په دي نتيجه ورسيدم چي زمونږ د قام نهٔ تجارت خوا ته توجه شته ، نهٔ د صنعت خوا ته ، نهٔ د زراعت خواته او نهٔ د تعليم خواته. د بلي خوا په رسمونو رواجونو کښي تر غوړو ډوب دے. په خانه جنګو اخته دے. داسي قام انقلاب نهٔ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولي او دا قام د دې بلاګانو خلاصول په کار دي
چې سیاسي شعور پکښې پیدا شي او دا کار یوه
پُر امنه فضا غواړي۔ تر دغه وخته پورې زهٔ په دې
عقیده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي۔
تشدد راته د انقلاب نژدې او د کامیابۍ لار
ښکارېده خو د تجربې نه وروستو راته معلومه
شوه چې د جنګ په وخت کښې اسونه نهٔ تیارېږي
نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس
کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم،
اول به د انقلابي اشخاصو د تعلیم او تربیت د پاره
قومي مدرسې جوړوم نو ځکه اتمانزو ته راغلم۔
زهٔ چې د هجرته بېرته راغلم نو د هغو مدرسو
بېرته جاري کولو کوشش مې کولو چې پېرنګیانو
د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې۔ (زما ژوند
او جدوجهد، مخ ۱۸۲۔۱۸۳)

باچا خان دغه تعلیمي او اصلاحي تحریك په منظم ډول
مخکښې بوتلل غوښتل نو په ۱۹۲۱ء کښې د انجمنِ اصلاح
الافاغنه په نوم تولے ئې جوړ کړهٔ چې د هغې مقصد او نصب
العین د پښتنو د غلطو رسمونو، رواجونو د اصلاح کولو د
تشدد نه د منع کولو او پکښې د قامولۍ د مینې او محبت
پیدا کول وو او هم په دغه کال ۱۹۲۱ء کښې ئې د انجمن د

سپوري لاندې په اتمانزو کښې د ازاد سکول بنیاد کښېښودهٔ۔
د دې سکول په بنیاد کښېښودو کښې د باچا خان سره قاضي
عطاء الله، میا احمد شاه، حاجي عبدالغفار خان،
محمدعباس، عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان، عبدالله
شاه او خادم محمد اکبر ملګرې وو۔
په دې حقله باچا خان په خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد کښې
لیکي:

مونږ د خلقو د پوهولو او پکښې د مینې محبت،
ورورۍ او قامولۍ د پیدا کولو د تعلیم شوق د
پیدا کولو او د قام نه د غلطو رسمونو رواجونو
ختمولو او د قامي مدرسو د پاره د مرستې
حاصلولو په غرض کلي په کلي کور په کور دورې
شروع کړې او په خلقو کښې مو د ژوند احساس
پیدا کړو۔ زما د دورو پېرنګي سره ویره پیدا شوه۔
سر هملټن زمونږ د صوبې چیف کمشنر وهٔ، هغه
زما باباجان وغوښتهٔ، ورته ئې ووې چې دا ځوے
دې څهٔ کارونه کوي، ټول خلق لمسوي۔ منع ئې
کړه۔ د دهٔ سکتر سعدالله خان د عمرزو خان وهٔ۔
هغهٔ مې باباجان ته وئیلي وو چې تهٔ ګوره چیف
کمشنر ستا ځومره احترام کوي۔ ځومره چې ستا
مني هغه هومره د چا نهٔ مني۔ تهٔ د دهٔ دخوشحالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره خپل ځوے منع کولې قدرې نهٔ شي ـ بابا مې راغے، زهٔ ئې کښېنولم ، راته ئې وئيل چې ځويه د دې کارونو نه لاس واخله ، ځان دې په مصيبت اخته کړے دے ـ سرکار هم خفه کېږي چې نور څوك ئې نهٔ کوي تهٔ ئې څهٔ کوې ـ ما ورته وې چې بنه ده بابا چې تهٔ وايې مهٔ کوه نهٔ به ئې کوم، ډېرو خلقو چې مونځ پرېښے دے نو زهٔ ئې هم پرېږدم خو تهٔ به بيا ما ته نهٔ وايې چې مونځ ولې نهٔ کوې ؟ بابا مې راته ووئيل چې مونځ خو فرض دے ـ ما ورته وې بابا دا علم خو هم فرض دے ـ بابا مې وې بنه ده څه کوه او بيا چيف کمشنر ته ورغے ورته ئې ووئيل چې صاحبه مونږ ستاسو د خوشحالۍ دپاره خپل دين نهٔ شو پرېښودې ـ (زما ژوند او جدوجهد مخ ۱۵۸ ـ ۱۸۲)

د باچا خان دا ارمان وهٔ چې د پښتون بچې دې د زمانې د نوي تعليم او د خپل ثقافت ، ژبې ، تاريخ نه واقف شي نو ځکه باچاخان مغربي او مشرقي علوم دواړه د پښتنو بچو ته په دغه مدرسو کښې ورکول غوښتل چې پښتون به د تعليم په وجه اتفاق او ورورولي مينه وپېژني او د ټوپك په ځاے به د قلم او کتاب په ذريعه خپل مرام ته ورسي ـ پېرنګے په خبره پوهه شو چې دا تحريك اوس د ختمېدو نهٔ دے او باچا خان او د هغهٔ

ملګري په خپلو ارادو کښې کلك دي او دوي مونږ هيڅ کله هم د خپلې لارې نه اړولي نهٔ شو ـ دوي په پېسو اخستې نهٔ شو او دا تحريك په خان ، مُلا ، پير باندې نهٔ ناکامه کېږي نو بله لار ورسره نه وه نو باچا خان ئې سره د انجمن اصلاح الافاغنه د ملګرو د دفعه 40 FCR لاندې په دسمبر ۱۹۲۱ء کښې ګرفتار کړل نور ملګري ئې خوشې کړل خو باچا خان ئې درې کاله قيد کړهٔ او په جېل کښې ورسره ناروا سلوك وشهٔ او تکليفونه به ئې ورکول چې دې به د خپلې خبرې نه واوړي خو دغه د غيرت او پت ډك پښتون چرته د خپلې خبرې نه اوړېدهٔ ـ مرګ ته تيار وهٔ خو دپښتون غلامي ئې نهٔ منله ـ د انګرېز دا خيال وهٔ چې د باچا خان نيولو سره به د مدرسو جوړولو دغه تحريك او انجمن اصلاح الافاغنه به ختم شي خو دې تعليمي تحريك په کلي کښې د مدرسو جال خور کړے وهٔ او مرکزي مدرسه د اتمانزو ازاد هايي سکول وهٔ او بيا هغه وخت راغلو کوم چې فخرِ افغان باچا خان سټرګي په لار وهٔ ، د دې مدرسو په ذريعه په هلکانو کښې د ديني ، مذهبي ، تاريخي او سياسي شعور پيدا شو او هم دې مدرسې د ماسټر عبدالکريم غونډي پوهه عالم، اديب، شاعر او دانشور پيدا کړهٔ او هغه به دغه تحريك کښې د خپل دماغ ، قلم او ژبې په ذريعه جوش او ولوله پيدا کوله ـ دې مدرسې د عبدالولي خان غونډې يو بې باکه جرې ستر سياستدان پيدا کړهٔ ـ دې مدرسې د عبدالغني خان غونډې د لويې پاې شاعر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اديب ، فلاسفر پيدا کړۀ . دې مدرسې د عبدالروف قربان غوندې شاعر او سياستدان په درګۍ ملاکنډ کښې پيدا کړۀ . دې مدرسې د سعادت خان جلبل په شان ملي شاعر پيدا کړۀ چې تر مرګه د باچا خان لمن ئې نۀ وه پرېښې او دغه شان په صوابۍ ، نوښار ، مردان ، کوهاټ ، بنو ، ډېره اسماعيل خان ، هزاره او قبائلي ايجنسو کښې د دې مدرسو نه چې څومره هلکان فارغ شوي وو هغوي د خپلو تقريرونو ، نظمونو ، تحريرونو په ذريعه اودۀ قام راويښول شروع کړل او دغه شان په پښتنو کښې د باچا خان د زړۀ ارمان په دمه دمه پوره کېدۀ او پښتون قام د علم د رڼا ليتکي بلول او په مخکښې تګ ئې کولو لکه څنګه چې وئيلې کېږي چې د هر تحريک په شا د هغه ژبې د ادب لاس وي او دغه ادب د اجتماعي فکر ترجمان شي او بيا د هغه ژبې قام ته د خپل منزل لارې ښايي او په دغه لارو بيا هغه قام يون کوي او په دې هرڅۀ کښې د اديب او شاعر ، عالم ، پوهاند ، دانشور لاس وي او دغه وجه وه چې دغه مدرسو کښې لوستونکيو هلکانو ته د ميا احمد شاه ، مولوي محمد اسماعيل ، خادم محمد اکبر ، تاج محمد تاج ، حاجي عبدالغفار خان ، عبدالاکبر اکبر ، محمد عباس خان غوندې پوهانو ، عالمانو ، اديبانو ، شاعرانو رهنمايي او د استاذۍ شرف حاصل وۀ . د باچا خان دې هلو ځلو سره پښتون راويښ شۀ ، خپل اقدار ئې وپېژندل ، د خپلې ژبې ، ثقافت او تاريخ نه

خبر شۀ او د انګرېز نه ئې د ازادۍ مطالبه وکړه . باچا خان پوهه شۀ چې زما حکمتِ عملۍ رنګ راوړۀ ځکه چې هغه د مخکښې نه د عدم تشدد لار خپله کړې وه . د ټوپک په ځاے د قلم نه کار اخستۀ او د قلم او کتاب په ذريعه ئې پښتون قام راويښ کړۀ . باچا خان او د هغوي ملګري په دې پوهېدل چې د دې تحريک د کاميابۍ انحصار په خلقو کښې جوش جذبه ولوله او غورځنګ به هله راپيدا کېږي چې زمونږ د تعليمي تحريک په نتيجه کښې جوړو شويو مدرسو کوم عالمان ، پوهان ، شاعران ، اديبان ، دانشوران ، فنکاران او سياستدانان پيدا کړي هغوي دې کلي په کلي کور په کور حجره په حجره او جومات په جومات وګرځي او د خپلو ملي او قامي انقلابي شعرونو ، ليکونو او تقريرونو په ذريعه خپل پيغام پښتنو ته ورسوي او هم دغه شان دې ثقافتي ، ادبي جرګې او تنظيمونه قائم کړي . انجمن اصلاح الافاغنه دا فيصله وکړه چې هر کال به د دې انجمن د سپورې لاندې کليزې جلسې کولې شي ، په دغه جلسو کښې به مشاعرې او ډرامې هم کېږي او په دې سره به د پښتو ادب او ثقافت ارتقا ومومي . د دې فيصلې په رڼا کښې انجمن اصلاح الافاغنه په اپريل ١٩٢٧ء کښې د يو طرحي مشاعرې او ډرامې اهتمام وکړۀ او کومو شاعرانو چې ښه نظمونه وئيلي وو هغوي ته ئې انعامونه او تمغې هم مقرر کړې . د دغه اولنۍ مشاعرې طرحه وه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

"کهٔ زلمي چرې په خپل وطن قربان شي "

په دې مشاعره کښې اول انعام اروابناد عبدالخالق خليق صاحب د سرو زرو تمغه واخسته، دويم انعام اروابناد فضل محمود مخفي صاحب د سرو سپينو ګډه تمغه واخسته او دريم انعام د کوهاټ مولانا ګل احمد صاحب ته د سپينو زرو تمغه ورکړې شوه - د اروابناد خليق صاحب د نظم څو شعرونه په دا رنګ وو :

د سرحد صوبه به هم يو ګلستان شي
کهٔ زلمي چرې په خپل وطن قربان شي
چې د خپل وجود اختيار ئې لاس کښې نهٔ وي
په تش نوم به څهٔ امير شي څهٔ به خان شي
هيڅ مشکله نهٔ ده ازادي خليقه
خو کهٔ څوك د اتمانزو په پل روان شي

او دغه شان په دغه جلسه کښې د عبدالاکبر خان اکبر ليکلې شوې ډرامه "درې يتيمان" په نوم ستيج شوې وه - خان عبدالولي خان په دې ډرامه کښې د مشر يتيم کردار ادا کړے وهٔ - عبدالولي خان په خپل کتاب " باچا خان او خدايي خدمتګاري " کښې د دې ډرامې په حقله ليکي :

دا د يو غريب زميندار د کورنۍ قيصه وه چې
هغه عاجز د ماليې د ورکولو نهٔ وهٔ نو په هغې

کښې ئې کور تالا شوے وهٔ او هغه زندان ته ليږلے شوے وهٔ - د هغهٔ نه وروستو دوه ماشومان بچې پاتې شوي وو - زهٔ پخپله په دغه ډرامه کښې وم او د مشر يتيم کردار مې په غاړه وهٔ چې زمونږ کور تالا شو ، پلار رانه پوليس د ملك په بنودنه بوتلو نو يو ساعت پس زما دا کشر ورور ما ته په ستيج په ژړا شو - وې ورېږے يم ، ستيج ته مخامخ په زرګونو خلق ناست وو ، په دې ډرامه کښې بالکل بوختت، دې هلك چې ما ته په دويم ځل ووې چې لالا زهٔ ورېږے يم نو په دې مخامخ ناستو تماشګيرو نه يو بوډا راپاڅېدهٔ ، نيغ ستيج ته راغے، ما چې ورته وکتل نو سترګې ئې د اوښکو ډکې وې ، هغه ئې د پټکي په پلو اوچې کړې ، د ترخ د جيب نه ئې څهٔ راوايستل او ما له ئې په لاس کښې کښېښودل او ډېره په تسله ئې ما ته ووې چې بچے خفه کېږه مه ، دا واخله او خپل دې ماشوم ورور له پرې ډوډۍ واخله ، ما چې وکتل نو هغهٔ زما په لاس کښې يوه روپۍ او شپږ انې پرېښې وې -

(باچا خان او خدايي خدمتګاري مخ ۳۷۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شان د پښتونخوا په دې سیمه دغه اولسي مشاعره اولنۍ مشاعره او دغه ډرامه "درې یتیمان" اولنۍ ستېج ډرامه وه چې اعزاز ئې دغه انجمن ته حاصل دے۔

د ګران پوهاند ډاکټر همایون هما صاحب د وینا مطابق:

> رضا همداني "درې یتیمان" ته د پښتو ادب ورومبۍ تسویدي ، عملي او منظمه ډرامه وئیلي ده - (پښتو مجله ، درې میاشتنۍ - جولايي، ستمبر ۲۰۰۷ء صفحه **۵۲**)

په کال ۱۹۲۸ء کښې د اپریل په یویشتمه نېټه په کلیزه دستوره کښې په اتمانزو کښې یوه بله طرحي مشاعره د حاجي عبدالغفار د صدارت لاندې وشوه چې طرحه ئې دا رنګه وه :
" کۀ دې خیال د ازادۍ د خپل وطن شي"

هم په دغه جلسه کښې یوه بله ډرامه د عبدالاکبر خان اکبر لیکلې د "تر بور" په نوم ستېج شوې وه ، دغه هم یوه اصلاحي ډرامه وه ؛

د دې جلسې باره کښې عبدالخالق خلیق صاحب په خپل کتاب " زۀ او زما زمانه" کښې لیکي:

> په دې کال کښې چې موسم وۀ د بهار صدارت کښې د حاجي عبدالغفار اتمانزو کښې جلسه وشوه عالیشانه عالمونه وو راغلي له هر خوا نه

باچاخان عهد ساز شخصیت

> د تېر کال په شان ډرامه پکښې هم وشوه
> د پښتو مشاعره پکښې هم وشوه
> طرحه دا وه کۀ د چا یاده تر نن وي
> "کۀ دې خیال د ازادۍ د خپل وطن وي"
> کوم یو نظم چې له ټولو وۀ بهتر
> هغه شمېر شو د خادم محمد اکبر
> دویم نظم د تورسم کاکا حساب شۀ
> د شېرپاو فضل واحد دریم کامیاب شو
> (زۀ او زما زمانه ، صفحه: **۴۲**)

د دغه ډرامې باره کښې سید صابر شاه صابر په خپل کتاب " د رڼاګانو محفلونه" کښې لیکي :

> په کال ۱۹۲۸ء کښې د ازاد سکول په کلیزه غونډه کښې په اتمانزو کښې بله ډرامه هم د عبدالاکبر خان اکبر د "تربور" په نوم د ستېج په سر وښودلې شوه۔ دې ډرامې اصلاحي اړخ لرلو۔ د دې ډرامې اصلي کاپۍ په ۱۹۳۰ء کښې هغه وخت د مېنځه لاړې چې د عبدالاکبر خان اکبر د کور تلاشي انګرېز سرکار وکړه او هغه "تربور" نومې ډرامه ئې هم د هغۀ د نور ډېر منظوم کلام سره په خپله قبضه کښې واخسته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د رڼاګانو محفلونه، د ادبي جرګو مرکو تاريخ، مخ ۴۴)

په ۲۱م اپريل ۱۹۳۰ء په اتمانزو کښې يوه ډېره درنه جلسه وه چې د صوبې د ګُټ ګُټ نه ورته پښتانهٔ راغلي وو . په دغه جلسه کښې د انجمن اصلاح الافاغنه او د خدايي خدمتګارو جرګې الحاق وشهٔ. په دغه جلسه کښې يوه درنه مشاعره هم شوې وه چې په ګڼ تعداد کښې شاعرانو په کښې ګډون کړې وهٔ. د دې طرحي مشاعرې طرحه دا رنګه وه :

جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي

د دې مشاعرې په حقله احمد کاکا په خپل کتاب ''خدايي خدمتګاري'' کښې ليکي :

> شپې له مشاعره وه ، د ټولې صوبې نه شاعران راغلي وو. قابلِ ذکر کسان پکښې دا وو ؛ ګل احمد د مرغز، تورسم د دوه سرو، فضل واحد ملا د شېرپاو، حبيب الله کاکا د ترنګزو، سيدرسول رسا بدرښو، عبدالاکبر اکبر د عمرزو، عبدالخالق خليق د ماڼکي، خادم محمد اکبر د چارسدې، ميا شاکرالله د نوښار، نصر الله د اتمانزو او نور هم ډېر وو خو ماته ئې نومونه نهٔ دي ياد. د مشاعرې طرح دا رنګه وه:
>
> ''جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي''

د مرغز ګل احمد په دې طرح دا نظم وئيلے وهٔ :

جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي
را به وړې غونچې د ګلو نن پرون کښې تلي دي
باز کهٔ د غماز په منګل ناست دے هېڅ پروا نشته
مونږ د زړهٔ په غوښو باتوران ورته ساتلي دي
نهٔ کوي تعليم د ازادۍ پښتونه ړوند شولي
تا د غلامۍ په مدرسه کښې څهٔ لوستلي دي
جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي
رابه وړې غونچې د ګلو نن سبا کښې تلي دي
نخښنه د مراد زمونږ به درنګ ساعت له ولګي
مونږ ورله خپل کور د اتفاق ګولۍ ساتلي دي
مهٔ کوه غفلت پښتونه نور اوس ويښ د خوبه شه
څهٔ رنګ چې الفاظ د ګل احمد له خلې وتلي دي
جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دی
رابه وړې غونچې د ګلو نن پرون کښې تلي دي

دا نظم ګل احمد او فردوس اورلے وهٔ . د دواړو اوازونه ډېر ښکلي وو. مشاعره تر ډېره وخته پورې جاري وه. د دې د پاره خليق صاحب ، خادم صاحب او تورسم دوي مقرر وو چې نمبرې ورکړي. دوي ګل احمد له اول ، فضل واحد ملا له دوېم او تورسم له درېم نمبر ورکړهٔ . په انعامونو کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاندۍ تمغي، نومونه ورباندې ليکلي وو ـ دې مشاعرې خلق داسې کړل لکه چې په اور تېل واچوي۔

(خدايي خدمتگار تحريك ورومبې توك، احمد كاكا۔ صفحه: ۱۸۷، ۱۸۲، ۱۸۵)

عبدالخالق خليق په خپل کتاب "زۀ او زما زمانه" کښې د دې مشاعرې په باره کښې ليکي :

په شلم او يويشتم مياشت د اپرېل
اتمانزو ته خلق راغلل ډېر په سېل
سالانه جلسه وه بيا د انجمن
ورته راغلل عالمونه د وطن
پکښې وشو قسماقسم تقريرونه
رنګارنګ هم پکښې وشو تجويزونه
د شپې وشوه ښۀ درنه مشاعره
ګل احمد صاحب ته ورکړې شوه تمغه

د انجمن د کليزو مشاعرو او ډرامو نه علاوه نورې مشاعرې او ډرامې د انجمن له اړخه شوې دي لکه په ۱۹۳۰ء کښې د عبدالخالق خليق ليکلې ډرامه "د خدايي خدمتګار" په نوم د فخر قوم ميا صاحب په خواهش په زيارت کاکا

صاحب کښې په يوه جلسه کښې ستيج شوې ده ـ د دغې ډرامې هيرو د خليق صاحب ورور عبدالمالك وۀ۔

په دې باره کښې ګران پوهاند ډاکټر محمدهمايون هما صاحب درې مياشتنۍ پښتو جولايي ـ ستمبر ۲۰۰۷ء ، په خپله يوه مقاله "ښکلا" کښې ليکي :

د پښتو اولنۍ ډارمې "درې يتيمان" نه پس چې کومې ډرامې زمونږ مخې ته راغلې هغه د رضا همداني د وينا له مخه د امير نواز خان جليا "درد" (۱۹۳۰ء)، د عبدالخالق خليق "خدايي خدمتګار" (۱۹۳۰) او شهيده سکينه او د فضل رحيم ساقي "سپېرۀ مرګې" (۱۹۳۵ء):

او هم په دغه مقاله کښې ډاکټر پروفيسر هما صاحب بل ځائے ليکي:

د پښتو د ورومبۍ طبعزادې ډرامې "درې يتيمان" مصنف عبدالاکبر خان اکبر د "جونګړه" په نامه خپله دويمه ډرامه په کال ۱۹۴۵ء کښې ليکلې وه چې عمرزو او شاهي باغ کښې ستيج شوه او په کال ۱۹۴۲ء کښې چاپ کړې شوه ـ په جونګړه کښې د اولس د معاشي بدحالۍ او د شتۀ منو د لاسه د هغوي د تريخ ژوند نقشه رابښکلې شوې وه او ورسره قام ته د سياسي شعور

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو درس هم په کښې موجود دے - (درېځ مياشتنۍ پښتو ، جولايي ، ستمبر ۲۰۰۰)

باچا خان چې دپښتون قام د پوهې ، علم، تعليم ، د خپلې ژبې ثقافت، تاريخ نه د خبرېدو او په عملي شکل کښې راوستولو د پاره کومه حکمت عملي خپله کړې وه هغه په هغې د کاميابۍ په طرف تګ کولو روان وۀ او کاميابي ئې موندله - هغه په دې نتيجه اورسېدۀ چې ما کوم تحريك شروع کړے دے نو په پښتو کښې د دې تحريك د کاميابۍ د پاره نورې ذريعې لتهول پکار دي او هغه د پښتو ادب دے چې دا د ابلاغ يوه لويه ذريعه ده - لکه څنګه چې مخکښې په تفصيل سره ذکر وشۀ چې د انجمن له خوا د مشاعرو او د ستېج ډرامو اهتمام په ډېر زور او شور سره وشۀ او د پښتو ادب په ترقۍ کښې دغه صنفونو ډېر لوے کردار ادا کړۀ او تحريك ئې د صوبې په ګوټ ګوټ کښې متحرك کړۀ خو باچا خان لا هغسې پوره مطمئن نۀ وۀ ، ولې چې هغه دپښتون قام سره يوه لېونۍ مينه لرله او دې مينې هغه په قلار نۀ پرېښودۀ - هغه د خپل قام او دپښتو ژبې ترقي غوښتله څکه خو باچا خان په خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې ليکي :

> په جېلخانه کښې ما د خپل قام په حالاتو په ښۀ شان سره غور کړے وۀ - زۀ په دې نتيجه ورسېدم چې په دنيا کښې هېڅ يو قوم بغېر د

> خپلې ژبې ترقي کولې نۀ شي او په هغوي کښې علوم او فنون پېدا کېدے نۀ شي - ما دا اراده کړې وه چې ضرور به يوه رساله په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو ، د دنيا د حالاتو نه د خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته مائل کولو (مخ کولو) د پاره جاري کوم او د دې کوشش به هم کوم چې انجمن پخپله ژبه کښې د بچو د پاره د ابتدايي تعليم انتظام وکړي - حقيقت دا دے چې دغه وخت په پښتو ژبه کښې هېڅ نۀ وو او پښتو د چا ياده وه؟ او پښتون قوم دومره ناپوهه ، نادانه وۀ چې دا خپله ژبه ورته سپکه ښکارېده او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي نو هغه سپك شي او چې خپله ژبه ترې ورکه شي نو هغه وروك شي - د راتلو سره ما دا دوه خبرې انجمن ته پېش کړې ، انجمن دې خبرو سره خو اتفاق وکړۀ لېکن د مالي مشکلاتو په وجه پرې عملي قدم فوراً اخستلے نۀ شۀ - د رسالې ذمه واري ما په خپل سر واخسته او عبدالاکبر خان او عبدالله شاه ته دا خبره حواله شوه چې د رسالې د جاري کولو د پاره اجازت نامه دې د حکومت نه واخلي لېکن په مېنځ کښې درې کاله تېر شو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي د اجازت نامې د پاره یو درخواست قدرې هم ونهٔ کړې شهٔ ـ زهٔ پوهه شوم چې بغېر زما نه دا کارنه شي کېدے او د ۱۹۲۷ء په اخر کښې ما دې کار ته پخپله ملا وتړله او دا کار مې په خپل لاس کښې واخستهٔ ـ د اجازت نامې د پاره مې حکومت ته درخواست ورکړهٔ ـ اجازت نامه مې حاصله کړه او په ۱۹۲۸ء کښې مې د پښتون په نوم یوه رساله د پښتو په ژبه کښې د اتمانزو نه جاري کړه ـ افسوس خو په دې دے چې پښتون دومره لوے قوم او خداے ورله د نعمتونو او دولتونو ډك ملك ورکړے دے ، نهٔ د دهٔ په خپله ژبه کښې یوه رساله او نهٔ یو اخبار شته ـ دا د پښتو ژبې اولنۍ رساله ده چې د پښتنو په ملك کښې جاري شوه ـ پښتون قوم ډېر خرچي دے لېکن دې قسم ځیزونو باندې پیسې نه لګوي او په دې قسم ځیزونو خرچ کولو سره نا اشنا او نابلده دي ـ ډېرې پیسې ما د خپل جیب نه پرې خرچ کړې ـ دې رسالې د پښتنو په ښځو او نرو کښې یوه نوې زندګي پیدا کړه او دا رساله په پښتنو کښې ډېره هردلعزیزه شوه ـ دا خپل ملك خو پرېږده په

یورپ ، امریکه او استرېلیا کښې د دې نه خبر شو نو هغوي به غوښته او امداد به ئې هم ورسره کوهٔ ـ د پښتنو ئې پښتو طرف ته شوق پیدا کړهٔ ـ

(زما ژوند او جدوجهد ، مخونه: ۲۳، ۲۳۴، ۲۳۳)

د پښتون رسالې د ورومبۍ ګڼې مدیر عبدالغفار خان باچا خان وهٔ او کشر مدیر ئې خادم محمد اکبر وهٔ ـ د پښتون رسالې په ورومبي مخ یعنې ورومبۍ پاڼه باندې د قامي شاعر خادم محمد اکبر دا شعر لیك وهٔ:

نهٔ کلونه د غلام په غلامۍ کښې
نه ساعت د ازادۍ کهٔ ځنکدن وي

محترم پروفیسر ډاکټر محمد همایون هما صاحب په خپل کتاب '' په سرحدي صوبه کښې د صحافتي او ادبي مجلو روایت'' کښې لیکي:

''پښتون'' په دغه زمانه کښې د پښتو ورومبۍ رساله وه او په دې کښې به د هغې وخت د ټولو نوموړو شاعرانو او د قلم د خاوندانو لیکونه چاپ کېدهٔ ـ په کال ۱۹۳۰ء کښې چې کله باچا خان د پېرنګي حکومت ونیولو نو د پښتون اشاعت هم بند شهٔ ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مئي ۱۹۳۱ء کښې رساله په دویم ځل جاري شوه او په دغې دویم دور کښې نوموړے شاعر او ادیب عبدالخالق خلیق د پښتون مدیر وټاکلے شۀ . هغۀ د دسمبر ۱۹۳۱ء پورې پرچه ښۀ په باقاعدګۍ سره جاري وساتله خو تر دغې میاشت پورې د اتو اشاعتونو نه پس د باچاخان د ګرفتارۍ په وجه بیا بند شوه . په کال ۱۹۳۸ء کښې په درېم ځل د پښتون اجراء وشوه او چې کله په ۱۹۴۱ء کښې د مجلې د واکمنو نه حکومت ضمانت وغوښتۀ نو د مالي تنګسیا په وجه په مجبورۍ رساله بند کړې شوه . په کال ۱۹۴۵ء کښې په سرحدي صوبه کښې د ډاکټر خان صاحب د وزارت په وخت کښې د پښتون اشاعت په څلورمه پېره شروع شۀ او د پاکستان د جوړېدو پورې جاري پاتې شۀ . په کال ۱۹۴۷ء کښې د حکومت له اړخه د رسالې په اشاعت پوخ بندېز ولګېدۀ . (صفحه: ۵۲م۵۴، ۵۳)

ګران ډاکټر هما صاحب هم په دغه کتاب کښې وړاندې لیکي:

د "پښتون" عمومي مزاج سیاسي وۀ . د خدايي خدمتګار تحریك خبرونه د باچا خان تقریرونه د ملك د سیاسي مشرانو د اهمو تقریرونو ترجمې

به په مجله کښې په باقاعدګۍ سره چاپ کېدې . وخت په وخت به په کښې د معلوماتي ، اصلاحي رنګ، ادبي ، تاریخي او تحقیقي لیکونه هم چاپ شو . باچا خان په ذاتي توګه د پښتون رسالې په اشاعت کښې ډېره دلچسپي لرله . په اتمانزو کښې د هغۀ حجره د مجلې دفتر وۀ . وروستو دغه دفتر سردریاب ته منتقل شۀ . پښتون د خپل وخت یوه درنه معلوماتي مجله وه او د پښتو صحافتي ادب په تاریخ ئې دوامي نقشونه ثبت کړي دي (صفحه: ۵۵، ۵۴)

کۀ مونږ د باچا خان د تحریك یوه لنډه شان جائزه واخلو نو مونږ په دې نتیجه رسو چې د باچا خان تحریك د پښتون د پوهې، علم او ترقۍ د پاره وۀ . هغۀ دپښتون ژوند د سوکالۍ او خوشحالۍ سره لیدل غوښتل ، هغه د عدم تشدد قائل وۀ . هغۀ پښتون د جهالت د تیارو نه بهر کول غوښتل . هغه په پښتون قام کښې د ځان پېژندګلو غوښتله . هغه پښتون د تجارت ، صنعت او زراعت په میدان کښې اختیارمند جوړلو د پاره هلې ځلې کولې نو څنګه چې وئیلې شي ادب او ژوند سره لازم او ملزوم دي نو هغه هم د خپل تحریك د کامیابۍ د پاره د پښتو ادب لمن هم ټینګه نیولې وه او هم په دې پوهه وۀ چې د هر تحریك په شا د ادب لاس وي او کۀ مونږ سوچ وکړو نو د باچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان تحريك کۀ په اصلي معنو کښې د سياسي بېدارۍ تحريك وۀ نو ورسره ئې په قام کښې د ادبي شعور د بېدارولو د پاره هم کوشش کړے دے ولې چي ادب خو په مدرسو کښې زده کېږي او د هغۀ دغه مقصد او نصب العين وۀ چي پښتو ژبه او پښتون قام دې د نورو ژبو او قامونو سره په يو صف کښې اودرېږي ـ دغه وجه ده چي باچا خان او د هغۀ ملگرو پښتون قام د مشاعرو، ډرامو د تحرير او تقرير په ذريعه په هر ميدان کښې د انقلاب راوستلو درس او پيغام ورکړے دے ـ دا اعزاز او فخر باچاخان او د هغوي ملگرو ته حاصل دے چي په دې سيمه ئې د اولنۍ مشاعرې او سټيج ډرامې بنياد کېښود او ولې به ئې نه کېښېښودۀ ځکه چي انجمنِ اصلاح الافاغنه په بنيادي نکاتو کښې دا دوه خبرې شاملې وې:

❖ دا جرگه به د پښتو ادب په خاطر په کال کښې يو ځل په اتمانزو کښې د ټولې صوبې د شاعرانو د مشاعرې او په سالانه جلسه کښې د شموليت دعوت ورکوي ـ

❖ دا جرگه به د اولسي شاعرانو حوصله افزايي کوي او ناچارو سره به حسبِ توفيق مدد کوي ـ

(د برصغير پاك و هند ازادۍ کښې د پښتنو برخه ، مخ ۷، ۸ ـ عبدالاکبر خان اکبر ، انجمنِ اصلاح الافاغنه)

د دې نه معلومېږي چي د انجمنِ اصلاح الافاغنه مشرانو ته دا پته وه چي دا تحريك بغير د پښتو ادب نه نيمگړے دے او تر

باچاخان عهد ساز شخصيت

څو چي پښتنو خپله ژبه زده کړې نه وي نو تر هغې دوي ته د علم او پوهې مقام ته رسېدل گران دي ـ لکه ستر مشر عبدالولي خان په خپل کتاب "باچا خان او خدايي خدمتگاري" کښې ليکي:

چي کله به دوېم جماعت پاس پښتون هم په پښتو کښې خبرې کول خپله بې عزتي گڼله په اردو کښې خبرې کول او اردو کښې خط ليکل به خپله پښتو ژبه کښې په خبرو کښې د اردو او فارسۍ غټ غټ ټکي ورټومبل به خلقو ته د تهذيب او تعليم نخښې ښکارېدې او چي چا له به څو ټکي انگرېزي ورتلله نو هغه خو بيا را پرې مۀ شي ـ هغه خو به ځان د باچا (انگرېز) سره سيال گڼلو او د وخت بې وخته او د بې ضرورته انگرېزۍ ټکي استعمالول به ئې اورېدونکي متاثره کړي او په هغوي د خپل علم او پوهې رعب کېښنوي ـ کله چي خپلې ژبې پښتو ته د خلقو توجه راوگرځېده نو هغې سره ضروري وه چي پښتون د ژوند په دغه اړخ به هم ډېر ښۀ اثر وشي ، چي کله ليکل او لوستل په پښتو کښې شي نو د لوستلو د پاره ورله تابيا پکار ده نو باچا خان په خپله يوه مياشتنۍ رساله د پښتون په نوم د اتمانزو نه وېستله او په دې طريقه په پښتو ژبه کښې په اول ځل د قلمي انقلاب بنياد کېښېښودې شۀ ـ انقلاب ورته زۀ ځکه وايم چي اولنې قدم په دې سلسله کښې پښتنو شاعرانو پورته کړۀ ـ شاعري اوسه پورې يواځې گل او بلبل، سنه او وربل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپېره چورلېده ، ولې دې نوي انقلاب سره شاعري د اولسي ښېګړې یوه ذریعه وګرځولې شوه - پښتنو شاعرانو او لیکوالانو ته یوه نوې نخښه کښېښودې شوه چې به هغوي پرې خپل متهونه وګوري -

(باچا خان او خدایي خدمتګاري - مخ: ۳۷۲ ، عبدالولي خان)

مونږ په دې نتیجه رسو چې دا تحریك د پښتون قام او ژبې ، ثقافت ، تهذیب ، تاریخ ته د لوړ مقام ورکولو تحریك وه او د دې تحریك د پرمختګ د پاره د پښتو ادب په لاره خپل تګ کول دي ، هله به خپل مرام ته رسي خو ورومبې به دا تحریك د پښتو ژبې او ادب تحریك ګرځول وي او هم هغه شان وشو - دې قامي تحریك یو پښتو ادب ته لویه برخه ورکړه ځکه نو مونږ ورته د پښتو تحریك هم وئیلې شو - ځکه چې دې تحریك پښتو ادب کښې ستر پوهان ، ادیبان ، شاعران ، دانشوران او لیکوالان پیدا کړي دي چې پښتو ژبه ئې ژوندۍ ساتلې ده - په دې حقله ستر پوهاند ، ادیب ، شاعر او محقق ډاکټر هما صاحب په خپله یوه مقاله کښې "تحریك او ادبي تحریك" د سر خط لاندې لیکي:

> په شلمه صدۍ کښې د باچا خان د قامي تحریك په رڼا کښې چې کوم ادب پیدا شۀ هغه البته د تحریك غوښتنه پوره کوي او مونږ دغې ادب ته د قامي تحریك نوم ورکولې شو -

باچاخان عهد ساز شخصیت

(میاشتنۍ ننګ ناموس، مردان - ۱۹۹۲ء)

د دې دومره اوږد بحث نه دا نتیجه راولاړېږي چې د باچا خان تحریك پښتون قام ته ډېر څۀ ورکړي دي - پښتون قام ئې د تعلیم، علم ، پوهې په رڼا منور کړے وۀ او د جهالت د تیارو نه ئې راوېستے او خپل مقام د پېژندګلو لار ئې ورته د پښتو ادب په ذریعه ښودلې یوه هڅه کړې وه چې نن هغه ارمان د هغه ستر بابا پوره شۀ او پوره کېږي -

دلته به د علامه اقبال د یو فارسي شعر سره دا مقاله ختمه کړم :

شعر کجا و من کجا شعر و سخن بهانه ایست
سوئے قطار مي کشم ناقۀ بے زمام را

ترجمه:

چرته شعر او چرته زۀ ، شعر او سخن خو تشه یوه بهانه ده - د ملت د بې مهاره اوښې د وحدت د قطار په لوري راسمول دي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابیات:

1. زما ژوند او جدوجهد۔ عبدالغفار خان ، کابل چاپ ۱۹۸۳ء
2. باچا خان او خدايي خدمتګاري ورومبے ټوک ۔ عبدالولي خان، د چاپ ځاے پېښور، ۱۹۹۲ء
3. د برصغیر پاك او هند په ازادئ کښې د پښتنو برخه ۔ عبدالاکبر خان اکبر ، انجمنِ اصلاح الافاغنه ،یونورستي پبلشر افغان مارکيټ قيصه خوانئ پېښور ، ۲۰۰۹ء
4. له پير روښانه تر باچا خانه ۔ علی خان محسود ۔ دانش خپرندوي ، قيصه خوانئ پېښور
5. په سرحدي صوبه کښې د صحافتي او ادبي مجلو روايت ، د ۱۸۵۴ء تا ۱۹۷۵ء پورې ۔ ډاکټر محمد همايون هما ، سهيل پرنټرز مردان ۲۰۰۹ء
6. خدايي خدمتګار تحريك۔احمد کاکا ، يونيورستي بك ايجنسي، پېښور ۱۹۹۱ء
7. زۀ او زما زمانه۔ عبدالخالق خليق، اداره اشاعت سرحد پېښور ، ۱۹۷۴
8. د رڼاګانو محفلونه ۔ سيد صابر شاه صابر يونيورستي بك ايجنسي خيبر بازار پېښور ۱۹۹۴ء

9. د عبدالخالق خليق د ژوند او ادبي خدمات۔ مذکر شاه خليل، ملت پرنټرز لاهور، ۲۰۰۱ء
10. د ښکارندوي غوري په قصيده مشاعره۔ ګل باچا الفت ، کابل چاپ ۱۹۸۳ء
11. د پښتو پرون ، نن ، سبا ۔ اسير منګل ، دانش خپرندوي، قيصه خوانئ پېښور ۲۰۰۵ء
12. د پښتو ادبي تحريکونه ۔ ډاکټر راج ولي شاه خټك ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ۱۹۸۹ء
13. مياشتنئ ناموس۔ مردان، ۱۹۹۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر محمد زبیر حسرت

د باچا خان بابا خبرې

❖ په ماشوموالي کښې چې څۀ عادتونه په بچو کښې پیدا شي نو چې بیا غټ (لوے) شي نو هم پکښې وي او په ډیره مشکله د هغو بدو عادتونو نه خلاصیدے شي۔

(زما ژوند او جدوجهد ۱۷ مخ)

❖ ربښتیا خبره دا ده چې ظالمان بهادران نۀ وي ، ډیر بُزدله او بې ایمانه وي ، بهادر سړے هېچرې په چا ظلم نۀ کوي (مخ ۲۲)

❖ یوه ورځ زما پینبه ګزك شوي وه ، ډاکټر وګرم خبر شۀ ، راغے، زۀ ئې خپلې بنګلې ته بوتلم اوبۀ ئې ګرمې کړې زما پینبه ئې ووینځله او بیا ئې زما په پینبه پټۍ ولګوله ۔ربښتیا خبره خو دا ده چې زمونږ د رسول صلی الله علیه وسلم په قول "خیرالناس من ینفع الناس" باندې دوي عمل کړے دے ، وایه زمونږ، چې ناس یعني د خداے مخلوق خو لا پریږده د خپل قام، ورور او عزیز خدمت کولو ته تیار نۀ یو ، خدمت خو لا پریږده په اور کښې

رانه ولاړ وي او څکه خو خداے خوار او ذلیل کړي یو۔

ما کښې چې د انسانیت ، قوم پرستۍ، ورورۍ ، عزیزولۍ او وطن دوستۍ او د خداے د مخلوق د خدمت کومه جذبه پیدا شوې ده په هغې کښې زما د دې استاذ وګرم ډیر لاس دے۔ ما به دا فکر کوۀ چې دوي د کوم ځاے نه راغلي دي ، زمونږ د قامه نۀ دي ، زمونږ په مذهب نۀ دي ، دلته راغلي دي او زمونږ د بچو خدمت کوي او غریبانانو ته د خپلې ګېډې برخه ورکوي او زمونږ خپل وطن دے، زمونږ خپل بچې دي، زمونږ خپل قوم دے او مونږ د هغوي د پاره هېڅ نۀ کوو۔بیا به مې دې خپل قوم او ملك طرف ته خیال لاړ نو ما به دې ته ډیر فکر کاوۀ چې زمونږ خانان ، نوابان، ملایان او تعلیم یافته خلق سره د دې چې مونږ یو قوم یو ، یو وروڼه او یو مذهب یو خو دا جذبه راکښې نشته چې د دې خپل غریب قوم د بچو سره امداد وکړو ۔

(۲۸-۲۹ مخونه)

❖ زۀ د وړوکوالي نه کفایت شعاره وم او د خپل خرڅ د پیسو نه به مې بچت کاوۀ۔ هم دا وجه ده چې ما پخپل ټول عمر کښې د چا نه قرض نۀ دے غوښتے او نۀ چاته مختاج شوے یم۔خلقو زما نه قرضونه اخستي دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو رانه خوړلي دي او زما د وررور خان صاحب مټ لړ ارت وۀ. (۲۹مخ)

- ❖ خداے بې نیازه دے. هېڅ شي او هېڅ چا ته مختاج نۀ دے. کۀ خېراتونه دي کۀ زکات دے کۀ صدقات دي ، کۀ مونځ دے ، کۀ روژه ده ، کۀ حج دے ، دا ټول زمونږ د ښېګړې دپاره دي ، کۀ ښۀ کوې د ځان دپاره دي او کۀ بد کوې هم د ځان دپاره دې دي. (۳۹مخ)
- ❖ ډېر خلق خپلې لوڼه د پېسو د پاره ورکوي. پکار دي چې د سړیتوب په لحاظ خپلوي وشي. دا نه چې د دولت دپاره ځوانه جینۍ بوډا ته کښېنولے شي. (۴۹مخ)
- ❖ نو د دې داسې پېښو مخ نیوے پکار دے ، باید چې د هلك او جینۍ نه پُښتنه کېږي ځکه چې دا خو دوي د ژوند د ملګرتیا سوال دے. (۵۰ مخ)
- ❖ پېرنګیانو جرګې د انصاف او امنیت برقرارولو د پاره نۀ وې جوړې کړې ، بلکې پېرنګیانو جرګې په پوره تدبیر د دې غرض د پاره جوړې کړې وې چې په جرګو کښې انصاف نۀ کېږي ، پرې وي ، جمبې وي او اکثر چې به ګناه ګار سړي په سفارش یا په بډو رشوت خلاص شو نو مخالفې ډلې به د بدل اخستلو کوشش کاوۀ او په دا شان به دا دښمنۍ پېړو په پېړو چلېدلې او

دا سلسله به روانه وه. پښتانۀ به په خپلو کښې اړم وي او مونږ پېرنګیانو ته به ئې توجه نۀ وي. (۵۱ مخ)

- ❖ کۀ په پښتون کښې علم راشي قام به ترقي وکړي نو مونږ به هم ترقي وکړو (۲۵مخ)
- ❖ د قام مینه او خدمت او د حریت جذبه یواځې په تعلیم نۀ ده. مونږ چې د قام خدمت او ازادۍ تحریك شروع کولو زۀ په ښارونو کښې تعلیم یافته و پسې ډېر وګرځېدم ، ما په هغوي کښې داسې خلق پېدا نۀ کړے شول چې د خداے د پاره د قام خدمت ته تیار شي. (۲۹مخ)
- ❖ او چې د دوي نه ما یوسه شوم، ښارونه مې پرېښودل او کلو بانډو ته ووتم او عوامو له ورغلم ، په څلورو میاشتو کښې دومره خلق راسره راپاڅېدل چې پېرنګے ورنه وویرېدۀ. زۀ دولس کاله په تعلیمیافتو و پسې ګرځېدلے یم خو د دوي نه مایوسه شوم او کلو ته ووتم نو په زرګونو خلق راسره ملګري شول. (۲۹مخ)
- ❖ ما سره د خپل قام د ښځو ډېر قدر او عزت وۀ او ډېره همدردي مې ورسره وه ، ولې چې زمونږ په قام کښې هم لکه د نورو مشرقي قومونو په شان د ښځو قدر نۀ وۀ. دوي به د سړو نه ښکته ګڼلې شوې. حالانکې چې پستي او بلندي په عمل ده ، کۀ د چا عمل پست وي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نر وي که ښځه ، پکار دي چې پست وګڼلے شي او د چا عمل چې اوچت وي ، نر وي که ښځه، پکار دي چې په درانهٔ نظر ورته وکتلے شي. خدا ے خو نر او ښځه د دنيا د ابادۍ دوه ملګري پيدا کړي او د بشريت د ګاډي دا دوه پايې دي . دا ګاډے په يوه پايه نهٔ شي چلېدے او بيا زمونږ د پښتنو ښځې خو ډېرې پاك لمنې، حياناکې، مينه ناکې او وفادارې دي او ډېرې خدمتګارې دي.(۷۵ مخ)

❖ پښتانهٔ اوس هم د اخبار لوستو شوق نهٔ لري ، په چتې څيزونو، په بې ځايه رواجونو په زرګونو روپۍ خرڅ کوي خو په اخبار يوه پيسه نهٔ ورکوي او هم دا وجه ده چې د دومره بهادر او لوے قوم پخپله ژبه کښې يو قومي اخبار نشته.

❖ چونکې زمونږ د اخبار سره مينه نشته نو ځکه زمونږ پخپله ژبه کښې اخبار هم نهٔ وهٔ. ځنګه چې ئې د اخبار سره مينه نهٔ وه دغسې ئې د خپلې ژبې سره هم مينه نهٔ وه. د تعليم يافته کسانو سره به مې چې د ژبې په باره کښې خبرې وکړې ، راته به ئې ووئيل چې پښتو لا د څهٔ ژبه ده ؟ په دې کښې علم نشته، پښتو کښې څهٔ دي؟ ما به ورته وې چې هلکه! دا نورې ژبې خو د اسمانه نهٔ دي راکوزې شوې ، د هرې ژبې ويونکو خپلې ژبې ته

ترقي ورکړې ده ، پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نهٔ ده کړې ، دې کښې د پښتو ژبې څهٔ ګناه ده؟ دا خو زما او ستا ګناه ده.

❖ اخبار لوستل ډېر ضروري څيز دے ؛ دې کښې د ټولې دنيا حالات دي ...... د پښتنو ښځې د نارينه و نه ذهينې دي.... زما به همېشه دا کوشش وهٔچې د ښځو د مغزو نه د کمترۍ احساس لرې کړم . ځکه چې په دوي کښې دا احساس خودغرضو او ناپوهو سړو پيدا کړے دے. ما به خپل ټبر سره په دې خبره بحث کولو چې ښځه او نر دواړه د خدا ے په نزد يو شان دي ، دروندوالے او سپك والے په عمل دے او دا به مې هم ورته وئيل چې د دې احساس په پيدا کولو کښې تاسو ښځې پخپله هم ګرمې يئ. ځکه چې ځوي ته په يو نظر ګورئ او لور ته په بل نظر او د وړوکوالي نه د جينکو په مغزو کښې دا خبره کښېنوئ چې هلکان او نارينه خدا ے د جونو او ښځو نه بهتر او لوے پيدا کړي دي. بيا به مې ورته وې چې انسان د خدا ے په ټول مخلوق کښې اشرف ګڼلے شي نو په دې وجه ئې د نور مخلوق نه ذمه واري زياته ده خو زهٔ چې دې خپل قوم ته ګورم نو ماته په دوي او ځناورو کښې فرق نهٔ ښکاري. د دوي سره هم د خپلې ګېډې غم دے او ځناور سره هم د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جالې غم وي۔ دوي هم بچي راوړي او د خپلو بچو غم خوري او ځناور هم بچي زېږوي او لويوي ئې نو دوي په څهٔ اشرف المخلوقات وبللے شي ۔ دوي هم لکه د ځناورو په شان يو بل وژني ، دوي به هله اشرف المخلوقات وګڼلے شي چې دوي کښې اجتماعيت ، وروري، عزيزولي، مينه او محبت پيدا شي۔ تش په دې چې نور ځناور په څلورو پښو ګرځي او انسان په دوه پښو، اشرف کېدے نۀ شي۔ نارينه چې مرشي ، ښځه کنتون کوي او چې ښځه مره شي نارينه سمدستي بله ښځه وکړي۔ پکار خو دا دي چې د ښځې څښتن مړ شي چې هغه هم بل مېړهٔ وکړي۔(۷۷ تا ۷۹ مخونه)

❖ د دنيا تاريخ ګواه دے چې په کوم قوم کښې داسې اشخاص پيدا شوي دي چې هغوي د خپل قوم د اصلاح د پاره پاڅېدلي دي نو د اقتدار خاوندانو ئې مخالفت کړے دے۔ ولې چې هغوي خپل اقتدار په خطره کښې ليدلے دے ، تاسو دې خپل د خدايي خدمتګارو تحريک ته وګورئ ، څومره چې قوم کښې پوهه راغلې ده هم هاغه هومره د اقتدار د خاوندانو قدرت کم شوے دے او د خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ژوند مطالعه کړئ چې خپلو ترونو ، تربورانو ئې مخالفت وکړهٔ ، د څهٔ د پاره؟ د اقتدار د پاره او د مدينې خلقو

ئې ملا تړ وکړهٔ ، ولې چې د هغوي سره نهٔ مذهبي اقتدار وهٔ ، نهٔ سياسي ، يهودو چې ئې مخالفت وکړهٔ هم د اقتدار د پاره وهٔ۔(۸۴-۸۵ مخونه)

❖ پښتون ژوندے قوم دے ، خو چې د ژوندي کولو خلق پکښې پيدا شي ، تر څو چې په يو قوم کښې د ژوندي کولو د پاره خلق پيدا نهٔ شي ، هغه قوم ژوندے کېدے نهٔ شي۔(۸۵مخ)

❖ د زمانې د بدلون سره کهٔ قام بدل شي ترقي وکړي ، کهٔ نه وروستو پاتې شي۔(۸۵ مخ)

❖ رسم او رواج پرېښودل اسان کار نهٔ دے۔ په رښتيا ډېر ګران دے او اخلاقي جرات غواړي۔(۸۵ مخ)

❖ د غلطې پراپېګنډې مقابله کول پکار وي ، چې سړے پاخبېږي، ملا وتړي او خلق په حقيقت پوهه کړي او دا هله کېدے شي چې د بې غرضو هم خيالو مضبوطه ډله وي ، چې د خلقو اعتماد ئې حاصل کړے وي۔ اوچت شي چې ملك کښې وګرځي او خلقو ته غلطه خبره او حقيقت سم ورښکاره کړي۔(۱۰۲ مخ)

❖ د دې دنيا تاريخ خو زمونږ په وړاندې پروت دے، چا ته چې مذهب راغلے دے او هغوي منلے او عمل ئې پرې کړے دے ، په دې دنيا اباد شوي دي ، د خوشحالۍ او امن ژوند نصيب شوے دے۔ تاسو عربو ته وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د اسلام نه مخکښي د هغوي څهٔ حال وهٔ ؟ او چي اسلام راغے او عمل ئې پرې وکړهٔ ـ د هغوي څهٔ حال شو؟ د اسلام په وجه دوي د حکومت، دولت او عزت خاوندان شول ـ تاسو د هغه وخت د مسلمانانو د ژوند په هر اړخ نظر واچوئ ، غور او فکر پرې وکړئ او د اسلام د دې ټېکه دارانو په خبرو غور او سوچ وکړئ چي دا دوي چي کوم اسلام بيانوي، دا هغه د خداے او د رسول (ص) اسلام دے کهٔ د سرمايه دارو؟ او دوي چي څهٔ وايي ، د خداے دپاره ئې وايي کهٔ د سرمايه دارو د پاره ئې وايي ؟ (۱۱۱مخ)

❖ خداے پاك په قران کښې د بنى اسرائيلو د عالمانو ذکر کوي چي هغوي به د لږو پيسو د پاره د خپلو خواهشاتو د پوره کېدو د پاره د تورات او زبور په اياتونو کښې تحريفونه او تاويلونه کول ـ هر مذهب او مسلك چي د خود غرضو او چالاکو خلقو په لاس ورشي بيا پکښې هغه اولنے انقلابيت او روح پاتې نهٔ شي، بيا د سرمايه دارو مذهب ترې جوړ شي او تش کالبوت شي ـ (۱۲۰مخ)

❖ په غلامۍ کښې د انسان نه انسانيت هېر شي او انساني خوبۍ پکښې پاتې نهٔ شي ـ (۱۴۱ مخ)

❖ مونږ د خلقو د پېغورونو له کبله ډېر غلط کارونه کوو ـ (۱۴۸مخ)

❖ د پښتنو ودونه له رواجونو ډك وو ، ما د هغو اصلاح غوښتله نو ځکه مې د ځان نه شروع وکړه او د شريعت مطابق مې اول ډولۍ راوړه ـ په سبا له مې وليمه ورکړه او يو وخت مې ښه ډوډۍ د کلي خلقو ، دوستانو او خپلوانو له ورکړه ـ خلقو راته د ښندرې په دود روپۍ را اوچولې خو ما ونهٔ منلې ـ کهٔ څهٔ هم په ډېرو زمونږ پورې وې ، په ډوډۍ کښې مو د رسم او رواج د اصلاح کولو په باره کښې تبادله خيال د خلقو سره وکړهٔ ـ په هغه وخت کښې دا دود وهٔ چي په وادهٔ کښې به ټولو کسب ګرو له وادهٔ ته راغلو مېلمنو پيسې ورکولې ، چا به ائينه ښوده، چا به سپېلنې لوګي کول ، چا به ډول وهلو، چا به ګلونه راوړې وو، چا به رباب کښې چاربېته وئيله ، په مېلمنو به يو لوټ مار وهٔ ، کهٔ د چا زړهٔ به وهٔ او کهٔ نه خو د خپله شرمه به ئې دا حساب کسب ګرو ته ادا کولو. زما په وادهٔ کښې د اول ځل د پاره دا کارونه ما بند کړل او کسب ګرو ته مې دا ووئيل چي تاسو به مېلمنو له تکليف نهٔ ورکوئ ـ ستاسو د ټولو حق به زهٔ ورکوم ولې چي تاسو زما کسب ګر يئ ـ دغه شان ډمې به کډېدې ، مېلمنو به کهٔ د چا زړهٔ وهٔ کهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ، پيسي به ئي ورکولي ـ سازيان به وو، جنجونه به وو، ټوپکي او غربينونه به خلاصېدل ـ لنډه دا چي ډېر فضول خرڅونه به وو ـ زما په وادهٔ کښې دا ټول ما بند کړل او دا مي د دې د پاره وکړل چي د قام او ملك د پاره ډېر نقص دے او خلق ترې تنګ وو خو چا کښې ددې د پرېښودو اخلاقي جرات نهٔ وهٔ ـ ما د دې شيانو د مخنيوي ابتدا د خپل وادهٔ نه وکړه او خلقو ته مي هم ووئيل چي تاسو هم دا بې ځايه رواجونه پرېږدئ ـ (۱۵۲ مخ)

❖ يوه ورځ زهٔ د امان الله خان ملاقات له تللے وم ، ډېري خبري مي ورسره وشوي ـ په خبرو خبرو کښې مي ورته دا ووې ، تاله ترکي درځي ، فارسي درځي او نوري ژبې هم درځي خو خپله ژبه نهٔ درځي ـ زما خبري په هغهٔ ډېر اثر وکړهٔ او وعده ئي راسره وکړه چي زده کوم به ئي ـ کله چي له افغانستانه ووېستلے شهٔ ، زهٔ بمبئ ته د دهٔ ليدو له ورغلم نو هلته ئي ماسره پښتو کښې خبري وکړي ـ (۷۳ مخ)

❖ په کابل کښې زمونږ تعلقات د نادر خان او د دهٔ د کورنۍ سره ډېر وو ـ دې په خپله وزير دفاع وهٔ او ورور ئي سردار عبدالعزيز خان د معارف وزير وهٔ ـ يوه ورځ ئي ما ته ووې ، څه ورشه د حبيبي ليسه (کالج) وګوره

چي کالج ته ورغلم نو د يو جماعت د هلکانو نه مي دا تپوس وکړهٔ چي "شما کيستيد؟" دوي به راته ووئيل چي " افغان هستم" بيا مي ورته ووي چي " ملك شما؟" دوي به ووي "افغانستان" بيا مي ورته ووي " افغاني ميداني که افغان هستي؟" نو غلي به شو ، غږ به ئي نهٔ کوهٔ نو ما به ورته ووئيل چي څنګه افغان يئ او څنګه د افغانستان اوسېدونکي يئ چي خپله ژبه نهٔ درځي ـ

❖ دغه شان محمود طرزي صاحب سره چي د افغانستان وزير خارجه وهٔ او ډېر لائق سړے وهٔ ، په يوه لويه مېلمستيا چي دهٔ د مهاجرينو د پاره کړي وه ، د ژبې بحث راغے ، يو سړي ورنه پُښتنه وکړه چي دا څنګه افغانستان دے چي افغاني پکښې نشته ـ طرزي صاحب ووئيل چي فارسي هم زمونږ د ملك ژبه ده نو ما ورته ووئيل چي طرزي صاحب! پښتو خو د افغانستان ملي ژبه ده او د اکثريت ژبه ده ، په ټوله دنيا کښې د اکثريت ژبه هم سرکاري وي ، هم دفتري ،هم تعليمي وي ـ (۱۲۳-۱۲۴ مخونه)

❖ د افغانستان او ازادو قبائلو حالت چي مي ليدهٔ او پينځلس کاله مي په هندوستان ، قبائلو او افغانستان کښې ګُرزي پرزي وکړي نو په دې نتيجه ورسېدم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلاب د منډې کار نهٔ دے ، او دومره ه اسان خيز نهٔ دے ، انقلاب د سرې سينې کار دے ، انقلاب عمل او پوهه غواړي، انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته ئې اماده کړي ، د انقلاب د پاره د اشخاصو ضرورت دے ـ تهٔ ګوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو، ټول لاړل خوارهٔ شول نو کښېناستم د ځان سره مې ښهٔ فکر وکړهٔ ، زهٔ په دې نتيجه ورسېدم چې زمونږ د قام د تجارت خوا ته توجه شته نهٔ د صنعت خواته ، نهٔ د زراعت خواته او نهٔ د تعليم خواته ـ د بلې خوا نه په رسمونو ، رواجونو کښې تر غوړونو ډوب دي، په خانه جنګو اخته دي ، داسې قام انقلاب نهٔ شي کولے او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول پکار دي چې سياسي شعور پکښې پيدا شي او دا کار يوه پرامنه فضا غواړي، تر دغه وخته پورې زهٔ په دې عقيده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي ، تشدد راته د انقلاب نزدې او د کاميابۍ لار ښکارېده ، خو د تجزبې نه وروستو راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کښې اسونه نهٔ خرېبږي نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم ، اول به د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت د پاره قومي

مدرسې جوړوم نو ځکه اتمانزو ته راغلم ـ زهٔ چې له هجرته بېرته راغلم ، د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوشش مې کولو چې پېرنګيانو د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې ـ (۱۲۸، ۱۲۹ مخونه)

- ❖ چې په ډلو کښې اختلاف پيدا شي کهٔ ډېر ښهٔ او زورور خلق وي هم بې کاره شي او د هغوي طاقت د يو بله په غورزولو کښې صرف شي ـ په خدمت کښې اختلاف نهٔ راځي ، اختلاف د خودغرضۍ نه پيدا کېږي ـ (۱۷۳ مخ)
- ❖ پښتانهٔ ډېر ښهٔ قام دے ، دوي په افسانو او قيصو ډېر نهٔ پوهېږي ـ کهٔ هر ښهٔ کار چې په دوي کوي نو ځان ورته نمونه کړه چې تهٔ روان شوې ، دوي هم درپسې روانېږي ـ (۱۷۵ مخ)
- ❖ هغه کار چې سړے ئې په ښکاره نهٔ شي کولے او پټ ئې کوي، سړے کمزورے کوي او د خپلو اصولو نه ئې وباسي او په سړي کښې ويرې او بُزدلي پيدا کوي ـ (۱۸۹ مخ)
- ❖ زما د ابتدا نه دا عقيده ده چې پښتون ډېر ښهٔ قام دے ، ډېر زر ئې اصلاح کېدے شي ـ په شرط د دے چې څوک ئې پوه کړي ـ دا نن چې دے په داسې بد حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېږي دے ، د دې وجه دا ده چې څوك ئې غم نهٔ خوري او نهٔ ئې پوهوي۔(۱۹۵مخ)

❖ مونږ ټول پښتانهٔ يو قام يو ورونه يو، د يو بابا اولاد يو ، زمونږ عزت او ذلت يو دے ، کهٔ چرې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې حديث عمل وکړهٔ چې " په ځان دې څهٔ پېرزو نهٔ وي په بل ئې هم مهٔ پېرزو کوه" نو ډېر زر به کامياب شو ، مونږ چې د خپل پښتون ورور سره د هر سلوك اراده وکړه ، پکار دي چې د لږ ساعت د پاره په هغې غور وکړو او خپل ګرېوان کښې وګورو کهٔ چرې دا کار بل څوك ما سره وکړي نو زهٔ به پرې خوشحاله شم که خفه ؟ کهٔ چرې زهٔ په دې خوشحالېږم نو هغه کار کول پکار دي او کهٔ زهٔ پرې خفه کېږم نو پکار دي چې دغه کار مونږ ونهٔ کړو ۔ بلکه دا چې مونږ پښتنو کښې کهٔ يو سړے بد کار وکړي نو په دې وجه د هغهٔ ملګرتيا پکار نهٔ ده چې دے پېښورے دے يا بنووال دے يا کوهاټے دے يا ډېره وال دے او زما د علاقې دے ، د بد کارو او بد چلنه خلقو ملګرتيا نهٔ ده پکار ، کهٔ په ځان زمونږ ورور هم وي ځکه چې د دې د لاسه قام او سوسائيټۍ ته نقصان رسېږي او هم دا خلق قام تباه کوي۔

مونږ له پکار دي چې هميشه د حق او ښو خلقو ملګرتيا وکړو ، کهٔ په مونږ کښې يو سړے بد کار وکړي مونږ ټولو له پکار دي چې د خپلې ورورۍ او عزيزولۍ نه ئې وباسو کهٔ هغه بنو وال وي، کهٔ پېښورے وي ، کهٔ کوهاټے وي ، کهٔ ډېره وال وي ، کهٔ مونږ په رښتيا په دې لاره روان شو نو زر به هغه کسان چې په بدو لارو روان دي او د چا د لاس چې پښتانهٔ په دې مصيبت اخته دي د خپلو بدو کارونو نه به واوړي۔
دا نن چې پښتانهٔ په بدو لارو روان دي ، د دې وجه دا ده چې مونږ د ښو او بدو فرق نهٔ کوو او نهٔ څوك شته چې د ښو او بدو په فرق مو پوهه کړي۔ يو بد عمله سړے چې ووينې چې زما په بدعملۍ کښې ملا تړ کېږي نو هغه به ولې د خپلې بد عملۍ نه لاس اخلي او کهٔ مونږ د ښو بدو فرق وکړو او لکه چې هر ماستختن په نمانځهٔ کښې د خدا ے سره وعده کوو چې " ونخلع و نترك من يفجرك" يعني څوك چې ستا نافرماني کوي، مونږ به هغوي پرېږدو، کورکلے به ورسره نهٔ کوو ، کهٔ دا وعده په ځاے کړو ، پښتون به يکدم بدل شي نو مونږ له پکار دي چې په دې خبرو هر پښتون پوهه کړو او دا خبرې د هرپښتون غوږو ته ورسوو ۔ (۱۹۸-۱۹۹ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ جګړه او فسادونه مهٔ کوئ خپل مشقت کوئ او چا له رشوت مهٔ ورکوئ. (۲۰۲ مخ)

❖ د قام او ملك د خدمت د پاره خلقو قسم قسم تکليفونه اوچت کړي دي او دا د خداے يو امتحان او ټرېننګ دے، د خداے کارونه ټول د خبر دي. ما له صبر کول پکار دي ځکه چې خداے د صبرناکو ملګرے دے. اخر به ئې نتيجه په خبر وي، ټول عمر به دا کړاوونه نهٔ وي اخر به راحت راشي. (۲۰۴ مخ)

❖ زما دي خپلي صوبې او پښتنو سره دومره مينه ده چې زهٔ ئې بيان نهٔ شم کولے. خپل ملك کښې خپل قام سره اوږے تږے او په تکليف کښې خوښ يم نهٔ په بل ملك کښې په عېش او عشرت کښې. (۲۰۴ مخ)

❖ پيرنګيانو چې کوم امتياز قائم کړے دے، دا په نېك نيتۍ نهٔ دے، دا ئې په دې غرض قائم کړے دے چې په مونږ کښې داسې بې اتفاقي او ګړبړي وي خو زهٔ د دې په حق کښې هم نهٔ يم چې دې خبرو له دې مونږ دومره اهميت ورکړو چې زمونږه تعلقاتو او تحريك ته پرې نقصان ورسي ځکه مونږ چې څهٔ کوو نو د ځان د پاره نه بلکې د خپل قام او خپل ملك د پاره ئې کوو. د بل د پاره خو ئې نهٔ کوو. او بله دا چې تاسو ته به معلومه وي چې دا نن مونږ حکومت سره په جنګ يو،

دا خو د دې دپاره دے چې مونږه دا امتياز لرې کول غواړو او د دې په ځاے مساوات قائمول غواړو او تر هغه وخته پورې دا امتياز لرې کېدے شي چې تر کومه پورې مونږه کامياب شوي نهٔ يو او واك اختيار زمونږ په لاس کښې راغلے نهٔ وي. (۲۱۳-۲۱۴ مخونه)

❖ افسوس چې مونږ خلق د بل د ارام او تکليف خيال نهٔ ساتو ګني هم دغه ذکر مونږ ورو او پټ هم کولے شو ليکن د دې خبرې کمے هم زمونږ په عامو مسلمانانو او هندوانو کښې موجود دے. مونږ هميشه پخپل خيال پسې ځو او د بل فکر نهٔ کوو. دا يو لوے کمے دے. مونږ له پکار دي چې هميشه د خداے د مخلوق د تکليف او ارام فکر او خيال وساتو او څهٔ چې کوو نو چې اول ئې په ځان وګورو کهٔ چرې ځان له ئې خوښوو (بيا پکار دي) چې بل ورور له ئې هم خوښ نهٔ کړو. (۲۱۴-۲۱۵ مخونه)

❖ پښتانهٔ هم دغسې خلق دي لکه څنګه چې تاسو (د هندوستان هندوان، سيکان او نورو قوميتونو او ذاتونو خلق) يئ. څنګه چې تاسو کښې ښهٔ او بد خلق شته، دغه شان په پښتنو کښې هم شته. دا ټولې خبرې د پښتنو دښمنانو جوړې کړې دي او د هغوی پراپېګنډه ده، د دې خبرو مطلب ئې ستاسو تېرا ايستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زمونږ بدنامول دي ځكه چي تاسو ونهٔ ويروي او مونږ بدنام نهٔ كړي نو بيا به په دي ملك بادشاهي څنګه كوي؟ (۲۱۹مخ)

❖ زمونږ په خلقو كښي دا يو لوے كمے او نقص دے چي مونږ همېشه د بل د كمزوريو او عېبونو د راوښكلو او لټولو په فكر او غم كښي يو او خپلو كمزوريو او عېبونو ته فكر نهٔ كوو او په دي وجه خو مونږ نن په دنيا كښي برباد او نېستمند يو ، په ځاے د دي چي مونږ بل ته ګوته ونيسو ، ځان ته ګوته نيول پكار او د نورو د اصلاح نه وړومبے د ځان اصلاح فرض ده ، اول ځان دے بيا جهان دے۔(۲۲۰ مخ)

❖ افسوس په دي دے چي مونږ سره څوك ښهٔ سلوك كوي هغهٔ ته نېغ يو او چي څوك مو سر په ډنډه وهي نو هغهٔ ته تيټېږو او دا ډېر خراب عادت دے او مونږ له داسي عادتونه پرېښودل پكار دي۔(۲۳۰ مخ)

❖ ما د ټالسټاے يو كتاب كښي چي شپږويشت قيصي ئي پكښي ليكلي دي، دا قيصه لوستي ده چي يوه چينه ده د هغي نه هر يو محلت ته نلكه راغلي ده خو د هر يو محلت خلق په دي كښي نښتي دي چي زمونږه د نلكي ابهٔ پاكي او خوږي دي او د دي نورو نلكو اوبهٔ ناپاكي او ترخي دي، دي ته هيڅوك فكر نهٔ كوي چي

دا ټولي نلكې د يوې چيني نه راغلي دي نو څنګه يوه پاكه او خوږه شوه او نورې ناپاكې او ترخې شوې؟ او اسلام خو دا تعليم وركوي چي د مسلمان به په دي كتاب هم ايمان او عقيده وي او په وړاندينيو مذهبونو او كتابونو هم " والذين يومنون بما انزل اليك و ما انزل من قبلك " دا د دي ثبوت دے چي اسلام ټولو مذهبونو سره رواداري غوره كړې ده ۔ (۲۵۰-۲۵۱ مخونه)

❖ د هندوستان خلق هله د ترقۍ او ازادۍ معراج ته رسېدے شي چي هر چا له د خپلي عقيدې او خيال ازادي وركړو او د هيڅ قسمه ظلم او جبر په چا ونهٔ كړو۔ (۲۵۲ مخ)

❖ مذهب خو دنيا ته د دي د پاره نهٔ دے راغلے چي د خلقو په مينځ كښي نفرت پيدا كړي بلكې مذهب خو د مينې محبت علمبردار دے۔(۲۵۴ مخ)

❖ زمونږ د صبر جنګ دے ، مونږ د وهلو او كنځلو بدل نهٔ اخلو، مونږ به صبر كوو او ځان به خداے ته سپارو ، مونږ خو خدايي خدمتګار يو ، خداے به زمونږ بدل اخلي ، د خپلو زړونو نه خود غرضي او نفاق لرې كړئ ځكه چي د دي د لاسه برباد شوي يو ، ځان كښي ښهٔ اخلاق پيدا كړئ ولې چي د ښو اخلاقو نه بغير څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترقي كولے نۀ شي ، بله اے پښتنو ورونو ! زۀ په دې نۀ پوهېږم چې تاسو ولې د پېرنګيانو نه ويرېږئ ؟ دوي خو ستاسو په شان بنيادم دي، ستاسو په شان يو قوم دے، تاسو خو پرو جنبو او نفاق تباه كړئ ، ويره در كښې پيدا شوې ده ، د چا په زړۀ كښې چې د خداے ويره وي نو د هغۀ په زړۀ كښې د بل چا ويره نۀ راځي او د چا نه نۀ ويرېږي او د چا په زړۀ كښې چې د خداے ويره نۀ وي هغه د هر چانه ويرېږي نو په دې وجه چې مونږ د حكومت افسر وينو نو ويرېږو ـ اے ورونو! تاسو په زړۀ كښې د خداے ويره پيدا كړئ------

چې كوم كلي كښې جلسه وي نو هلته ډوډۍ چاۍ مۀ كوئ او مۀ پاتې كېږئ او د كلي خلقو ته مې هم ووې چې چا له چاۍ ډوډۍ هم مۀ وركوئ-مونږ غريب قام يو خلقو له چاۍ ډوډۍ نۀ شو وركولے ----- اے ورونو! تاسو د خداے د پاره يوه ورځ روژه نيوې نۀ شئ؟ او كۀ څوك ډوډۍ درله پخه هم كړي نو تاسو ئې مۀ خورئ نو چې يو ځل خلقو ته ډوډۍ پاتې شي نو بيا به داسې نۀ كوي-(۵۵۷-۵۵۸ مخونه)

❖ مونږ خو د خداے د پاره لګيا يو د دې قوم خدمت كوو ، كۀ قوم زمونږ ملګرتيا وكړه نو دوي به ازاد شي او كۀ زمونږ مخالفت ئې وكړۀ نو دوي به برباد شي ولې چې

باچاخان عهد ساز شخصیت

بغير د قوم د امداد نه مونږ خپل منزل ته رسيدے نۀ شو ـ غم او فكر هغه چا سره وي چې د ځان د پاره كار كوي او څوك چې د خداے د پاره كار كوي هغوي هېڅ غم او فكر نۀ كوي- (۵۲۱ مخ)

❖ بې شكه چې دروغ د څۀ وخته پورې په خلقو كښې غلط فهمي پيدا كولے شي خو چې رښتيا راشي نو دورغ پاتې كېدے نۀ شي-(۵۲۲ مخ)

❖ اے ورونو ! هر څۀ چې تاسو سره كېږي په هغې صبر كوئ، د ازار نه چا بازار موندلے نۀ دے او د ظلم كاسه نسكوره ده ، څومره چې پېرنګيان په مونږ ظلم او زياتے كوي هغه هومره به زر تباه شي او مونږ به ترې خلاص شو- (۵۲۴ مخ)

❖ څۀ رنګه چې د خدايي خدمتګارۍ تحريك خدايي او بې غرضه تحريك دے نو كله چې خدايي خدمتګارو يو ريښتينے خدايي خدمتګار اسمبلۍ ته كامياب كړے دے ، هغه د دوي پكار راغلے دے او كله چې يو سړے دوي د خپلو غرضونو او تعلقاتو په وجه ودرولے دے نو اول خو هغه ناكامه شوے دے او كۀ څوك كامياب شوے هم دے نو هغه هم د دوي په فائده نۀ دے راغلے بلكې د فائدې په ځاے جماعت ته نقصان رسولے دے-(۵۹۸ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ما ته بې اتفاقي د مقصد په لاره کښې خنډونه ښکارېدل او هره يوه ډله کښې چې بې اتفاقي پېدا شي نو د کاميابۍ په ځاے ناکاميابه شي.(۲۰۸ مخ)
- قومونه خو په تشو خبرو او دعوو ترقي نۀ شي کولے ، چې په کومو قومونو کښې نېکان پاکان او بې غرضه او د خداے دپاره د خدمت خلق پېدا شي نو هغوي ترقي وکړي . خداے دې په مسلمانانو کښې داسې خلق پېدا کړي. ۲۱۰-۲۱۱مخونه)
- افسوس چې په پښتنو کښې دا کمزوري شته چې خپله ژبه هېره کړي ..... د ژبې په هېرېدو خپلو ته سرے پردے شي.(۲۲۸ مخ)
- مونږ خدايي خدمتګار د چا نه بدل نۀ اخلو ، مونږ مظلومان يو، زمونږ بدل خداے پاك اخلي.(۲۳۴ مخ)
- د هر يو تحريك انحصار په ليډر وي چې بهادر او هوښيار وي نو د تحريك خلق هم زړه ور او پوهه وي چې ليډر کمزورے او تنګ نظره وي نو د تحريك خلق هم بې زړۀ او تنګ نظره وي.(۲۳۲ مخ)
- غلام قومونه ډېر کمزوري وي او حاکم قوم ته تېنګ نۀ وي ، حاکم قوم کښې يو قسم کشش وي او محکوم قومونه خود په خود ځان ته راکاږي. دغه وجه وه چې ما به پېرنګيانو سره نۀ ليدل ، هغوي به زما خلاف

پراپيګنډه کوله چې د دۀ دپېرنګيانو نه نفرت دے. زۀ خو خدايي خدمتګار يم او د خداے خدمت خو د خداے د مخلوق خدمت دے او پېرنګيان د خداے مخلوق نۀ دے ؟ (۲۴۷-۲۴۸ مخونه)

- زۀ د دواوې په دوره وم چې دغلته څۀ خانان او ملکان راغلل او زما نه ئې تپوس وکړۀ چې مونږ اورو چې تاسو زمونږ نه جائدادونه اخلئ او غريبانانو له ئې ورکوئ ؟ ما ورته ووئيل چې مونږ له خداے داسې ملك راکړے دے چې د دولتونو او نعمتونو نه ډك دے ، کۀ مونږ ازاد شو او دا ملك زمونږ شي او مونږ ملا وتړو ، دا ملك اباد کړو نو څوك به غريب پاتې نۀ شي ، مونږ به ټول خانان شو ، زمونږ دا اراده نۀ ده چې ستاسو نه جائداد او ملك واخلو ، مونږ خو ستاسو حالت هم ښۀ کول غواړو او دا اوړې هم مړول غواړو ، کۀ دا اوږې ماړۀ شي نو تاسو ته څۀ تاوان دے؟ کۀ تاسو د پېرنګيانو ملك ته لاړئ نو هلته نور خلق خو پرېږده د مزدورانو ئې هم بنګلې او موټرونه دي او ستاسو نه تپوس کوم چې ستاسو موټر شته ، بنګله شته؟ کۀ زمونږ تحريك کامياب شۀ نو د ملا حالت به هم ښۀ شي او د خان او ملك حالت به هم ښۀ شي، مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هر څۀ چې کوو نو د خان د پاره ئې نۀ کوو ، دا د دې قوم د پاره کوو. (۲۲۷-۲۲۸ مخونه)

❖ زۀ دې قوم ته وايم چې تاسو تر څو بې غرضه ، دیانتدار، ایماندار، په قوم او ملك مئين خلق پيدا کړي نۀ دي نو نۀ دا ملك ازادېږي او نۀ دا قوم. (۲۲۹-۲۷۰ مخونه)

❖ اے خدايي خدمتګارو وروڼو! مونږ خدايي خدمتګار يو ، خدا ے ته د خدمت ضرورت نشته، زمونږ کار د خدا ے د مخلوق خدمت دے، زمونږ کار په چا اعتراضونه او نکته چيني نۀ ده او دا زمونږ کار نۀ دے چې په نورو جماعتونو او د هغوې په مشرانو نکته چيني او اعتراض وکړو. زمونږ کار دا دے چې مونږ خپل پروګرام خلقو ته پېش کړو چې مونږ ستاسو د پاره دا غواړو او دا کار يوائې نۀ کېږي ، دا به هله کېږي چې تاسو راسره ملګري شئ ، ملك هم ستاسو او زمونږ شريك دے، قوم هم شريك دے او کار هم شريك دے. (۲۸۳ مخ)

❖ انسان چې انسان وي نو څومره همدرد وي او چې انسانيت تري لاړ شي نو بيا څومره بې رحمه شي. (۷۰۸ مخ)

❖ خدا ے په قران کښې وايي چې ما هر قوم ته د هغوی نه يو هادي لېږلے دے ..... زما مذهب رښتيا، مينه محبت او د خدا ے د مخلوق خدمت دے. مذهب همېشه دنيا ته د اخرت او محبت پيغام راوړے دے. د کومو خلقو په زړونو کښې چې د بني نوع انسان د پاره رواداري، مينه، محبت نۀ وي او د کوم سړي په زړۀ کښې چې نفرت ، بغض، کينه وي نو داسې سړے د مذهب نه ډېر لرې وي. (۷۲۵-۷۲۶ مخونه)

د زړۀ په باغ مې ډلې وشوه
بويه چې بيا سپرلے راځي سپرې ګلونه

عبدالغفار خان

۱۳ مه جولايي، ۱۹۸۱ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظمت هما

د باچا خان متحرک ژوند
د هغوي د خودنوشت په رڼا کښې

د خودنوشت یو مقصد د یو اتل د ټول ژوند د تعمیري کوششونو او جدوجهد هغه قیصې وي چې پکښې د سر لوړۍ او بهادرۍ د کارنامو ذکر شوے وي. دا تعمیري جدوجهد د هغه اتل د خپلې نظریې او د ژوند د تېرولو د طور طریقو سره د پوخ کمټمنټ یو سوچه اظهار وي. داسې کمټېډ اتلان د خپلې خاورې د ناموس او د خپل قام د شناخت او د سر لوړۍ د پاره د دنیا د هرې ستونځې مقابلې او مخ نیوې ته بنۀ په نره هر وخت تکړه او تیار ولاړ وي. په داسې اتلانو کښې بایزید انصاري (پیر روښان)، خوشحال خان خټك، ایمل خان، دریا خان، احمد شاه ابدالي او دپښتنو د سر لوړۍ فخر، فخر افغان، عبدالغفار خان المعروف به باچا خان (۱۸۹۰ء-۱۹۸۸ء) دے چې خپل ټول ژوند ئې د پښتنو د شناخت، یو والي او خپله خاوره د سامراجي استبداد د پنجو نه په ازادولو کښې تېر کړے وۀ. هغه د ازادۍ په قیمت پوهه یو زیرك او مدبر سیاستدان وۀ. د هغۀ سیاسي شعور دومره تیز او تاند وۀ

چې په ماشوم والي کښې د تاند سماجي شعور له برکته د پښتنو د خدمت جذبه په زړۀ کښې غزوني وکړه او دا جذبه په باچا خان کښې د هغوي د شپږم جماعت استاذ چې د مشن سکول هېډماسټر وۀ، ماسټر وګرم، چې په مینه او اخلاص ئې د خلقو خدمت کوۀ، له کبله راپیدا شوې وه. باچا خان په خپل کتاب کښې لیکي:

> مسټر وګرم چې به کومه تنخواه اخستله د هغې نه به ئې زمونږ بې وزلو هلکانو ته وظیفې ورکولې.

هغه وړاندې لیکي:

> ما کښې چې د انسانیت، قوم پرستۍ، وروولۍ، عزیز ولۍ، وطن دوستۍ او د خدائے د مخلوق د خدمت کومه جذبه پیدا شوې وه په هغې کښې زما د دې استاذ وګرم ډېر لاس دے.

او دا هم د ماسټر وګرم په باچا خان د بې لوثه خدماتو اثر وۀ چې هغوي د علم د رڼا له برکته خپل قام ترقي یافته قومونو په صف کښې ودرول غوښتل او د دې د پاره ئې په ۱۹۱۰ء کښې د مولوي عبدالعزیز سره په اتمانزو کښې یوه مدرسه جوړه کړه او دا مدرسه چې سر پرستي ئې حاجي عبدالواحد صاحب د ترنګزو کوله، په ۱۹۲۱ء کښې د ازاد سکولونو د یو Chain د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږولو هغه بنیادي تیګه ده چې په پښتنو کښې د سیاسي او سماجي شعور په بېدارولو ، د غلطو رسمونو رواجونو د بېخ کنې سبب هم وګرځېدهٔ. دا نهٔ هېرېدونکي واقعات د باچا خان د ژوند هغه پاخهٔ بنیادونه دي چې پرې د باچا خان د سیاسي او سماجي خدماتو ماڼۍ ښه مضبوطه ولاړه ده . د هغوي د خودنوشت په اصل کښې دا نه هېرېدونکي واقعات لکه د غمي پرقېږي . د باچا خان په دې خود نوشت کښې په هره دوېمه پېره کښې د پښتنو د تتلي زېلي ژوند د ښېزاره کولو ، د بې ځایه رسمونو رواجونو د مونډ نه د اېستلو، د توهماتو د دنیا نه د سر راوښکلو خبرې لیکلي شوي دي . هغه د خپلې ځوانۍ قیمتي وخت د ملك په مختلفو جېلونو کښې صرف او صرف دې د پاره تېر کړے وهٔ چې پښتنو له خپل نوم، عزت او شناخت وګټي او پېرنګے د خپلې خاورې نه په کډه اچتولو مجبور کړي . په خپله خاوره د خپل اختیار او د پښتنو د سرلوړۍ خبره هغه زوړ روایت دے چې په دې سیمه د مودو نه راروان دے . باچا خان هم د دغه مړني روایت تسلسل دے . هغه باچا خان چې پخپله خو د یو لوے زمیندار نیازبین ځوے دے خو د دغه نیازبین باچا خان په نیازبین زړهٔ کښې د پښتنو د یو والي او سر لوړۍ فکر په غورځنګونو وي او په خود نوشت کښې لیکلے دا خبرې د هغوي د فکر انګازې دي.

> مونږ پښتانهٔ د امام حسین علیه السلام ډېر عزت کوو ځکه چې امام حسین علیه السلام د حق او جمهوریت د پاره راپاڅېدلے وهٔ او مونږ هم د حق او جمهوریت د پاره راپاڅېدلي یو . هغه هم مظلوم وهٔ ، مونږه هم مظلومان یو ، هغه د جمهوریت حق ګټهٔ او مونږه هم جمهوریت ګټو، هغهٔ هم د امن د پاره کار کوهٔ او مونږ هم د امن د پاره کار کوو.

د باچا خان په زړهٔ او ذهن کښې دا سپېځلي افکار او جذبات هسې نه دي راپېدا شوي . د انسان په ذهني جوړښت کښې د هغهٔ د چاپېرچل او د کور د ماحول هم ډېر زیات لاس وي . باچا خان په دې خبره ویاړ کوي چې زما د کور وګړي قام پرست وو . باچا خان لیکي:

> زما پلار بهرام خان د نورو خانانو په شان حاکم پرست نهٔ وهٔ او نهٔ ئې د دوي خدمتونه کول . زما د نیکهٔ هم دغه حال وهٔ . کله چې پېرنګیانو د بونېر د نیولو په غرض په بونېر حمله وکړه او د سورکاوۍ غزا وه نور خانان د فرنګي ملګري وو او سیف الله خان د قام پرستۍ ، دا رنګې زما غور نیکهٔ عبیدالله خان بابا ازاد خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاوړے مشر وۀ چې د هغه وخت د حاکم
سلطان محمد خان طلايي د لاسه پانسي شۀ.

دا ټولې خبرې د باچا خان په زړۀ او ذهن نقش وې او دې سره سره د پېرنګي په پښتنو د هېڅ بې هېڅه ظلم او ناکړدو سترګو ليدلے حال او بيا په تېره تېره په حجره کښې ناست مېلمنو نه په خوږ اواز کښې د خوشحال خان خټك داسې قسمه شعرونه اورېدل :

خو وانۀ خلي له غليمه انتقام
مرد نۀ خوب کا نۀ خوراك کا نۀ ارام
چې د ننګ او د ناموس اندوي نۀ وي
د هغۀ سړي به نۀ وي احترام
کۀ همت او حميت غېرت پکښې وي
تر ښتنه نه بهتر ګڼه غلام

به ضرور د زلمي غفار خان په زړۀ او ذهن کښې د دشمن نه د کرکې، په ازاده فضا کښې د ساه اخستو ارمان او په خپله خاوره د ننګ کولو جذبه راپاروله.

د باچا خان د کتاب جملې د دغه لمبه لمبه جذبه په غورځنګي اسلوب کښې لکه د سمندري موجونو چپې وهي او چې کله د دغه لمبه لمبه جذبو د عملي کولو وخت راغے نو باچا خان بيا يواځې نۀ وۀ.

میں اکیلا ہی چلا تھا جانب منزل مگر
لوگ ساتھ آتے گئے اور کارواں بنتا گیا

په مصداق د باچا خان سره د هغوي په تعليمي او اصلاحي زيار کښې مولوي عبدالعزيز ، مولوي فضل ربي، فضل محمود مخفي، مولوي تاج محمد او بيا په تېره تېره د حاجي صاحب تورنګزو ملګرتيا او سرپرستي د باچا خان حوصله نوره هم پورته او تانده کړه او دا هم د دغه ملګرو برکت وۀ چې ډېر زر د ازاد سکولونو او د اصلاح الافاغنه په نوم د يو انجمن تابيا وشوه. د باچا خان کليو په کليو ګرځېدل او په خلقو کښې د تعليمي او سماجي شعور د بېدارولو دا سلسله د سرسيد احمد خان هغه کوششونه دوباره راتازه کول دي کوم چې هغه د خپل قوم د تعليمي تقاضو له مخه د مدرسته العلوم د جوړولو د پاره کړي وو. په دې حواله باچا خان د پښتنو سرسيد احمد خان وۀ. ځکه چې د تعليمي رڼا د خورولو په مد کښې د دواړو رهبرانو په کوششونو او هلو ځلو کښې يو شان والے ښکاري. باچا خان وايي چې زۀ به چرته هم په دوره تلم نو پښتنو به راباندې ډوډۍ خوروله ، ما هغوي ته ووې چې تاسو په ډوډۍ څومره خرچ کوئ ، دغه نغدې ماله په چنده کښې راکوئ چې په تعليمي مد کښې د قام د بچو په خبر ښېګړه راشي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدرسة العلوم د جوړولو د پاره هم دغه طريقه سر سيد احمد خان هم خپله کړې وه ۔ مولانا حالی په حيات جاوېد کښې ليکي:

> سر سید نے بہادر برکت علی خان کو ایک خط لکھا جس کا خلاصہ یہ تھا
> کہ آپ سے اور سب دوستوں سے یہ درخواست ہے کہ جو کچھ آپ
> یا اور احباب میری مہمان داری میں صرف کرنا چاہیں ازراہِ
> عنایت اس کی لاگت نقد عنایت فرمائیں ۔ میں نے اکثر
> دوستوں سے اسی طرح دعوت کے بدلے نقد روپیہ لیا ہے اور
> اس کو کالج کے چندہ میں جمع کر دیا ہے۔

دي سره سره د سر سيد احمد خان د تهذيب الاخلاق اجراء او د باچا خان په ۱۹۲۸ء کښې د پښتون رسالې اشاعت مقاصد او اهداف هم يو شان والے لري۔ باچا خان ته معلومه وه چي په دنيا کښې هېڅ قوم بغېر د خپلې ژبې نه ترقي کولې نۀ شي ځکه هغوي په خود نوشت کښې ليکي:

> ما دا اراده وکړه چي ضرور به يوه رساله په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو ، د دنيا د حالاتو نه خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مائل کولو د پاره جاري کوم۔

او د باچا خان دي کلکي ارادې په ۱۹۲۸ء کښې عملي شکل واخستۀ او د ژبې د ترقۍ د پاره د انجمن د سبوري لاندې د سالانه مشاعرو انتظام په ملك کښې د انقلاب د جذبې د پيدا کېدو سبب وګرځېدۀ او د دغه انقلابي جذبو له کبله د پښتنو په خاوره په سرو جامو کښې ملبوس د خدايي خدمتګارو په نوم يو درونډ فوج تيار کړے شۀ چي ښه په نره ئې د سامراج د ناجائزو پاليسيو غندنه کړې ده او په هر فورم ئې د پښتنو د حق چغه وهلې ده او دا نن چي مونږ د پښتونخوا په نوم د يو ځانګړي شناخت دعوه کوو نو دا د باچا خان د اوږد جدوجهد ثمرات دي۔

باچا خان د خپل مقناطيسي او اثري شخصيت له کبله په غېرتمندو پښتنو او د برصغير د سر اېستلي ليډرانو کښې يو شان مقبول او معروف وۀ۔ څنګه چي د هغۀ په تقرير کښې تاثير وۀ ، دغه شان د هغۀ په تحرير کښې هم خوږلت ، سلاست او رواني محسوسېږي۔ د هغۀ د ليك غېر تصنع انداز او د زړۀ نه د راوتي خبرو سوچه ادبي اظهار د هغۀ د خودنوشت ښکاره خصوصيات دي او فطرتاً د هشتنغر په خاوره کښې د ژبې خوږلت ، روان او بهاند انداز اخلے شوے دے او ورسره د هشتنغر د اديبانو په ليك کښې ځاے په ځاے د متلونو پيوندکاري د ژبې نزاکت او خوږۀ يو په دوه کړي دي۔ د ژبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حواله د باچا خان يو ځانګړے انداز دے۔ د علامه اقبال خبره *بات جو دل سے نکلتی ہے اثر رکھتی ہے* او د زړهٔ د کومي نه د راوتې خبرو کښي نهٔ څهٔ کوټ او تصنع وي۔ دا خودنوشت د هر قسمه تصنع او رنګ امېزۍ نه پاکه ده۔ څنګه چې د باچا خان شخصيت ايغ نېغ او بې باکه وهٔ ، دغه شان ئې په ليك کښي هم ريښتين توب ، صفايي او بې باکي ليدے شي۔ د باچا خان د بې باکۍ دا انداز وګورئ ؛

> کانګرس خو د پېرنګيانو سره د شپېتو کالو راسې د ازادۍ اخستلو د پاره په جدوجهد لګيا وهٔ ، خو انګرېزانو ورته پوره ازادي څهٔ چې نيمګړې ازادي هم نهٔ ورکوله مګر کله چې پښتانهٔ ورسره په دغه جنګ کښي ملګري شول او پښتنو په قيصه خوانۍ، ټکر، اتمانزو ، کوهاټ، هاتي خېلو او ميروس کښي قربانۍ ورکړې او دغه شان زمونږ د قبائلي علاقې غېرتي پښتنو دې پښتنو سره د هندوستان د ازادۍ په لاره کښي غزاګاني وکړې۔ د انګرېزانو توپونو او ټېنکونو ته ئې خپلې سينې ډال کړې او د دوي مخې ته لکه د غر ودرېدو نو

باچاخان عهد ساز شخصيت

> انګرېزانو هله د هندوستان ازادۍ ته غاړه کېښوده۔

د باچا خان د ژوند قيصه د سياسي غرزو پرزو نه ډکه ده۔ څکه د هغوي د خودنوشت په هره جمله کښې يو جوش او ولوله محسوسېږي او دغه د ولولې د احساس قيصې چې څوك هم لولي نو په مړو زړونو کښي به هم يوه نوې ولوله ، جوش او متحرك احساس پيدا کېږي۔

په دې خود نوشت کښي د هغه ازغنو لارو قيصې هم چيړلې شوي دي چې په هغې د تګ نه پس قام ارومرو د رفعتونو بام سر کولے شي۔ دا خود نوشت د باچا خان د خپل قام سره د مينې اخلاص همدردۍ او د عشق داسې داستان دے چې شروع ئې د پښتنو د سر لوړۍ نه کېږي او اختتام ئې ـــ نه رښتيا ..... د پښتنو سره د مينې په دې قيصې کښي د اختتام ټکے هډو د سره ليکلے شوے نهٔ دے ۔ د باچا خان محبوبا پښتون قام به هم دغسې د سرلوړۍ ژوند تېروي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library